RAHMANI
LIBRARY
رحمـــاني کتابتون

# ساينسي هڅې
# او
# قـــرآني حقايـق

ليکوال
سليم همت أړيوبي



# ساینسي هڅې او قرآني حقایق

# Scientific Efforts & Quranic Facts


لیکوال:

**سلیم همت اریوبي**


|


۱۴۰۴ هـ ش /2025م

## د کتاب ځانګړتیاوې

**د کتاب نوم:** ساینسي هڅې او قرآني حقایق

Scientific Efforts & Quranic Facts

**لیکوال:** سلیم همت اریوبي

**ډیزاین:** عبدالهادي اثر

**چاپوار:** لومړی

**چاپشمېر:** (۵۰۰) ټوکه

**چاپکال:** ۱۴۰۴هـ ش / 2025م



**د چاپ حقوق له لیکوال سره خوندي دي!**

پیسي خو هسې یو رواج دی د ثواب پکې څه نشته
زما په جنازه کې دې تقسیم شي کتابونه

بسم الله الرحمن الرحیم

# رحماني کتابتون

## د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 یادونه : په ټلیګرام کې رحماني کتابتون په سرچ سره هم پیدا کولای شئ که ئې په انګلسي سرچ کړئ یا هم پښتو ملګرو .!

**Rahmani library**

**رحماني کتابتون**



## ډالۍ؛

**هغې ته چې جنت يې تر پښو لاندې کړ، تر څو ما په غېږ کې
واخلي (ادکه).
هغه ته چې تر پښو لاندې يې جنت نشته؛ خو زما د لارې اورونه يې
تر پښو لاندې کړل (بابک).**

# تقریظ

د ډېرې خوښــۍ او ویاړ ځای دی چې د « ســاینسي ـ هڅې او قراني حقایق » کتاب له پاره دا تقریظ لیکم، یو ارزښتناک او فکر - هڅوونکی اثر چې د یو ځوان، بااستعداده، د ښه فکر او لید لرونکي لیکوال، سلیم همت (اریوبي)، لخوا لیکل شوی دی. سره له دې چې سلیم د دولسم ټولګي زده‌کوونکی دی، خو د هغه فکري پوخوالی او علمي وړتیا له خپل عمر څخه ډېره لوړه ده. دی د خپلو دوامداره هڅو په پایله کې تل د زده کړو په ډګر کې ځلېدلی دی او ډېرې لاســته راوړنې لري، ځکه هغه تل د ټولګي د لومړي مقام ګټونکی دی.

دا کتاب چې ســتاســو په لاســونو کې دی، « ســاینسي ـ هڅې او قراني حقایق » د الهي وحي او علمي موندنو تر منځ هغه ژوره رابطه څېړي چې د بشري پوهې بنسټ جوړوي. سلیم د دې کتاب له لارې د ایمان او عقـل تر منځ پُـل جوړ کړی دی، او اســلام یې د علمي څېړنې د مخنیوي پر ځای د هغې د الهام سرچینه معرفي کړې ده. د ۱۴۰ څخه زیاتو علمي ماخذونو کارونه د ده د څېړنیز اخلاص، اصــالت، دقت، او اکاډمیکې امانتدارۍ څرګندونه کوي، هغه ځانګړنې چې آن ډېرو مسلکي څېړونکو کې هم لږې لیدل کېږي.

لیکوال هڅه کړې چې د قران او ســاینس ترمنځ همغږي روښــانه کړي. مونږ په دې پوهیږو او باور لرو چې قرآن کریم د علم، تفکر، او څېړنې

الهي منشـور دی، چې د انسـان ذهن د کائناتو د اسرارو د درک او پوهې لور ته رهبري کوي. الله تعالی د علم مقام لوړ کړی او د علم غوښـتنه یې د عبادت یوه ښه گرځولې ده، لکه څنگه چې فرمايي: وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا (ووا یه اې پیغمبره: زما ربه! زما په علم کې زیاتوالی راوله) (طه: ۱۱۴). قرآن کریم انسان هڅوي چې د اسمانونو او ځمکې د جوړښت، د شپو او ورځو د بدلون، د اوبو د دوران، د انسان د پیدایښت په منشاء او پړاوونو، د کایناتو د پیدایښت په منشاء (بدأ الخلق)، او د کائناتو په وسعت او نظم فکر وکړي، څو د الهي قدرت نښې وپيژني. رب العالمین فرمايي: سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ (موږ به هغوی ته خپلې نښـې د اسـمان په څنډو (آفاقو) او د دوی په ځانونو کې وښیو) (فصـلت: ۵۳). قرآن کریم په پرله پسې توگه انسان ته د عقل او فکر د کارولو لارښوونه کوي، لکه: أَفَلَا يَعْقِلُونَ (آیا هغوی عقل نه کاروي؟) او أَفَلَا يَتَفَكَّرُونَ (آیا هغوی فکر نه کوي؟)، چې دا د علمي څېړنې او مشاهدې د اصولو بنسټ جوړوي. دغه الهي آیتونه څرگندوي چې اسـلام نه یوازې د ایمان دین دی، بلکې د علم، منطق، تجربو، او د طبیعي قوانینو د څېړنې دین هم دی، او د هر مسـلمان د ذهن او زړه د بیدارۍ الهام‌بښـونکی سرچینه گرځي. جالبه داده چې په دې علمي موضوعاتو پوهېدل چې ساینس یې نن په اثبات رسـوي، حال دا چې الهي کلام کې ورته څوارلس سـوه کاله پخوا اشاره شوې ده یا واضح شوي دي، ایماني قوت پیاوړی کوي او هر منطقي انسـان دې پایلې ته رسـیږي چې قران کریم الهي کلام دی او د شک له پاره هېڅ ځای نه پاتې کیږي. خوشبختانه، لیکوال د اثر د ترتیب پر مهال دا ټول ټکي په پام کې نیولي دي.

دغه اثر نه یوازې د محتوا د ژورتیا له مخې، بلکې د رښتینولی، وضاحت او روښــانه بیان له مخې هم بې ســاری دی. ســلیم د لیکنې په ترڅ کې لوســتونکي هڅوي چې د نړۍ د لید له مخې قرآن کریم او معاصر علم تر منځ همغږي وڅېړي، او د مســـلمانانو د هغو زرینو عالمانو یاد تازه کړي چې یو وخت یې د علم په رڼا نړۍ روښــانه کړې وه او اوس هم د نړۍ ډېرى پرمختګونه د هغوی د علمي میراث پر بنسټ ترسره کیږي.

په داســې زمانه کې چې ډېرى ځوانان له فکري او معنوي هڅو څخه په شعوري یا غیر شعوري ډول لرې ساتل کیږي، سلیم د هیلې او الهام یو ځلانده مشـال دی. د علم سره مینه، منظم فکر، او د حق د موندلو ژمنتیا یې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د پیروي وړ بېلګه ده. دا کتاب یوازې د ده د شخصي وړتیا انعکاس نه دی، بلکې د ا سلام او معاصر علم تر منځ د تلپاتې فکري بحث یوه ارزښتناکه برخه ده. زه د زړه له کومې سلیم ته د دې لویې او غوره لاسته راوړنې مبارکي وایم. هیله لرم چې دا کتاب به د ډېرو نورو زده‌کوونکو لپاره د الهام سرچینه شي، او هغوی به د علم د موندلو په لور د صــداقت، تجســس، او عقیدې په رڼا کې وهڅوي. زما هیله دا ده چې **ساینســــــې هڅې او قرآني حقایق** به پراخ لو ستونکي ولري او د هغو کسانو له پاره یوه ارزښتناکه سرچینه وګرځي چې غواړي **د اســـلام په رڼا کې د ایمان او عقل تر منځ اړیکه** په ژوره توګه درک کړي.


**پوهنمل عارف الله ضیاء**

**د ننګرهار پوهنتون ساینس پوهنځي بیولوژي ډیپارټمنټ استاد**

# تقریظ

د فکر په اسمان کې ځینې کتابونه د ستورو په څېر ځلیږي( یو ځل نه، بلکې د نسلونو په ذهنونو کې د تل لپاره رڼا پرېږدي). «ساینسي هڅې او قراني حقایق» د همدې رڼا یوه ډېره بارزه شغله ده ، د دې ترځنګ دا هغه اثر دی چې د عقل د مشــعل او د وحې د څراغ تر منځ د اړیکې یواځینې پل جوړوي، د ایمان د ژورتیا او د علم د لټون تر منځ توازن بیانوي، او د انسان ذهن ته دا پیغام رسوي چې حقیقت نه د تلسکوپ په ښــیښــه کې بند دی او نه د محراب په ګوټ کې، بلکې حقیقت د دواړو ترمنځ دی یوه واقع پدیده ده.
د دې اثر لیکوال د علم د یوې سترې جغرافیې مسافر دی، خو دا سفر یې له خالق تعالی څخه پیل کړی او بېرته هم هماغه لور ته ســتنیږي. هغه د علم لاســته راوړنه یوازې یو فزیکي عمل نه، بلکې یو روحاني سفر بولي؛ دی وایي چې دا یو داسې سفر دی چې انسان د جهل له تیارو څخه د عرفان تر سپېدو رسوي.
یاد اثر د یو فکري، علمي او تحقیقي اثر په توګه د معاصرې نړۍ د هغو پوښتنو ځواب دی، چې له پېړیو راهیسې د انسانانو په ذهنونو کې ګرځي: ایا دین او ســاینس یو له بله سره جلا دي؟ ایا د وحې او تجربې تر منځ تضــاد شــته او که نه، دا دواړه د حقیقت د یوې سرچینې دوه مختلفې رڼاګانې دي؟

دا اثر د ځوان قشـــر له قطاره د يوه هوښيار او اگاه ځوان ښاغلي سليم همت (اريوبي) د ژور فکر، پوهې، ايماني درک او فلســـفي تأمل يو رښتينی انځور دی. په دې اثر کې د «قران» او «ساينس» ترمنځ د تضاد نه، بلکې د تفاهم خبره شوې ده.

کتاب د يوې عالمانه مقدمې او څو تفصيلي څپرکيو په بڼه ترتيب شوی دی. په لومړيو برخو کې ليکوال د علم د ارزښـــت په اړه له قرآني لارښـــوونو پيل کړی. هغه څرگندوي چې اســـلام د علم لاســـته راوړل يوازې يو فضـــيلت نه، بلکې يو الهي فريضـــه گڼي. دا ټکی د کتاب د فکري نخاع په توگه بيا بيا تکرارېږي، او د اســـلام د معرفت غوښـــتنې روحيه د ســـاينس د تجربې او تحقيقي طبعيت سره يو ځای معرفي کوي.

ليکوال په ډېر راڼه ډول څرگندوي چې اســلام انســان ته د فکر، تدبر او تجربې دعوت ورکوي، او ســاينس هم د همدې فکر نتيجه ده. يعنې په ټوله کې دواړه د حقيقت موندلو هڅې دي، چې سرچينې يې داســـې ترتيب شـــوي دي چې يوه ډله يې دغه حقيقت د وحې د الهام له لارې روښـانه کوي او بله ډله يې له مشـاهدې او تجربې سره يوځای روښـانه کوي.

د کتاب يو مهم څپرکی د «قرآن او ساينس» تر سرليک لاندې دی، چې پکې د قرآن د علمي اعجاز موضوع له بېلابېلو اړخونو څېړل شوې ده. ليکوال څرگندوي چې د قرآن کريم ډېری آيتونه د طبيعت د قوانينو، د فضا د جوړښت، د انسان د خلقت، د اوبو، رڼا او حرکت د نظام يادونه کوي، دا يوه داسې څرگندونه ده چې ساينس يې په اثبات رسولو کې

څوارلس نیمې پېړۍ وروســـته وتوانېد او د غه ټولې شـــوې خبرې یې یوځل بیا د تجربو له لارې څرگندې کړې.

هغه د امام غزالي، رازي، ابن تیمیه، شاه ولي الله دهلوي او نورو اسلامي مفکرانو له اقوالو گټه اخلي ترڅو دا ثابته کړي چې قرآن د ټولو علومو د الهام سرچینه ده. د علم په هره څانگه کې، له فزیک تر بیولوژي او له فلکیاتو تر طب پورې، قرآن کریم هغه فکري نښې او لارې انسان ته په واک کې ورکړې چې د څېړنې او کشـــف په لاره کې ورته د پرمختگ لاره هواروي.

د لیکوال د استدلال له مخې، قرآن د ساینس بدیل نه دی، بلکې الهامي الهام یې دی. وحې د حقیقت د رو حاني اړخ څرگندو نه کوي، او ســـاینس د هغه مادي اړخ روښـــانه کوي. له همدې امله، د وحې او ســاینس ترمنځ تضــاد نه، بلکې همغږي شــته؛ ځکه دواړه د یو خالق له خوا رامنځته شوي دي(یو د خالق قول دی او بل د هغه فعل).

لیکوال په ډېره ښـکلا د قرآن د هغو آیتونو علمي اړخ روښـانه کړی، چې د فضـــا، ځمکې او انســـان د وجود له اسرارو سره تړاو لري. د بېلگې په توگه، د کایناتو د پراختیا یادونه («وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ») هغه حقیقت څرگندوي چې ساینس د "Big Bang" د تیورۍ له لارې وروسته تایید کړ.

همدا ډول د انســـان د جنیني جوړښـــت د مرحلو تشرــیح، چې قرآن له نطفې تر مضـغې پورې په څو پړاوونو کې بیان کړې، د عصرـي طب یو علمي حقیقت ثابت شـوی دی. د مارشـل جانســن او نورو جنین‌پوهانو څېړنو دا ثابته کړې چې قرآني بیان د علمي مشاهدې له دقیقو حقیقتونو سره بشپړ مطابقت لري.

ليکوال د فلکياتو له زاويې هم د قرآن د آيتونو اعجاز روښـــانه کړی. د لمر، سپوږمۍ او ځمکې تر منځ فاصله، د موسمي توازن، د اکسيجن د کچې، د ځمکې د ګرځېدو د زاويې او د مشتري د سيارې د ساتونکي رول يادونه د کايناتو د الهي نظم يوه حيرانوونکې نښه ده. دا ټول شواهد دا ثابتوي چې دا نظام تصادفي نه دی، بلکې د يو واحد خالق د حکمت او قدرت يوه منظمه طرحه ده.

د دې کتاب يو ستر فکري پيغام دا دی چې د دين او علم ترمنځ د تضاد مفکوره يوازې د تاريخي ناپوهۍ محصول ده، نور د بېلوالي کومه کرښه دلته نه ځايږي او نه هم د منلو وړ ده. ليکوال دا څرګندوي چې په اســلامي تمدن کې د ســاينس ريښــې د ايمان له زړه راټوکېدلې وې. د عباسيانو په زرين عصــــر کې، مسلمانانو عالمانو، لکه: ابن الهيثم، جابر بن حيان، خوارزمي، او ابن سينا د قرآن د تفکر له الهامه علمي انقلابونه رامنځته کړل او په نړيواله کچه يې د علمي لاســته راوړنو د لمر څرک څرګند کړ.

اســلام هيڅکله علم محدود نه ګڼي، بلکې د علم په هره برخه کې د الهي قدرت نښــېويني. د علم غوښــتنه، د څېړنې هڅه او د حقيقت لټون د عبادت يوه برخه ده. دا هغه پيغام دی چې دا کتاب يې د معاصرې نړۍ انسان ته رسوي (انسان بايد د علم په مټ د خالق معرفت ته ورسي، نه دا چې له هغه لرې شي).

په ادبي لحاظ دا اثر يو ښــکلی او له معنوي ژورتيا ډک نثر لري. د بيان طرز يې نه تعصــب لري او نه هم خشــکه علمي ژبه؛ بلکې يو متوازن اسلوب دی چې د ايمان روښنالی او علم منطق سره داسې يوځای کوي

چې د لوســتلو پر وخت يې هېڅ د ســتړيا او مبهم توب نښــې نه ليدل کېږي. د دې اثر جملې د جوړښـــت له مخې لنډې، خو د معنوي قوت له مخې ډېرې اوږدې او درنې دي، هېڅ فکر نه کېږي چې يو له عمره خام او تنکی ځوان دې د دومره درنې او حســاســې موضــوع ارايه په دومره ښکلې، روانې او ساده ژبه وکړي چې لو ستونکي دې ورسه کله هم ستړي نشي.

په دې اثر کې قرآني ايتونه د اصلي متن روح جوړوي، خو د ساينســـي مفاهيمو کارونه يې هم د دقت او وضــاحت سره يو ځای شــوې ده. دا ډول اســلوب دا اثر د يو علمي بيان او يو روحاني تامل تر منځ يو پل گرځوي. د ليکوال استدلالي اسلوب لوستونکي ته دا احساس ورکوي چې هر دليل له يوې عقلاني تجربې او يوې الهام سرچينې راټوکېدلی دی.

په يوه دا سې زمانه کې چې د ماديت، شک‌پالنې او بې‌اعتقادۍ څپې د انســاني ذهنونو حدود ماتوي، دا اثر يو فکري پناه ځای دی. دا کتاب لوســتونکي ته دا درک ورکوي چې د علمي پرمختګ تر شــا يو الهي مقصــد پروت دی، او انســان د همدې الهي نظام د پېژندنې لپاره پيدا شوی.

دا اثر د مسلمان ځوان لپاره ديوې فکري زېرمې په څېر دی، چې غواړي د ساينس د لاسته راوړنو او د دين د اصـولو تر منځ توازن وسـاتي. دا کتاب د هغو لپاره يو عملي دليل وړاندې کوي، چې غواړي د علم په رڼا کې د خالق معرفت ته ورسي، نه دا چې له هغه لرې شي.

په ټوله کې، «ساينسي هڅې او قراني حقايق» د ايمان، عقل، فلسفې او

علم تر منځ د همغږۍ یوه روښـــانه نغمه ده. دا کتاب نه یوازې د یو فکري بحث مجموعه ده، بلکې یو دعوت دی (د تفکر، تدبر، او د حقیقت د لټون دعوت).

په دې عصر کې چې د شک، مادیت او نفسي غوښتنو طوفان د انسان ایمان زیانمن کړی، دا اثر د یو فکري پناه ځای بڼه لري. دا انســان ته دا درک ورکوي چې ساینس یوازې وسیله ده، هدف نه؛ او د هرې تجربې تر شا یو الهي مقصد پروت دی.

لیکوال د وحې د روښـانتیا او د علم د منطق په ژبه دا پیغام ورکوي چې اســلام د ســاینس مخالف نه، بلکې الهام ورکوونکی دی. د قرآن هر آیت د څېړنې یوه کړکۍ ده، او د هرې ذرې د حرکت تر شـا د یو ذات د قدرت نښه شتون لري.

**درنښت**

**ضیاالرحمن (نیازی)**

# د پیل خبرې

**هڅه او مسؤلیت**

یوه ورځ، هغه وخت چې زه کابو دیارلس کلن وم، له یوه بهرني نامسلمان شخص سره مې لیدنه وشوه.

زه لا په کوچنیو کې حسابېدم، خو عمر ته په کتو مې انګلیسي پخه وه.

دی مې د خبرو له لارې ډېر حیران کړ؛ خو د هغې حیرانتیا له کچې ډېره کمه، چې ده یې په بدل کې راکړه.

لید نه مو یو څه وغځېده، تر دې چې یو ځای مو د غرمې ډوډۍ هم وخوړه.

ما خپل خوراک د عادت سره سم د دعا پر لوستلو بس کړ.

ده په متحیر انداز راولیدل او ویې ویل: «عربي دې هم زده ده؟»

ما وویل: «نه!»

بیا یې وپوښتل: «کوم څه دې چې اوس ولوستل، په دې خو به پوهېږې؟»

له لږې شېبې چوپتیا وروسته مې وویل: «نه، نه پوهېږم!»

خوړلو ته چمتو مړۍ یې په ګوتو کې لږه تم کړه او په سوچ کې چېرې ولاړ.

ما هم ډوډۍ خوړله او هم مې د سترګو په کونجونو کې ده ته لیدل.

ناڅاپه یې وپوښتلم: «او د قرآنکریم ژباړه څنګه؟»

ددې پوښتنې کیفیت نو د هغه حالت څخه ډېر کم نه وو، چې کله په یو مجرم خپل جرم ثابت شي.
شرم خو مې ژبه پخوا درنه کړې وه، خو دې پوښـــتنې بیا په ټپه ودروله.
دی موســک شــو، خو مســکا یې لنډنۍ وه؛ ډېر ژر پر یو ډول جدیت تعویض شوه او راته یې کړل:
«زه مســـلمان نــه یم، خو د قرآن ژبـاړه مې څـه نـاڅـه زده ده.»
دې پسې متصل یې راته د دعا مانا هم وکړه.
زه لا هم نه پوهېږم، چې هغه وخت زه حیران ډېر وم که خجالت؛ لیکن د نیچـه د خبرې پـه یـاد سره مې د خجـالتۍ ګراف صـــعود وکړ.
نیچه به ویل: «له هغه چا مه ډارېږئ چې ډېر کتابونه لري او لولي یې؛ بلکې له هغه چا وډار شــئ، چې یو کتاب لري او هغه مقدس ګڼي، خو په خپله یې سر پرې نه وي خلاص شوی.»
که دا یو پېغور هم وبولو، زما لپاره یې توپیر نه کاوه. د مجادلې او استدلال هیڅ نه وو پاتې؛ زه باید حقیقت ته راستون شوی وای، او پرته له شکه، همدا حقیقت وو.
اصـــلاً همدا پېغور وو، چې زه یې د یو قوي هوډ بنســـټ ته اړ کړم.
هغه هوډ، چې له مخې یې ما د هغه کتاب د فهم حاصـــلولو تکل وکړ، چې په ملیونونو انسانان یې تقدس ته معترف دي، اما ډېره کمه سلنه یې د پوهې ملکیت لري.
وخت تېر بده، یوه ورځ مې د یوې مدرســـې در وټکاوه، داخله مې واخېسته او ډېر ژر مې پرمختګ وکړ.

په ياد مې دي، څلور ويشتمه سپاره مې لوسته، چې يوې پخوانۍ مسئلې په استفهاميزه بڼه سر راپورته کړ.
دا سې چې له ما شومتوبه به مو اورېدل، چې د ساينس ډېری ا صول او موندنې له قرآنکريم څخه را اخيستل شوي دي؛ خو دا ادعا تل له توضيح پرته پاتې وه.
نه دا ويل کېدل، چې ساينس پوهانو دا حقايق له کومو ايتونو را ايستلي، نه دا چې څرنګوالی يې څه و، او نه هم څوک وو، چې دا خبره له دليل سره بيان کړي.
همداسې، د خلکو په خبرو کې به راڅرګنده او بېرته به ورکه شوه.
اوس، زما لپاره نوې پوښتنه دا وه، چې:
که دا رښتيا وي، چې ساينس له قرآني موندنو او لارښوونه ډک دی، نو ولې دا حقايق زه نه وينم؟ سره له دې، چې په ژباړه يې پوه شوم، بيا هم داسې څه راته نه بريښي.
هغه وخت او هماغه ځای، په دې پوښتنې د پوهېدو لپاره زما سترګې يواځې مولوي صاحب ته اوښتې؛ خو ډېر ژر به ځکه بېرته واوښتې، چې د داسې مسايلو په باب به د ده غبرګون را ياد شو.
ښايي حقيقت همدا وو، چې د ده له غبرګون زما اندېښنه ډېره ژوره وه.
زړه مې صبر نه شو، يوه ورځ يې خواته ورغلم او ترې ومې پوښتل.
مولوي صاحب بيخي په لنډه توګه راته وويل:
«په دې ډول موضوعاتو هغه څوک پوهېږي، چې د دين لسمه درجه يې لوستې وي.»
زړه کې مې وويل، چې اوس به داسې سته له کومه پيدا کړې.

بیا مې فکر وکړ، چې راځه دا هم ترې وپوښته.
ما ورته کړل: «ایا په افغانستان یا جلال اباد کې داسې څوک لرو؟»
ډېر په ډاډه انداز یې وویل: «هو، ولې نشته! پرېمانه عالمان دي.»
څه خبر، چې ژبه راڅخه پردۍ شــوه که څنګه، چې بې اختیاره مې له خولې دا پوښتنه ووته:
«نو بیا دا ساینس پوهان ولې نه لرو؟»
ده داسې راولیدل، چې زه باید په خپله پوښتنه پښېمانه شوی وای.
ما هم فکر وکړ، چې یاره، حدود خو دې مات کړل، اوس یو مننه وکړه او ځه له ځایه.
له یوټیوب څخه په مننه، چې لوبه بدلوونکی (Game-Changing) رول یې ولوباوه، کوم څه پسې ګرځېدم، چې سترګې مې د هندي مبلغ ډاکټر ذاکر نایک پر مناظرې ولګېدې.
په ټایټل کې یې لیکلي ول:
Zakir Naik's Debate With an Atheist
دا هغه وخت وو، چې زما لېوالتیا د داســـې مســـایلو په باب تازه راپیدا شوې وه.
ختمو ته اوبه هله ور زیاتې شوې، چې ذاکر نایک ملحد ته په خبرو کې د هغو مسایلو اشاره وکړه، چې قرآنکریم په ساده ژبه بیان کړي، لکه: لویه چاودنه، د کائناتو وسعت، جنین پوهنه، جنیټیک او نور.
ملحد وپوښتل: «قرآن ولې د جاذبې (Gravity) او نورو علومو په هکله نه دی غږېدلی؟»

ښاغلي نایک دلته یوې کلیدي او اساسي مسئلې ته اشاره وکړه او ویې ویل:

«قرآن خو د Science کتاب نه دی، بلکې د Signs، یعنې د نښو (ایتونو) کتاب دی.»

په هماغه ورځ پوه شوم، چې قرآن د ساینسـي حقایقو په بیان کې یو جلا او ځانګړی اسلوب لري

لـه همـدې ادرسـه مې د نوموړي کتـاب *Qur'an and Modern Science: Compatible or Incompatible* پیدا کړ.

د جلال اباد په درسـتو کتابتونونو کې، په دې هیله او تکل وګرځېدم، چې ښایي داسې کوم کتاب په پښتو یا دري هم پیدا کړم.

لیکن له بده مرغه، پیدا مې نه کړ.

خواشینی شوم، ستړی شوم، او د یو سوړ اسویلي سره مې افسوس هم وکړ.

نېکمرغي دا وه، چې د افسوس په جال کې راګیر نشوم؛ ډېر ژر مې پام شو، چې افسوس هیڅ ونه کړل، نه خواشیني ختمه شوه، نه ستړیا، او نه کتاب پیدا شو.

پکار دا وه، چې دوه کاره مې نور کړي وای- څه شی؟ دا خپل مسؤلیت منل او هڅه.

نو څه چې تاسې اوس لولئ، دا د هماغه افسوس بدیل دی.

**مننه!**

په دې سـفر کې له ټولو هغو درنو څخه مننه په ځان حق بولم چې د دې سفر هره ننګونه یې خپله بللې، په لوړو کې یې لار راښوولې او په

ژورو کې یې ډاډ راکړئ.
محترم، ارجمند، استاد ضیاء الرحمن نیازی؛ رب دې یې منزلونه د هدایت له رڼا ډک لري، هغه شخصیت چې زما د هڅو هر پړاو ته یې د هر ډول ملاتړ سیوری غوړولی و.
اســتاد کریم الله صــمدیار، د تفکر او ارشــاد درنه څهره؛ مشــورو او لارښوونو یې زما د قلم توازن وساته.
د ښوونې، د نړۍ سمبول، استاد توحید الله لحاظ؛ چې د کتاب د چاپ تنده یې تر ما هم ژوره وه، له دې مقامه یې د زړه له کومې مننه کوم.
د علم په لاره کې راسخ شخصیت، پوهنمل استاد عارف ضیا ته د ستر او سوکاله ژوند غوښتونکی یم؛ الفاظو یې زما د هڅو ارزښت څو برابره کړ.
سرتاج شــاهین شــینواری؛ هغه څوک چې وخت د ژوند ســتره پانګه ګڼي، خو زما د ستونزو پر مهال یې د دغې پانګې برخه له ما نه سپموله، خدای دې یې د حفظ او امان په څادر کې همېشه لري.
د ولس خادم، د معرفت او دیانت انځور، ډاکټر محمد شریف خادم ځاځی، په دې ســفر کې یې همکاري پوره د پام وړ وه، الله ج دې په ژوند او اخرت کې راشد او سرلوړی لري.
که دا اثر یا خپل ځان په ســمندر کې روانه کښــتۍ وبولم، نو بې شــکه ښوونکي مې قطب‌نما دي، کورنۍ او دعاوو یې د بادبان په څېر زما یون روان ساتلی، او ملګرو او خپلوانو د ساحل په شان ډاډ راکړی.

**هیله!**

که څه هم هڅه شوې چې محتوا معقوله، موزونه، او پر اصولو ولاړه وي، خو د انساني طبعیت له کمزورۍ به خالي نه وي، د درنو لوستونکو له بصیرته تمه لرم چې دا اثر د ژور هدف او فکري تسلسل له مخې وارزوي. زه مو د نېکو مشورو او عالمانه وړاندیزونو هرکلی کوم.

**پیغام، افغان ځوان ته!**

په یوه داسې زمانه کې چې له یوې خوا جهل د دیانت سپین څادر په ځان راغوړولی، او له بلې خوا بې‌لاري عقلمندي بلل کیږي د قران د ژور فهم اړتیا تر بل هر وخت زیاته شوې ده.

زه د یو داسې ځوان په حیث چې له "طالب العلم" پرته کومه بله اصطلاح به مې سم او مناسب تعریف ونشي کړای، او یو داسې څوک چې د روانو تروږمیو په غبور کې شتون لرم، افغان ځوانانو ته د یو څو کرښو په لیکلو یې د حق یوه برخه اداء کوم، او خپل اخلاقي او وجداني مسوولیت سرته رسوم.

قرآن د رڼا (نور) کتاب دی، لکه څنګه چې پر همدې نوم یاد شوی هم دی.

لېکن، دا رڼا هغه وخت ځلیږي چې د عقل سترګې پرې بیدارې وي؛ نو تل مو باید یاد وي چې د قرآن د لوست پر وخت د عقل سترګې څوک را پټې نه کړي.

له تاریخه یې زده کړو، خو د حال تر پښو لاندې ځان ونه بایلو.

زمونږ د نن زمانه، د پخوا له جنګونو زیات فکر غواړي.

او په پای کې باید ووایم چې:
دا تورې شپې له ټولو څراغونه غواړي.

**د يوه سوكاله، ښېرازه او غني افغانستان په هيله**

**سليم همت (اريوبي)**

**جلال آباد - افغانستان**

# لیکلړ

تقریظ ..........................................................................الف

تقریظ .............................. ..............................................د

د پیل خبرې ...................................... .............................ی

سریزه ........................................ ...................................۲

## لومړی څپرکی

## د اسلام او ساینس په اړه یو څو اړین یادښتونه

سریزه ........................................ ...................................۷

الف: اسلام ................................... ...............................۹

ب: ساینس ................................... .................................۹

۲- د اسلام او ساینس ترمنځ توپیر لرونکی لیدلوری ....................۱۰

۳- د شکمنو دریځ ........................................................ ۱۱

## دویم څپرکی

## قرآن او ساینس

پیلیزه ........................................................ ۱۴
قرآن کریم د ټولو علومو سرچینه ده ........................................ ۱٦
د قرآن او ساینس اړیکه ........................................................ ۲۰
ایا په دې پوهېږئ چې ولې قرآن له ساینس او ساینس له قرآن ...... ۲۱
قرآن؛ او ساینس ته هڅونه ........................................................ ۲۴
ولې ساینس په قرآن کې ........................................................ ۲۷
د قرآن چلینج ........................................................ ۳۴
قرآني او ساینسي اسلوب ........................................................ ۳٦

## درېیم څپرکی

## قرآن او د فلکیاتو پوهنه

کاینات څنګه مینځته راغلل؟ ........................................................ ۳۹
لویه چاودنه ........................................................ ۳۹
ژبنیز تحلیل ........................................................ ۴۴
د کایناتو اصل ........................................................ ۴۵
کاینات پراخېږي ........................................................ ۴۹
د فضا متحرک طبیعت او جاذبي څپې ........................................ ۵۳
د جاذبي څپو څرنګوالی ........................................................ ۵۷

## څلورم څپرکی

## قرآن او ستورپوهنه

نبضاني ستوري ........................................................ ۶۴
د پلسر درک ........................................................ ۶۸
د ستورو مړینه او تور سوري ........................................................ ۶۹
د لمر حرکت ........................................................ ۷۶

## پنځم څپرکی

## قرآن او ځمکپوهنه

د ځمکې اتموسفیر ........................................................ ۸۲
قرآن او آسمان ........................................................ ۸۳
الف: د اسماني تيږو (میتیورایډونو) پر وړاندې ساتنه ................ ۸۴
ب: د فضا له سختې يخنۍ څخه ساتنه ........................................ ۸۶
ج: د ماورا بنفش (Ultraviolet) وړانگو پر وړاندې ساتنه ........... ۸۶
اسمان او بېرته راگرځونه ........................................................ ۹۰
۱. تروپوسفير (Troposphere) ........................................ ۹۰
۲. ايونوسفير (Ionosphere) ........................................ ۹۱
فضا؛ يو بې سارى چتر ........................................................ ۹۱
د ځمکې بڼه ........................................................ ۹۲
۲. د افق هاخوا د شیانو پناه کېدل ........................................ ۹۵
۳. د لمر او سپوږمۍ څرنگوالی ........................................ ۹۶

۴. جاذبه ........................................................ ۹۷
د قرآن کریم په رڼا کې د ځمکې بڼه ........................ ۹۹
د غرونو جیولوجیکي فعالیت ........................................ ۱۰۴
ځمکې ته د اوسپنې نزول ........................................ ۱۱۲
ښیرېدونکې ځمکه ................................................ ۱۱۸
د ځمکې تر ټولو ټیټه برخه ...................................... ۱۲۲
د اوومې میلادي پېړۍ ستر قوتونه ............................ ۱۲۲
د ځمکې ټیټه برخه .............................................. ۱۲۵
د اوبو دوران؛ هایدرولوجي ...................................... ۱۲۸
۱. مرحله: تبخیر ................................................ ۱۲۸
۲. د ورېځو جوړښت .............................................. ۱۲۸
۳. کوچنۍ ورېځې یوځای کېږي، لویې ورېځې جوړوي، .......... ۱۳۱
۴. د اوبو ذخیره ................................................ ۱۳۲
پایله ............................................................ ۱۳۳

## شپږم څپرکی

## (سمندر پوهنه)

### دوه بېلابېل سمندرونه سره ولې نه یو ځای کېږي؟

ژبنیز تحلیل .................................................. ۱۳۶
الف: اجاج ................................................... ۱۴۰
ب: حجر ...................................................... ۱۴۰

ج: مرج ............................................................... ۱۴۰
سمندریز تورتم او داخلي څپې یې ........................................ ۱۴۱
الف: سطحي سمندر (Sunlit Zone) ........................................ ۱۴۱
ب: ژور سمندر ............................................................... ۱۴۱
۲. داخلي څپې (Internal Waves) ......................................... ۱۴۲
۳. څومره چې سمندر ژوریږي، هومره یې تیاره هم زیاتیږي ....... ۱۴۲
سمندري تیارې ............................................................... ۱۴۴
- یو پر بل پرتې د تیارو طبقې ............................................ ۱۴۴
سمندریزې څپې ............................................................... ۱۴۵
د داخلي څپو د جوړښت لاملونه ............................................ ۱۴۶
۱. د مالگینتوب یا حرارت درجې توپیر ..................................... ۱۴۶
۲. د جذر او مد اغېز ........................................................... ۱۴۷
۳. د بحر جریانونو سره ټکر ................................................. ۱۴۷
په ځمکه کې د وچې او اوبو سلنه ........................................... ۱۴۷
د قرآن کریم ریاضیکي اعجاز .............................................. ۱۴۷
د الفاظو توازن ............................................................... ۱۴۸
د الفاظو تناسب ............................................................... ۱۵۰

## اووم څپرکی

## قرآن او بیولوژي

## د ژوند اصل


۱. اوبه په انسانانو کې ........................................ ۱۵۶

۲. اوبه په ژوو (حیواناتو) کې ........................................ ۱۵۶

۳. اوبه په نباتاتو کې ........................................ ۱۵۶

۴. اوبه په حشراتو کې ........................................ ۱۵۷

۵. اوبه په کبانو/ ماهیانو کې ........................................ ۱۵۷

۶. اوبه په نورو سمندري ژوو کې ........................................ ۱۵۷

د ماشوم د جنسیت ټاکنې مسؤول ........................................ ۱۵۷

(جنټیکس / Genetics) ........................................ ۱۵۷

جنټیک پوهنه ........................................ ۱۵۸

له اسلام وړاندې د جهالت شومه دوره او حقارت ........................................ ۱۵۹

د ماشوم جنسیت یوه الهي ټاکنه خو د پلار په واسطه نه د مور .... ۱۶۰

ساینس پرې څه وایي؟ ........................................ ۱۶۱

قرآن کریم او د نباتاتو جنټیک ........................................ ۱۶۲

قرآن او فرعوني تمدن؛ د شکمو دریځ ........................................ ۱۶۳

انسان له څه شي جوړ دی؟ ........................................ ۱۶۴

خاوره، اوبه او که نطفه؟ ........................................ ۱۶۴

د انسان تخلیق له خاورې ........................................ ۱۶۵

۱. گراهم کیرنز – سمیت (G.C Smith) د خاورې نظریه .......... ۱۶۹
۲. هارورډ پوهنتون، د جک سزوستاک پایله .......................... ۱۶۹
له چانې شوې برخې څخه مانا څه؟ ........................................ ۱۷۰

## اتم څپرکی

## قرآن او فزیولوژي

## د اکبر دماغ (مخکیني قشر) دنده

هو؛ معاصر ساینس یې تاییدوي ........................................ ۱۷۹
۱. د درواغو هنر ............................................................... ۱۷۹
۲. د درواغو موندنه ........................................................... ۱۷۹
۳. څنګه درواغ ووایو، د مغزو د اخلاقي مرکز کشف ................ ۱۸۰
۴. درواغجن دماغ دروغ ویل طبیعي کوي ............................... ۱۸۱
۵. د کاذبو وګړو د دماغو غیر عادي جوړښت ته لومړنۍ ............ ۱۸۲
د شیخ عبدالمجید الزنداني تأثر ............................................ ۱۸۴
د درد احساس (دردي اخذې) ............................................... ۱۸۷
د پوستکي جوړښت ............................................................ ۱۸۸
۱. ایپډرمیس ..................................................................... ۱۸۸
۲. ډرمیس ......................................................................... ۱۸۹
۳. هایپوډرمیس .................................................................. ۱۸۹
د پوستکي مهمه دنده؛ احساس ............................................. ۱۸۹
ژبنیز تحلیل ..................................................................... ۱۹۲

د گوتې نښان (يو بې ساری هويت) ........................................ ۱۹۴
د شيدو جوړښت ................................................... ۱۹۹

## نهم څپرکی

## قرآن او جنين پوهنه

لنډه تاريخي مخينه ................................................ ۲۰۴
۲. ارسطو (Aristotle) ............................................... ۲۰۵
۳. کلودويوس ګالن (Claudius Gallen) ............................. ۲۰۵
۴. تلمود (Talmud) .................................................. ۲۰۶
پروفيسور کيت ايل مور په ساينسي نړۍ کې يوه وتلې او ............ ۲۰۹
قرآن کريم سره د تطابق څېړنې ..................................... ۲۱۱

## قرآني څرګندونې او ساينسي څېړنې

## (پرتله)

۱. د علقه ساينسي تفسير ............................................ ۲۱۶
الف: د وينې ټوټه ................................................. ۲۱۷
ب: علقه د ځوړند يا نښتي څيز په مانا ............................ ۲۱۸
ج: علقه د ليچ په مانا ............................................ ۲۱۸
خو ولې له ليچ يا ژورې سره تشبيه؟ .............................. ۲۱۹
۲. د جنين د ودې او جوړښت پرله پسې پړاوونه ..................... ۲۲۲
الف: د مضغې پړاو ................................................ ۲۲۲
ب: د هډوکو جوړېدل ............................................. ۲۲۵

ج: پر هډوکو د عضلاتو پوښ ........................ ۲۲۷
۳. د نطفې د وتلو لومړی ځای ........................ ۲۲۸
۴. د مور د رحم تیارې ........................ ۲۲۹
۵. د سماعت (اورېدو) او بصیرت لید حسونه ........................ ۲۳۰
۱. د اورېدو حس ........................ ۲۳۱
۲. د لیدو حس ........................ ۲۳۱

## لسم څپرکی

## قرآن او د حشراتو پوهنه

میاشی کوچنی موجود؛ خو بې مثاله مخلوق ........................ ۲۳۴
د شاتو مچۍ ........................ ۲۳۹
د مېږیانو نړۍ ........................ ۲۴۴

## یوولسم څپرکی

## قرآن او اتومي فزیک

اتوم (ذرة) یو نا اشنا جوړښت ........................ ۲۵۰
له ذرې د کوچني شي وجود ........................ ۲۵۵
پایله ........................ ۲۵۹
بریښنایي ویډیويي سرچینې ........................ ۲۶۳
اخځلیکونه ........................ ۲۶۷

# سریزه

# سريزه

نه دي ويل شــوي چې دين او دنيا بې اړيکې دي، نه هم دا ويل شــوي چې تاسې هر څه په يادو زده کړئ، بلکې ويل شوي چې تاسې لومړئ ولولئ (اقراء)! هو، د زده کړې لپاره لوست اړين دی.
رحمن ذات د خپل سپيڅلي کلام د نزول په لومړني لفظ سره پر لوستلو امر کړی دی. د همدې ارزښت سره سم لوستي انسانان د اعزاز، وقار او درناوي وړ ګڼل کيږي.
زه هم ستاسې مينه له مطالعې او حوصله د لوستنې له زړه ستايم.
په تاريخ کې د انســاني پوهې (ســاينس) او اســماني لارښــوونې (قران) ترمنځ دې پوښـــتنو تل مفکرين فکر ته هڅولي چې ايا د عقل او وحې لاره سره موازي ده؟ ايا ساينس يو څه وايي او وحې بل څه؟
او که نه، دا دواړه د يو واحد حقيقت دوې رڼاوې دي؟
دا اثر د همدغو پوښتنو ځواب ته يو فکري سفر دی.

قران یو بشـــپړ کتاب دی؛ نو ځکه کله ناکله د کاینات ژبه هم پکې غږیږي، هغه ژبه چې پخوا مبهمه وه نن ســـاینس ورته له بلې زاویې ځواب وایي.

حقیقت دادی چې نه ساینس د وحې سیوری بدلولی شي او نه وحې د علم پر وړاندې خاموشه پاتې ده بلکې؛ دواړه یو د بل تایید دی.

ساینس د تجربې او ازموینې نوم دی او وحې د الهام ژبه ده.

دواړه که په ریښـــتیني توګه وڅېړل شي، د یو حقیقت دوه مخه دي، داسې چې د ساینس نړۍ د خدای تعالی د تخلیق شویو نښو مطالعه او د هغه سپیڅلی کلام (قران) د نازل شویو نښو برخه ده.

له همدې امله دا هیڅ حیرانوونکي نه ده، چې هر ځل مونږ د کاینات په اسرارو کې نوې پوهه ترلاســـه کړو نو زمونږ باور په دې زیات شي، هغه ذات چې قران یې رالېږلی، کاینات یې هم خلق کړي.

دا کتاب د قران مجید د علمي تفسیر، ساینسي هڅو، تجربو او کشفیاتو تر څنګ د دوی خپل منځي اړیکه، فکري پیوســتون او له دې اړیکو راټوکیدلي مفاهیم هم د عقل، وحې، برهان او حجت څخه په ترکیب شوې ژبه بیانوي.

تر ټولو اړینه مسله داده چې خپله موخه تل باید په یاد ولرو؛ ځکه زمونږ موخه زمونږ د څېړنې بنسټ دی - هدف دا نه دی چې وحې د ساینس تابع و ښودل شي، یا د قران په و سیله ساینس زده کړو، او نه هم دا چې په دې سره د قران ازموینه واخلو.

بلکې هدف دادی چې د دواړو ترمنځ هغه تلپاتې همغږي وښـودل شي چې د خالق لخوا پر فطرت لیکل شوې، بل دا چې د قران په تفسیر کې له ساینسي علومو څخه ګټه اخلو.

ياني څه ډول چې د قران په تفسـير کې له له نحوه، صرف، بلاغت او يا نورو علومو څخه ا ستفاده کوو، ورته ا ستفاده له ساينســـــي علومو هم کولی شو.

دليل دا دی چې په قران کې شـاوخوا تر ۱۰۰۰ پورې ايتونه داسـې دي چې له سـاينســــــي پدېدو څخه بحث کوي، خو محمد صـلی الله عليه و سلم يې تفسير نه دی کړی، بلکې په خپل حال يې پرېښې تر څو په خپل وخت يې خلکو ته علمي اشارې څرګندې شي.

پـه دې اثر کې د پلټنې او تحقيق لپـاره د بـاور وړ، معتبرو او پراخو سرچينو څخه اســتفاده شــوې، چې د محتوا د اعتبار او علمي امانت تضمين کوي؛ له دې سرچينو عبارت دي:

- د قرانکريم مبارک ايتونه او د هغوی لغوي، شرعي او تفســيري ژور وضاحت لپاره د ابن کثير، تفسير الطبري، تفسير المنير، تفسير القرطبي، تفسير روح المعاني او نورو څخه استفاده شوې.
- کلاسـيک عربي قاموسـونه: لسـان العرب، القاموس المحيط، جمهرة اللغة او نور.
- د نړيوالو پوهنتونونو علمي مواد، درسي کتابونه، او علمي څېړنې په ځانګړې توګه د هارورډ، کمبريج، اکسفورډ، مسچيوسېتس، اوريګن او نورو نامتو علمي بنسټونو تحقيقات.
- د نړيوالو ساينسي ژورنالونو، څېړنيزو مقالو او ثبت شويو علمي ليکنو څخه استفاده.
- د فضا، فزيک او ستورپوهنې په برخه کې د سترو ادارو لکه: NASA او ESA راپورونه او نظريات.

- د قرآن د اعجاز پر تړاو د عربو لیکوالانو مستند کتابونه او رسالې.
- ویډیویي سرچینې، انځورونه او لینکونه یې چې له مستندو اکاډمیکو ویبپاڼو څخه اخیستل شوي دي.
- همدارنګه زما شخصـــي تحلیلونه، تدبرات، او پرتله ایيز استنتاجونه شامل دي.

دا چې د سریزې اوږدول د ادبپوهانو په اند ادبي تېروتنه ګڼل کیږي، نو غوره داده چې په یاد یې ولرو.

په پای کې دا یادښـــت اړین ګڼم چې قرآن یواځې د تلاوت او تبرک کتاب نه دی بلکې یو ژوور پیغام دی.

دا هڅه نه د تفسیر ځای نیســـي، او نه د علم دعوه لري، بلکې یو ساده کوښښ دی چې وښیي، قرآن د فکر وړ دی او ساینس یې د حقانیت یو بل شاهد.

RAHMANI
LIBRARY
رحماني کتابتون

زما ګرانه وروره او ګرانې خورې ! 💐

منم چې ته د کتاب مینوال / مینواله یې .!
ایا په خپل چاپیریال کې مو ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان هم مطالعه کوي ؟
که مو ځواب هو وي خو ډیر ښه خپل مسؤلیت مو په په سمه توګه ادا کړی
او سل ځله دې در باندې آفرین وي ، خو که دغه کیسه برعکس وي او ستا
ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان او داسې نور ، په مطالعه نوې روږدې نو زما په
نظر ته خود خوا او مجرم یې .!
ځکه چې تا د کتاب لوستلو خوند څکلی ، نو تا باید نور خلک هم د کتاب
له دې نا آشنا خوند سره بلد کړې وای ، نو راشه اوس هم نده نا وخته راشه
اوس یو ځای کتاب لوستلو ته خلک وهڅوو .!
تر څو آینده نسل مو تعلیم یافته او د نړۍ سیال وي .!

د سرلوړې اباد او سوکاله افغانستان په هیله .!

په درنښت | د رحماني کتابتون اداره 📚

د رحماني کتابتون سره د یو ځای کیدو لپاره له انټرنیټ سره وصل شئ ،
او تاسو باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ بیا په دغه لاندې [ Join ] بټنه
باندې کلیک وکړئ ، تر څو زمونږ د کتابتون له کورنۍ سره یو ځای شئ .!

JOIN

# لومړی څپرکی
# د اسلام او ساينس په اړه يو څو
# اړين يادښتونه

سريزه

الف: اسلام

ب: ساينس

٢- د اسلام او ساينس ترمنځ توپير لرونکی ليدلوری

٣- د شکمنو دريځ

*لومړۍ څپرکی*

# د اسلام او ساینس په اړه یو څو اړین یادښتونه

**سریزه؛**

له اسلامي لیدلوري یو عالم باید هیڅکله ځان د علم له پلوه بسیا ونه ګڼي؛ بلکې تل یې کوښښ باید دا وي چې ځان د معرفت پر لور روان مسافر وبولي.

د علم تحصیل یواځې فضیلت نه؛ بلکې په نر او ښځه یوه الهي فریضه هم ده.

اسلامي ارشادات په شفافو ټکو سره اعلان کوي:

ژباړه: «څوک چې د علم د طلب په لاره روان شي، الله تعالی ورته د جنت

لاره اسانه کوي.»(۱)

ساینس هم د ناپېژندل شویو حقایقو د لټون یوه ژوره هڅه ده، چې له یوه حقیقته بل ته رسېږي، دا د لاسته راوړنې هغه احساس دی چې انسان ته ځواک بخښي، ترڅو د نامعلومو رازونو د حل هڅې بې له وقفې متداومې وساتي.

له همدې امله ساینسي پوهه تل په بدلون کې ده؛ نو اصل دا دی چې باید له نویو بدلونونوسره ځان اشنا وساتل شي او د مالي او ټولنیزو کړیو په بدلون کې فعاله ونډه واخلي.

اسلام هم ورته هڅونه کوي؛ خو د اعتدال له لارې، تمرکز یې پر لنډ مهاله او اوږد مهاله (دنیا او اخرت) ګټو وي.

هغه وخت چې یو څوک د خپل یا د نورو د حالت ښه کولو لپاره کار کوي، په اسلام کې عبادت ګڼل کېږي.

د اسلامي شریعت احکام خدای د کتاب (قرآن) له لارې خلکو ته راورسول، چې همدا کتاب یې پر وروستي پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل کړ.

قرآن د خدای وروستی کتاب دی او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خپلو خلفاوو سره یوځای د خدای د پیغام عملي کوونکی او مفسر وو، داسې چې د خلکو د درک او د ذهنیت تنوع ته پاملرنه یې په بیان کې لومړیتوب ټاکلی وو.

اسلام؛ انسان هڅوي ترڅو فکر او تدبر وکړي او خپل کارونه د ځان او نورو د خیر لپاره تنظیم کړي؛ خو ایا خدای انسان ته مطلقه آزادي

---

۱. سنن ترمذي.

ورکړې؟ نه؛ آزادي د حدودو دننه ده، ښايي مشروطه يې وبولو په کومو کې چې جبر هم له خپلو حدونو نه اوړي.
له بل پلوه ساينس هم له خپلې لورې محدوديتونه لري، چې ډېری يې د ټولنيزو ارزښتونو، کلتوري چوکاټونو او د زمانې د شرايطو له مخې تعريفېږي، يا په بل عبارت دا محدوديتونه د زمان او شرايطو په رڼا کې بدلېدونکی ماهيت لري.
سره له دې چې ګڼې انساني خير ښېګڼې په کې نغښتي؛ خو کله ناکله د نورو ټولنيزو اړخونو يا ارکانو په څېر د سياسي ګټو تر سيوري لاندې خپل مسير له لاسه ورکوي، د وژونکو وسلو توليد، اقتصادي بې ثباتي او په ټوله کې د چاپېريال ويجاړتيا يې روښانه بېلګې دي.
دې شومې فضا په ډېرو مسلمانو ټولنو کې هم ځای نيولی، چېرې چې قرآني آيتونه ناسم تفسيرېږي؛ نو ځکه لازمه ده چې اسلام او ساينس تعريف کړو:

**الف: اسلام:**

هغه دين دی چې مسلمانان يې تعقيبوي، يو توحيدي دين چې له پيل څخه تر پايه د الله تعالی لخوا خپلو پيغمبرانو (آدم، نوح، ابراهيم، موسی او عيسی عليهم السلام) له لارې انسانانو ته وراستول شوی او بلاخره يې وروستی کتاب (قرآن) د خدای لخوا د خپل وروستي پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم له لارې انسانانو ته راولېږل، چې د تل لپاره نافذ او عملي دی.

**ب: ساينس:**

دا يوه عقلي او عملي کړنلاره ده، چې د ژوند او سيمې د روانو پديدو

منظمه او سيستماتيکه مطالعه کوي، او د مشاهدې او تجربې پر بنسټونو متکي ده.(۱)

**۲- د اسلام او ساينس ترمنځ توپير لرونکې ليدلورى:**

هره هغه پديده چې ساينس يې د خپلو اصولو په بنسټ تاييد يا رد کړي، ساينس پوهان به يې يا پياوړى ملاتړ کوي او يا په کلک شعار انکار خو د لا زياتو څېړنو له مخې شايي خپل نظر بدل کړي (پرته د مشاهدې او تجربې له بنسټونو).

بل خوا؛ اسلام د طبعيت هغه قوانين تشريح کړي چې کاينات يې تعقيبوي؛ خو دا يادونه هم کوي چې د خالق ځواک له طبيعي قانون څخه پورته دى او د هغه په اراده د استثناوو امکان شته، هيڅوک نشي کولاى له هغه وپوښتي چې «ولې» او «څنګه»؟

لکه څنګه چې الله تعالى د موسى عليه السلام لپاره سمندر په دوه منځه کړ، عيسى عليه السلام يې بې له پلاره پيدا کړ، لا علاجه ناروغيو ته شفا او داسې نور.

ساينس پوهان د دغو واقعاتو منل ردوي، يا يې د افسانو په کتار کې شميري؛ خو هغه کسان چې پر الله تعالى کلک ايمان لري، د دغو معجزو منونکي دي او د خالق پر اراده باور لري.

الله تعالى د ځان لپاره ځانګړي صفتونه ذکر کړي؛ لکه «هغه اول او اخر دى، ښکاره او پټ دى او د هرڅه علم لري.»

نو لهذا؛ طبيعي قوانين د مخلوق لپاره دي، چې انسان يې درک کوي او

---

۱. دا موضوع به راتلونکي څپرکي (قرآن او ساينس) کې له پوره شرحې سره واضح شي.

ساینس یې مطالعه، لیکن الله تعالی کله ناکله خپلې ارادې ته په کتو سره له دې قوانینو بهر کارونه کوي، یانې معجزې.
ساینس پوهان که څه هم دا پېښې «نه توجیه کېدونکي» بولي؛ خو نن ورځ تر پخوا لږ څه ښه علمي تعبیرونه ورته لري.

**۳- د شکمنو دریځ:**

په اسلام شکمن وګړي وخت ناوخت د اسلام په ځینو پیروانو نیوکې کوي، چې ګواکې دوی په پیل کې د ساینس ځینې نوښتونه نه منل؛ خو وروسته پرې مئېن شوي دي.
بېلګه دا ښیي چې لکه څنګه ملا صاحبانو فتوه صادره کړې وه چې د لاوډسپیکر کارول ناروا دي؛ خو بیا ورو – ورو یې ددې وسیلې له ګټو سره مینه پیدا کړه.
اصلا دا ستونزه یواځې د مسلمانانو نه وه؛ بلکې د ساینس پرمختګ ته د نورو دیني ډلو لخوا هم سخت مخالفت ښودل شوی، چې دلیل یې د دوی ناپوهي او سخت دریځتوب وو.
د بېلګې په توګه: ګالیلو ګالیله چې د کلیسا له لورې د ده علمي نظریې رد شوې او حتی د مرتد په نوم تورن شو.
خو تر کومه ځایه چې د نورو ادیانو خبره کېږي؛ نو موږ باور لرو چې د خدای کلام تل له هر ډول نیمګړتیا څخه پاک او مهذب وي، ولې دا چې تحریف او لاس وهنه د دې باعث کېږي څو تضاد رامنځته شي، دا بیا جدا خبره ده.
مثلاً: تورات (Bible) چې یو الهي کتاب دی، د تحریف ښکار شوی، بشر پکې وخت ناوخت د خپلې خوښې سره سم کمی او زیاتی کړی، د

دې دلیل دا دی چې په اوسني بایبل کې ګڼې ساینسي تېروتنې تر سترګو کیږي، د بېلګې په ډول:

بایبل د جیوسینتریک (Geocentric) تیورۍ په یادولو سره ځمکه د کایناتو مرکز بللې، حال دا چې موږ ټول پوهیږو چې ځمکه د لمریز نظام سیاره او لمر د نظام په منځ کې قرار لري.(۱)

دغه راز په بایبل کې راغلي چې خدای رڼا (نور) په لومړۍ ورځ پیدا کړې او د رڼا باعث یا منبع (لمر او ستوري) یې په څلورمه ورځ پیدا کړي.

اوس دا څنګه شوني ده چې اثر لومړی او سرچینه وروسته پیدا شي.(۲)

همدارنګه په بایبل کې راغلي چې بوټي یا نباتات خدای د خلقت په درېیمه ورځ او لمر یې په څلورمه ورځ پیدا کړی.(۳)

دا بیا په دې ډېره جالبه ده چې د نن سبا کوچنیان هم د فوتوسنتیز یا ضیایي ترکیب په عملیې خبر دي، له کومې پرته چې د بوټو وده ناشونې ده.

بناء همدا وجه ده چې په منځنیو پېړیو کې اروپایي کلیساګانو په زرګونو ساینس پوهان له تېغه تېر کړل.(٤)

اما کله چې د اسلام یا قرآن په اړه خبرې کیږي، په ډاډ سره ویلای شو چې د علم له نویو کشفیاتو څخه وېره تر ډېره د پخوانیو دیني عالمانو د قرآن کریم د ناسم تفسیر او محدود فهم زېږنده وه.

---

۱. Psalm 93:1/ Psalm 104:5- Chronicles – Jashua 10:13

۲. Genesis 1: 3-5 / Genesis 1: 14-19

۳. Genesis 1: 11-13

٤. د اسلام اقتصادي نظام، شریف رحماني، مخ ۳۹.

# دویم څپرکی

# قرآن او ساینس

پیلیزه

قرآن کریم د ټولو علومو سرچینه ده

د قرآن او ساینس اړیکه

ایا په دې پوهیږئ چې ولې قرآن له ساینس او ساینس له قرآن

قرآن؛ او ساینس ته هڅونه

ولې ساینس په قرآن کې

د قرآن چلینج

قرآني او ساینسي اسلوب

***دویم څپرکی***

# قرآن او ساینس

**پیلیزه:**
قرآن چې د اسلام سپېڅلی کتاب او د مسلمانانو له لورې د پوهې او لارښود وروستی سرچینه ګڼل کېږي، د پېړیو په اوږدو کې علماوو هڅه کړې چې ځینې ایتونه یې د طبیعت د نړۍ په رڼا کې وڅېړي.
د عصري ساینس په راڅوکېدو سره داسې پوښتنې راولاړې شوي چې ایا قرآني څرګندونې د علمي موندنو ملاتړ کوي او څنګه یې ایتونه د معاصرې پوهې په رڼا کې تفسیر کېدای شي؟
بله دا چې د قرآن کریم په ډېرو آیتونو کې د طبیعي پېښو او پدیدو یادونه شوې چې د علمي څېړنو د بحث یوه مهمه برخه جوړوي؛ خو د داسې آیتونو اصلي پیغام څه دی؟
**په دې هکله دوه بېلا بېل نظریات شتون لري:**
***لومړی نظر؛*** قرآن کریم د ټولو علومو سرچینه ده، چې په کې د فطرت ټولو علومو لپاره بنسټیزې لارښوونې شتون لري.

***دوهم نظر؛*** قرآن یواځې د هدایت کتاب دی او په منځپانګه کې یې د کیمیا، فزیک او نورو طبیعي علومو لپاره ځای نشته.
شاطبي رحمه الله په هغو خلکو رد کړی چې طبیعي علوم د قرآن له علومو سره یو ځای کوي؛ نوموړی لیکي: «ځینې خلک د قرآن د علومو له اندازې څخه اووښتي دي، داسې علوم یې په کې شمېرلي چې پخوانیو علماوو نه ګڼل، پخواني علماء د قرآن په علومو له موږ څخه ښه پوهېدل، هغوی چې دا علوم نه دي شمېرلي، معلومېږي چې دا د قرآن په علومو کې نه راځي.»(۱)
خو د شاطبي رحمه الله له دې رایې سره علماء همغږي نه دي؛ ځکه قرآن د رسول الله صلی الله علیه وسلم علمي معجزه ده، تر قیامته پورې بل کتاب نه نازلېږي، همدا به د انسانانو لپاره لارښود، په هر مهال د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت دلیل او د نویو پېښو لپاره تر ټولو ښه حل لار وي؛ لیکن دا هغه مهال کېدای شي چې قرآن په سینه کې عصري علومو ته اساس ولري او بلکل قرآن همداسې دقیقې او باریکې اشارې لري چې نوي علمونه ترې څرګندېږي.
دلته د دوکتور وهبة الزحیلي رحمه الله نظر پوره د پام وړ دی؛ دی لیکي: «د قرآن په اعجاز کې بحث کول اندازه نه لري، د وخت په تېرېدو او د زماني له بدلېدو سره نوي دلیلونه او د قرآن په اعجاز کې نوې نمونې څرګندېږي؛ څه ډول چې مخلوق په خالق احاطه نه شي کولای، داسې د الله تعالی په کلام (قرآن) هم احاطه نه شي کولای. الله تعالی فرمایي:

۱. الموافقات، التعریف باسرار التکلیف، مخ ۳۹۶؛ امام ابواسحاق دار ابن عفان، موسسة الرسالة – ۱۹۹۷.

﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ﴾(١)

جلال الدين سيوطي رحمه الله د طب حساب او ځينې نور علوم هم ياد کړي چې علماوو د قرآن له آيتونو څخه مستنبط کړي دي، تر دې چې ځينو علماوو د پيغمبر عليه السلام عمر هم له دې آيت څخه راويستلى ﴿وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا﴾(٢)

نو معلومېږي چې ياد نظر ډېر کره نه دى، دا هم رښتيا دي چې پخواني علماء د قرآن په تفسير د وروستيو علماوو څخه ښه پوهېدل، البته په هغو علومو ښه پوهېدل چې د هغوى په دور کې مطرح شوي ول؛ لېکن اوس مهال چې کوم علوم مطرح دي، په اړه يې د دې پېر علماء ښه پوهېږي؛ لکه طب چې پرمختګ وکړ او د حکمت ځاى يې ونيولى، همداسې د ساينس او طبعيت علوم چې کشف شول د هغه وخت علماء پرې خبر نه ول.(٣)

**قرآن کريم د ټولو علومو سرچينه ده:**

لکه څنګه مو چې وړاندې يادونه وکړه په اوسني عصر کې ډېرى علماء هڅه کوي څو د قرآن کريم ځينې آيتونه د معاصر ساينس په رڼا کې تفسير کړي، ترڅو له دې لارې غير مسلمانان د دې سپېڅلي کتاب علمي اعجاز ته متوجه او مسلمانان بيا د داسې يو ستر کتاب په لرلو وياړمن

---

١. البقره: ٢٥٥.

٢. المنافقون: ١١.

٣. قرآن او ساينسي څېړنې، د قرآن د معجزو اړخونه، مفتي محمد بشار، مخ: ١٦ – ١٤، نوى مستقبل خپرندويه ټولنه ١٣٩٧لمريز – کابل.

کړي.

خو د دې نظریې ریښې نوې نه دي، ډېرى پخواني اسلامي عالمان هم په دې باور وو چې قرآن د ټولو علومو بنسټ دی، له ډلې یې یو ستر عالم امام غزالي رحمه الله دی.

نوموړی په خپل کتاب احیاء علوم الدین کې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قول نقل کړی چې وایي: «که څوک د پخوانیو او اوسنیو علومو زده کړه وغواړي؛ نو د قرآن په آیتونو کې دې فکر وکړي.»[۱]

غزالي رحمه الله زیاتوي: «په حقیقت کې ټول علوم د الله تعالی د صفاتو او کړنو د پوهې برخه ده او قرآن د هغه د ذات او صفاتو تشریح کوونکی.»[۲]

هغه په خپل بل کتاب جواهر القرآن کې لیکي: «د پخوانیو او اوسنیو علومو اصول په قرآن کې موجود دي؛ نو که څوک وغواړي چې د خدای د کړنو وسعت درک او وپېژني، باید په دې مبارک کتاب کې ژوره مطالعه وکړي.»

همدارنگه امام رازي رحمه الله چې د منځنیو پېړیو نوموتی عالم بلل کېږي، په دې باور وو چې د قرآن د تفسیر لپاره باید د طبیعي علومو له پرمختگونو څخه گټه واخېستل شي، دی په دې فکر وو چې هر څومره زموږ پوهه زیاته شي، هغومره موږ د قرآن له حقیقي ماناگانو سره اشنا کېږو، د طبعیت مطالعه د قرآن د ژور فهم لپاره یو اړین گام دی.

رازي رحمه الله لیکي: «داسې هیڅ علم نه شته؛ مگر دا چې قرآن ورته په

۱. احیاء علوم الدین، کتاب الاداب تلاوة القرآن، الرابع، ویکي مصدر.

۲. جواهرالقرآن، ابوحامد الغزالي، مخ ۳۶ – ۳۴، دار احیاء علوم، بیروت، (دار المنهاج ۲۰۱۴).

یو ډول اشاره کړې ده.»[۱]

شاه ولي الله دهلوي رحمه الله باوري وو چې قرآن یواځې د دیني عباداتو لارښود نه دی؛ بلکې د ژوند د هر اړخ لپاره یو بشپړ کتاب دی، چې سیاست، اقتصاد، ټولنیز نظام او حتی د طبعیت قوانین په کې بیان شوي دي.[۲]

همدا راز ابن تیمیه رحمه الله لیکلي: «قرآن هر ګټور علم په ځان کې لري، هغه که صراحتا وي په اشاره که په تضمین یا په لزوم سره.[۳]

که دا دریځ د الهي وحی د لاندې آیت له تناظر سره پرتله شي، نو د حجت پیمانه یې له عقل او نقل دواړو زاویو درنه برېښي.

﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ۝﴾[٤]

ژباړه: او موږ دا کتاب پر تا نازل کړی، د هرڅه ځرګندوونکی، لارښودونکی حجت او زېری دی د مسلمانانو لپاره.

غور او تأمل په دې ایت کې دا ښیي چې په قرآن کریم کې علمي نښې او اشارې د یوه ځانګړي الهي نصاب له مخې شتون درلودی شي، داسې نښې چې ډېرې حق منونکې خېرې یې د هدایت په پولو سپارلي؛ اصلا حقیقت دا دی چې دا علمي نښې په خپله د قرآن کریم د اساسي موخې (هدایت) یوه برخه ده، د هغو مفکرینو په باور چې وایي قرآن د ټولو

---

۱. فخر الدین رازي، تفسیر کبیر (مفاتیح الغیب) د الفاتحې سورة مقدمه.

۲. الفوز الکبیر في اصول التفسیر / حجة البالغة.

۳. ابن تیمیه، مجموع الفتاوی، جلد ۱۳، مخ ۲۴۵، مجموع الملك فهد (ریاض) ۲۰۰۰.

٤. النحل: ۸۹.

علومو بنسټ دی، هدف دا نه دی چې قرآن کې به د فزیک فورمولونه یا د DNA جوړښت پوره تفصیل سره موجود وي؛ بلکې قرآن انسان ته اشاره کوي، د تحقیق نیت او لیدلوری ورکوي، انسان له تقلید نه علم ته او له جهالت نه بصیرت ته بیایي.

که په دغه باب د قرآن کریم هغو ایتونو ته هم یوه کتنه وشي، چې ساینسي محتوا لرونکي دي؛ نو د تاریخي شالید له مخې ښکاري چې دا ډول ایتونه پخوا د پوهې په محراق مبهم پاتې شوي وو، همدا لامل وو چې هغه وخت مفسرینو یې په هکله نېغ او سدید تفسیر نه دی کړی.

خو دا چې اوس پېړۍ تېرې شوي او زمانې د ساینس له امله بدلون کړی، په دې وجه یې د علمي لیدلوري نوې بڼې خپلې کړي چې ورسره د قرآن کریم ساینس ته د اړوندو آیتونو حقیقي مفاهیم هم رابرسېره شوې دي.

ځکه خو عبدالله بن عباس رضي الله عنه چې یو له معتبرو مفسرینو دی، په دې اړه وایي: «په قرآن کریم کې ځینې داسې آیتونه شته چې د هغې تفسیر به زمانه کوي.»

واقعاً هغه آیت چې پخوا ابهام بلل کېده، نن په اعجاز بدل شوی، یانې د قرآن کریم یو شمېر هغه آیتونه چې پخوا د پوهې د کمښت له امله گونگ پاتې وو، نن د ساینس له برکته د انساني شعور لپاره د ژور تفکر او تدبر درس دی.

**د قرآن او ساینس اړیکه:**

اسلام یواځې دوه ډوله علوم د حقیقت مظهر ګڼي او مني يې:

الف: د وحی علم Revealed Knowledge

ب: ترلاسه شوی علم Acquired Knowledge

د وحی علم؛ هغه علم ته ویل کیږي چې الله تعالی مستقیما خپلو پیغمبرانو ته رالیږلی وي او ترلاسه شوی علم هغه علم دی چې انسان یې د خپلو شواهدو او تجربو له لارې لاسته راوړي، که دا خبره یو څه په ساده انداز وکړم، باید ووایم چې ترلاسه شوی علم له هغه علم څخه عبارت دی چې منشاء او ماهیت یې تجربه او مشاهده وي، په عامه عرف ورته موږ او تاسې ساینس وایو.

اسلام هم یواځې د همدې دوه علومو حقانیت مني، یانې هره دعوه یا خبره هغه وخت د منلو وړ ګرځي، چې کله یې یو له دغو دوو علومو څخه تصدیق وکړي، که یو یې هم ونه کړي، باید پوه شو چې ادعا باطله او بې اساسه ده.

یوه مهمه مساله چې باید وضاحت وموميي دا ده چې دا دواړه علوم (قرآن او ساینس) هیڅکله یو له بل سره تضاد او مخالفت نه لري.

څکه په قرآن کریم کې چې د طبیعي پدیدو په اړه څومره ذکر شوی، ساینس یې په بشپړه توګه تاییدوي، له بلې خوا ساینس تر اوسه کوم داسې کشف نه دی کړی، چې له قرآني حقایقو سره په ټکر کې وي.

البته ځیني مسایل شته چې ساینس یې په هکله څه نه دي ویلي، د بېلګې په توګه: د برزخ ژوند، جنیات، ملایکې، جنت او دوزخ او په ځانګړې توګه د ځمکې پرته په نورو سیارو او ځایونو کې د ژوند شتون او شونتیا؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍؕ وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ﴾[۱]

ژباړه: او (بل) د هغه له نښانو د اسمانونو او ځمکې پیدایښت دی او هغه څه چې په هغه کې یې خپاره کړي دي، (ساه کښ) مخلوق اوکله چې وغواړي د دوی په راغونډولو قادر دی.

د قرآن کریم له مذکور آیت څخه بریښي چې د ځمکې له حدودو هاخوا هم ژوند شتون لري، که څه هم ساینس دا خبره عملي او رسما نه ده تایید کړې، ولې پوهان باور لري چې ډېر لوړ احتمالات د دې شته چې د ځمکې څخه هاخوا دې هم ژوند وموندل شي، د همدې باور له مخې دوی وخت ناوخت فضا ته سپوږمکۍ، راکټونه او انسانان لیږي.

نو دا چې ساینس تر دې حده نه دی رارسېدلی؛ ځکه یې په هکله څه نه دي ویلي، بناءً له دې څخه دا مفهوم نه شو اخېستی چې ساینس په یادو مسایلو رد کړی.

سره له دې چې ساینس زیات پرمختګ کړی، ولې بیا هم نیمګړی دی، د قرآني علم برعکس په کې د هرې پوښتنې ځواب او د هرې مسالې حل نه شته؛ اما ښکاره خبره دا ده چې ساینس له قرآن کریم سره هیڅ ډول مخالفت نه لري.

**ایا په دې پوهېږئ چې ولې قرآن له ساینس او ساینس له قرآن سره مخالفت نه لري؟**

د قرآن کریم او ساینس د بشپړ توافق تر شا یو ستر دلیل او برهان شتون

---

۱. الشوری: ۲۹.

لري، دلیل دا دی چې قرآن د الله تعالی کلام، کاینات د الله تعالی فعل دی او د همدې کایناتو مطالعه ساینس ده؛ نو دا خو څرګنده خبره ده چې د الله تعالی د قول او فعل ترمنځ هیڅ اختلاف نه شته.

هغه څه چې باید هېر مو نه شي دا دي چې زه د ساینس په اړه غږېږم، یانې څه چې په تجربه او مشاهده اتکا کوي، فرضیه او نظریه نه یادوم، شونې ده چې یو ساینس پوه تېروتنه وکړي؛ لېکن حقیقي ساینس هیڅکله غلطیداې نه شي.

مثلا: قرآن کریم څوارلس نیمې پېړۍ دمخه فرمایلي چې کاینات د پراختیا حال لري.

په داسې حال کې چې ساینس پوهان تر ۲۰مې پېړۍ پورې په دې اند او فکر وو چې کاینات ساکن دي، یانې نه پراخېږي، چې دا د ساینس پوهانو تېروتنه وه، نه د ساینس؛ ځکه د کایناتو دې نظریې کوم مشاهدوي او تجربوي مدارک نه درلودل، یواځې یو نظر وو؛ خو برعکس همدې مشاهدو او تجربو په ۲۰مه پېړۍ کې دا ثابته کړه چې کاینات پراخېږي او په دې سره یې د وحی علم (قرآني علم) تایید وکړ.

که د حقیقت په څرک پسې په رښتیني مانا وګرځو، معلومېږي چې دلته ستونزه او کړکېچ دوه ډوله خلکو رامنځته کړی دی.

۱. هغه لوېدیځ زده کړي مسلمانان چې د لوېدیځ په لاره روان دي، ګومان کوي چې دین او ساینس سره هیڅ اړیکه نه لري او دا دواړه دوې جلا لارې دي.

۲. هغه مسلمانان چې یواځې په دیني تعلیماتو بوخت دي، دا انګېري چې اسلام له ساینس څخه پردی او جلا دی.

په اصل کې دوی له دې بې خبره دي چې کابو اته پېړۍ وړاندې مسلمان

ساینس پوهانو داسې ستر او ارزښتناک کشفیات کړي چې نن هم د تاریخ یو ویاړلی او درووند باب ګڼل کېږي؛ پرته له دې چې خپله عقیده پرېږدي، بې له شکه اسلام په ټولیز او قرآن په ځانګړي ډول مسلمانانو ته د علم د ترلاسه کولو او د پرمختګ په ډګر کې د مخکښ کېدو سپارښتنه کړې.

الله تعالی د آدم علیه السلام په تړاو په قرآن کریم کې فرمایلي:

﴿وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا﴾[۱]

ژباړه: او موږ آدم علیه السلام ته د ټولو شیانو نومونه وښودل.

د ذکر شوي آیت په رڼا کې برېښي چې الله تعالی آدم علیه السلام ته د تمامو شیانو نومونه ښودلي وو.

پوهېږو چې د شیانو علم په حافظه کې د نومونو په بڼه ذخیره کېږي؛ ځکه ترڅو پورې چې د یو شي په اړه علم نه وي موجود، نوم یې هیڅ مانا نه لري، که فرضا تاسې د موبایل په اړه هیڅ ډول پوهه یا معلومات ونه لرئ؛ نه مو لیدلی وي او نه مو یې په هکله څه اورېدلي وي، په دې صورت کې تاسې ته د موبایل نوم بې مانا دی، که هر څومره درته د موبایل نوم واخېستل شي، بیا هم ستاسې په ذهن کې هیڅ ډول انځور نه جوړېږي.

ولې، که چېرې مو موبایل لیدلی وي، یا یې په هکله معلومات ولرئ؛ نو د موبایل د نوم په اورېدو سره به ستاسې ذهن سمدستي یوه بشپړه نقشه جوړوي.

ساینس هم د نوم اخېستنې، پېژندنې او تحلیل علم دی، ساینس هم دا

۱. البقره: ۳۱.

هڅه کوي چې کاينات وپېژني، مفاهيم تعريف کړي، اصطلاحات جوړ کړي او د قوانينو ترمنځ اړيکې پيدا کړي، دا ټول د ياد آيت له مفاهيمو سره سمون خوري، چې هلته الله تعالی آدم عليه السلام ته «د هر شي نومونه وروښودل» يعنې پېژندنه، ادراک او تحليل.
د همدې قاعدې پر بنسټ کله هم چې ساينس پوهان يو نوی شی يا پديده کشف کړي، لومړی کار يې دا وي چې هغه ته يو نوم ورکړي، ترڅو په ياد يې پاتې شي، چون دا يو اصل دی چې انسان هر شی د خپل نوم له آدرسه پېژني، که په دې اړه ژور غور هم وکړو؛ نو په درسته نړۍ کې به هيڅ بې نومه څيز په نظر رانه شي.
دا چې انسان اکرم، افضل او اشرف بلل کيږي، عمده لامل يې عقل، شعور او پوهه ده چې الله تعالی پرې پېرزو کړې ده.
بناء هغه علم چې ډېری خلک يې يواځې دنيوي بولي، په حقيقت کې له ديني علم سره نه شلېدونکی تړاو لري.

**قرآن؛ او ساينس ته هڅونه:**

ښکاره خبره ده چې نه مسلمان او نه کوم بل څوک د ساينس د زده کړې لپاره قرآن ته مراجعه کوي؛ نو ځکه قرآن د ساينس کتاب نه؛ بلکې د نښو Signs کتاب دی، په کوم کې چې لږ تر لږه تر ۱۰۰۰ پورې آيتونه له ساينسي پديدو څخه بحث کوي.
څه ډول چې د الله تعالی آيتونه (نښې) په قرآن کريم کې دي، دغه شان په کايناتو کې هم هرې خواته د الله تعالی بې حسابه نښې شتون لري.
لېکن قرآن يواځې د ساينسي پديدو په ذکر اکتفاء نه کوي؛ بلکې په دې اړه د قرآن کريم هغه روښانه او مُثبته هڅونه هم پوره د پام وړ ده چې

انسانانو ته يې د نړۍ په اړه د فکر او تحقيق کولو لپاره کړې ده، د قرآني څرګندونو په رڼا کې ليدل کيږي چې الله تعالى انسان له پوښتنو منع کړی نه دی، برعکس ښکاري خو داسې چې غواړي انسان د نړۍ په اړه وپوښتي او سوچ وکړي.

د بېلګې په توګه الله تعالى فرمايي:

﴿قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ﴾[۱]

ژباړه: ورته ووايه په ځمکه کې وګرځئ او بيا وګورئ چې خلقت يې څنګه پيل کړی.

په بل آيت کريمه کې فرمايي:

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ۝﴾[۲]

ژباړه: بې شکه د اسمانونو او ځمکې په تخليق کې او د شپې او ورځې په بدلون کې د پوهانو لپاره لويې نښې دي.

همدارنګه په بل ځای کې فرمايي:

﴿الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُودًا وَّعَلٰى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ۝﴾[۳]

---

۱. العنکبوت: ۲۰.

۲. أل عمران: ۱۹۰.

۳. أل عمران: ۱۹۱

ژباړه: دا د عقل خاوندان هغه دي چې په ولاړه، ناسته او په خپلو اړخونو ډېره وهلې الله یادوي او فکر کوي د اسمانونو او ځمکې په جوړښت کې (او وایي) ای زموږ ربه تا دا (کاینات) عبث نه دي پیدا کړي، ته پاک یې له دې څخه چې یو شی عبث پیدا کړې، نو موږ د جهنم له اوره وساته.

یو ریښتینی ساینس پوه تل په دې هڅه کې وي چې په جدي ډول د خپلې څېړنې په موضوع بیا – بیا فکر وکړي، دا پروا نه کوي چې هغه ولاړ وي، ناست وي، پروت وي، یا په کوم بل کار بوخت وي.

په یاد آیت کې هم موږ ته بلنه راکول شوې چې د یوه ریښتیني ساینس پوه په څېر د اسمانونو او ځمکې په څېړنو او د ورځې او شپې د بدلون په اړه فکر وکړو.

څه چې دلته د درک وړ دي، ښایي د یوه بې گناه او معصوم انسان په مثال کې ډېر ښه څرگند شي، هغه وگړی چې ټوله قضا ننگوي او ورته وایي که مو یو ثبوت د دې پیدا کړ چې ما د جرم مرتکب ثابت کړي، خپل جرم منم، پوهېږئ ډېری نور ادیان چې زه یې د نوم اخیستو ډېره کوم خپلو پیروانو ته سپارښتنه کوي، ترڅو ټاکلي خلک واوري، له ټاکلو خلکو سره پاتې شي او له یوې محدودې ډلې زده کړه وکړي، هیڅ وخت له بهرنۍ نړۍ کوم څه رانه وړي؛ ځکه دا به یې ایمان او عقیدې ته زیان ورسوي؛ مگر قرآن بیا فرمایي که موږ څومره فکر او غور وکړو، نه خو به په قرآن کې کوم عیب وموموو او نه به په طبعیت کې د خالق له نښو پرته بل څه.

قرآن بیا بل ځای داسې فرمایلي:

﴿سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ

الْحَقُّ ۭ اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ○﴾[۱]

ژباړه: زر دی چې موږ به دوی ته خپلې نښې (علامې) په اسمانونو او د دوی په خپلو وجودونو کې وښایو، تر هغه چې دوی ته ښکاره شي، چې همدا (قرآن) رښتیا دی، ایا ستا د رب دا خبره بسنه نه کوي چې هغه په هر شي شاهد (ګواه) دی؟

که څه هم د دې آیت تاریخي اشاره د مکې مکرمې فتحې ته ده؛ خو د قرآن کریم ډېری آیتونه د تاریخي مفهوم سربېره یو عمومي مفهوم هم لري.[۲]

نو د دې آیت یوه مانا دا کېدای شي چې د وخت په تېرېدو سره به انسان په طبعیت او نړۍ کې د خالق نښې لا زیاتې ومومي.

رښتیا هم که د تفکر سترګې پرانیزو، د اسمانونو په پراخوالي او د خپل وجود په ژورو اسرارو کې تأمل وکړو؛ نو د متعال رب د عظمت بې پایه نښې به په هر ګام، هر رګ او هر اسماني انځور کې راښکاره شي.

په افاقو کې به یو څو بېلګې دا موضوع خورا ښه واضح کړي.

۱. ساینس وایي چې د ځمکې او لمر ترمنځ فاصله خورا مناسبه، متوازنه او برابره ده؛ ځکه که چېرې دا واټن لږ څه ډېر وای؛ نو د یخنۍ له وجې به ټولې اوبه کنګل شوې وای، چې په دې سره به د اوبو دوران صورت نه نیوه او ورسره به متصل ژوند له منځه تللی وای.

مګر که چېرې دا واټن لږ څه کم وای؛ نو هرڅه به سوځېدلي وای.

پوهان زیاتوي، چې د ځمکې او لمر ترمنځ واټن له **۹۳** میلیونه مایلز سره

---

۱. الفصلت: ۵۳.

۲. تفسیر قرطبي رحمه الله، جلد ۱۲، مخ ۲۳۱.

برابر دی چې له امله يې د لمر ٦۰۰۰ سلیسس Celisus درجې حرارت ځمکې ته یواځې تر ٥٦ سانتي گرادو درجو رارسیږي.
اوس پوښتنه دا ده، چې ایا لمر او ځمکې په خپلو کې مشوره کړې وه، چې دا ستا موقعیت شو او دا زما؟ یانې لمر او ځمکې په خپله دا فاصله تعین کړې وه؟
او بیا دا څنگه اندازه شوې چې ۹۳ ملیونه مایلز فاصلې ته اړتیا ده؛ ترڅو ٦۰۰۰ سلیسس حرارت درجه تر ٥٦ یا داسې اندازې ته راټیټه کړي، چې په ځمکه کې د ژوند د بقا لپاره مهمه ده؟
۲. که د ځمکې پوښ ته راشو؛ نو څېړنې ښیي چې د ځمکې پوښ په خورا حساس ضخامت سره جوړ شوی، په دې مانا که لږ څه پیړ وای له خلا نه به يې ډېر اکسیجن راجذب کړی وای او که چېرې لږ نازک وای؛ نو اور غورځونو (آتش فشانونو) به ژوند د ځمکې په سر نابود کړی وای.(۱)
۳. په فضا کې د اسماني اجسامو ویش او د دوی په منځ کې شته واټن د ځمکې د وجود لپاره خورا اړین دی، د اسماني جسمونو په منځ کې واټن داسې شمېرل شوی چې څو ځواکمنې قوې د ځمکې پر سر ژوند تینگوي، مایکل دنتن د ستورو او ثواقبو په منځ کې د واټن په هکله وایي:
«د ثواقبو او ستورو ترمنځ واټن ډېر ارزښتناک دی، زموږ په کهکشان کې د ستورو ترمنځ واټن داسې اندازه شوی، که تر دې لږ څه کم وای، د ستورو مدارونه به یو له بل سره لگېدل او که لږ څه ډېر وای، ثواقب به داسې خپرېدل چې د ځمکې په شان سیارې به نه جوړېدې؛ نو د ثواقبو

۱. Science News Explore (Earth)

وړانګې او خلا په یوه دقیق نظم او ټاکلو واټنونو کې باید ترسره شي، ترڅو د ژوند د بهیر چارې جاري پاتې شي.»

۴. لمریز نظام: د لمر، سپوږمۍ او ځمکې حرکات زموږ په ژوند کې هیڅ ډول خنډ نه جوړوي او په بشپړه همغږۍ سره دوام لري.

برعکس دا هرڅه د دې لپاره روان دي چې په ځمکه کې ژوند او تنوع ممکن کړي.

ځمکه د لمر شاوخوا په داسې ډول څرخي چې د هغې د محور د مایلۍ زاویه ۲۳۰درجې او ۲۷ دقیقې ده، د دې مایلۍ له برکته د ځمکې پر مخ موسمونه رامنځته کیږي او همدا مایلي د نباتاتو د ودې نظام ته هم بنسټ برابروي.

د لمر سپوږمۍ او ځمکې ټول حرکات په بشپړه همغږۍ سره روان دي، هرڅه په دومره غوره توګه تنظیم شوي چې حتی مشتري چې د لمریز نظام تر ټولو لویه سیاره ده د ځمکې په ژوند اغېزمنه ونډه لري.

ستوری پېژندونکی جورج ویټریل په خپله مقاله کې چې د مشتري په اړه یې لیکلې وایي: «که د مشتري په اندازه کومه سیاره نه وای؛ نو ځمکه به له ډېرو سرګردانو شهابونو او دُم لرونکو ستورو سره مخ وه، نوموړی زیاتوي، که مشتري حتی په خپل ځای کې نه وای، چېرې چې اوس دی، نو موږ به هم نه وای، ترڅو د لمریز نظام پر رازونو غور وکړو.»[1]

په هر لوري چې مخ کړو، موږ له عظمتونو، دقیقو حسابونو او کمالاتو سره مخ کیږو؛ البته موږ د خپل عقل په وسیله د الله تعالی په خلقت غور

---

۱. Wetherill, G.W (1997). Possible Consequinces of Absence of "Jupiter" in Planetary System- Astrophysics and Space Science – 212 (1-2), 23- 32.

کوو، زموږ خالق د خپل لايتناهي علم، قدرت او مهربانۍ نښې په ټول کاينات کې ښکاره کړې دي.

د يادو او نايادو پديدو د کشف پر بنسټ ساينس پوهانو د شلمې پېړۍ په وروستيو کې د کايناتو د دومره زړه وړونکي نظام په باب د لطيف ميزان Fine Tuning اصطلاح وکاروله(١) چې له مخې يې د کايناتو په منځته راتلو کې د تصادف ټکی نفې شوی دی.

په دې وروستيو کې يو زيات شمېر پوهانو ليکوالانو او د نظر خاوندانو روښانه کړې چې نړۍ د تصادف يوه ټولګه نه ده؛ بلکې هرڅه د يوې منظمې طرحې له لارې کار کوي، چې د انسان د ژوند شرايط يې برابر کړي.

د ډاکټر کارل ګيرسن په نوم يو فزيک پوه وايي: «په ۱۹۶۰م کال کې فزيک پوهان په دې پوه شول چې نړۍ د انسان د بقا لپاره په خورا لطافت سره ميزان شوې.»(٢)

همدارنګه يو بل فزيک پوه او ستورې پېژندونکی پروفيسور جورج اليس وايي: «د قوانينو په مينځ کې حيرانوونکی لطيف توازن د دې نړۍ منځته راتلل ممکن کړي دي، د ډېرې پېچلتيا د کچې په پوهېدو سره هغه څه چې سرته رسېدلي، ډېره ستونزمنه ده چې د نړۍ هستۍ ته يوه معجزه ونه وايو.»(٣)

دې هرڅه ته په کتو د الملک سورة درېيم آيت ته راستنېږو، چې فرمايي:

---

١. A Brief Hisotry of Time- Stephen Howking (1988).

٢. Paul Davies – The Goldilocks Engima.....

٣. Roger Pencose – The road to reality (2004).

﴿الَّذِیۡ خَلَقَ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ؕ مَا تَرٰی فِیۡ خَلۡقِ الرَّحۡمٰنِ مِنۡ تَفٰوُتٍ ؕ فَارۡجِعِ الۡبَصَرَ ۙ هَلۡ تَرٰی مِنۡ فُطُوۡرٍ ۝﴾[۱]

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې اووه اسمانونه یې یو له بله پاسه (لاندې باندې) پیدا کړې دي، ته به د رحمن خدای په پیدایښت کې هیڅ ډول عیب ونه وینې، سترګې واړوه، ایا کومه نیمګړتیا په سترګو درځي؟

**ولې ساینس په قرآن کې:**

متعال رب په هر پېر کې انسان ته د هدایت مشعل روښانه کړی دی، څه وخت به چې انسان د جهل په تیارو کې لار ورکی شو، مهربان خدای به ورته یو پیغمبر (استازی) رالېږه او دوی ته به یې د دوی د رسالت او خپل ربوبیت د اثبات په موخه داسې معجزې ورکولې چې د خپلې زمانې فنونه او مسلکونه به یې چلینجول.

د ساري په ډول؛ حضرت موسی علیه السلام ته داسې معجزه ورکړل شوه چې د مصري جادوګرانو سحر یې له خپل غرور سره تر پښو لاندې کړ؛ ځکه مصریان د جادویي هُنر او تمثیل په فن کې خورا ماهره وو.

د حضرت عیسی علیه السلام معجزې بیا د طبابت له علم سره تړلې وې، په دې چې د هغه عصر ټولنه د طبي علومو په پرمختګ کې مخکښه وه؛ خو کله چې د وحی وروستی بیان (قرآن کریم) نازل شو، عربان د فصاحت بلاغت او شاعرۍ د نړۍ مشران بلل کېدل، په دې توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم معجزه (قرآن) هم د ژبني کمال له لارې هغوی ته یو ستر او نه ماتېدونکی ادبي چیلنج شو.

---

۱. الملك: ۳.

خو دا چې محمد صلی الله علیه وسلم وروستی پیغمبر قرآن نړیوال او ابدي الهي رهنما ده؛ نو له حکمته دا تقاضا کېده چې اعجاز يې هم بايد له زماني سره نه زړېدونکی وي، ترڅو نه يواځې د تېر عصر انسانان پرې قانع کړي؛ بلکې د راتلونکو علمي فلسفي او معنوي نسلونو لپاره هم يو نه انکارېدونکی الهي سند پاتې شي.

پر همدې بنسټ د قرآن معجزانه ځانګړتياوې يواځې په ژبني اعجاز پورې محدودې نه دي؛ بلکې دا مبارک کتاب د الهي نښو يوه نه ختمېدونکې خزانه ده، مطلب دا دی چې د قرآن کريم ډېرى آيتونه د مانا او مفهوم له پلوه خورا غني دي، دومره چې نه تمامېدونکي دي او حتی تر ټولو وروستيو ساينسي موندنو ته هم په ځان کې ځای ورکولی شي.

لهذا؛ موږ وينو چې نن سبا د شعر او شاعرۍ زمانه تللې او پر ځای يې د ټولې نړۍ شعار ساينس ګرځېدلی؛ خو له بلې خوا دا هم وينو چې قرآن ۱۴۵۰کاله دمخه د خورا عميقو او په زړه پورو ساينسي پديدو بيان په داسې ښه کړی چې انسان ګوته په غاښ پرېږدي.

دا هغه څه دي چې نړيوالو ساينس پوهانو پرې اعتراف کړی، مني يې او اکثرو يې له همدې امله حقه او راشده لار موندلې.

دا بحث په يوه مثال ډېر ښه واضح او راټولېدای شي.

الله تعالی فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ

لَكُمْ ؕ﴾(۱)

ژباړه: ای انسانانو که چیرې تاسې د دوهم ځلې ژوند څخه په شک کې یاست؛ نو پس موږ تاسې له خاورې څخه پیدا کړي یاست، بیا د نطفې څخه بیا د وینې له ټوټې څخه بیا له مضغې څخه چې یو څه بشپړه جوړه ده او یو څه نامکمل...

د دې آیت په لوستو ښایي دا پوښتنه رامطرح شي چې که محمد صلی الله علیه وسلم عربان د قیامت له راتلو څخه وېرول؛ نو ولې یې د جنین د مراحلو اړوند بیان ورته وکړ، یا په بل عبارت ولې یې د داسې علم په هکله دوی ته خبرې کولې، چې دوی یې په هکله هیڅ معلومات نه لرل؛ چون جنین پوهنه په اوسني عصر کې رامنځته شوې ده؟

د دې پوښتنې ځواب هم دا دی چې: په قرآن کریم کې داسې آیتونه شته چې لامل یا تړاو یې د هغه وخت عربان دي؛ مگر قرآن یواځې عربانو ته نه منسوبیږي او نه د هغه عصر خلکو ته؛ بلکې الله تعالی د خپل الوهیت او د محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت د تصدیق لپاره خپل پیغبمر ته داسې یو جامع کتاب (معجزه) ورکړې، چې د ټول عالم او نړۍ لپاره د ورځ تر قیامته پورې رحمت او رهنما دی.

لکه څنگه چې پروردگار په خپله فرمایي:

﴿وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِيۡنَ۝﴾(۲)

ژباړه: او موږ نه یې لیږلی ته؛ مگر په حیث د رحمت د ټولو نړیوالو لپاره. موږ مخکې وویل چې قرآن یو نړیوال او ابدي کتاب دی، څنگه چې

---

۱. الحج: ۵.

۲. الانبیآء: ۱۰۷.

برېښي، یاد آیت ساینسي محتوا لري او نن دور هم د ساینس دی؛ خو ایا د دې ایت مفهوم اوس روښانه شوی؟

هو؛ مارشل جانسن چې د اوسني عصر د جنین پوهنې متخصص ساینسپوه بلل کیږي، د دې آیت په تبصره کې داسې وایي:

«که چېرې موږ جنین په دې مرحله کې د نامکمل جوړښت په توګه یاد کړو، دا به ناسمه وي؛ ځکه ځینې اعضاوې یې پوره جوړې شوي وي او که د بشپړ جوړښت نوم ورکړو، دا هم ناسمه ده، په دې چې ځینې عضوې یې تر دې دمه نه وي جوړې شوي؛ نو د دې مرحلې یا پړاو کومه تشریح چې قرآن کریم کړې ده، تر دې بله غوره تشریح نه شته.»

غرض دا دی چې که چېرې د محمد صلی الله علیه وسلم هغه محسوسې معجزې([1]) چې څوارلس نیمې پېړۍ مخکې به یې د عربو مشرکینو ته ښودلې نه شته؛ مګر قرآن او اعجاز یې لا هم شته او تل به وي، بل دا چې که غیر عرب د دې کتاب حقانیت نه شي درک کولای؛ نو قرآن هغوی ته د علمي او ساینسي دلایلو له لارې خپل حقانیت څرګندوي.

## د قرآن چلینج:

الله تعالی په قرآن کریم کې هر هغه چاته چیلنج ورکړی، چې ادعا کوي دا د انسان خبرې دي، یانې که دوی په خپله دعوه کې رښتیني دي؛ نو یو قرآن ته ورته کتاب دې راوړي، الله تعالی فرمایي:

﴿قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا

---

۱. د معجزو هغه ډول دی چې په پنځه ګونو حواسو د درک وړ وي.

﴿يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا﴾ (۱)

ژباړه: ووايه! كه چېرې ټول انسانان او پېريان سره راټول شي، د دې لپاره چې د قرآن په شان يو كتاب راوړي، دوی به هيڅكله د دې په شان رانه وړي، كه څه هم يو له بله مرسته وغواړي.

بيا الله تعالى هغوی ته چلينج وركړ، چې ادعا يې كوله؛ گويا قرآن د محمد صلى الله عليه وسلم له خوا جوړ شوی، كه دوی رښتيا وايي؛ نو يوائې لس سورتونه دې د قرآن په څېر راوړي؛ خو پرته له دې چې د الله تعالى مرسته ورسره وي.

الله تعالى فرمايي: ﴿أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ (۲)

ژباړه: ايا دوی وايي چې (محمد صلى الله عليه وسلم) دا قرآن له ځانه جوړ كړی دی، ورته ووايه؛ نو تاسې هم لس سورتونه د دې په څېر له خپل ځانه جوړ كړئ او د الله پرته هرڅوک چې كولای شي مرسته يې وغواړئ، كه چېرې تاسې رښتيني ياست.

دا چلينج لا پسې سخت شو؛ كله چې الله تعالى ورته وفرمايل؛ كه لس سورتونه نه شئ راوړلای؛ نو يوائې يو سورت داسې راوړئ چې د قرآن په شان وي.

الله تعالى فرمايي:

﴿أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم

---

۱. الاسراء: ۸۸.

۲. هود: ۱۳.

مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ○﴾(۱)

ژباړه: ايا هغوی وايي چې محمد صلی الله عليه وسلم دا قرآن له ځانه جوړ کړی، ورته ووايه، که رښتيا وايئ؛ نو تاسې هم د دې په څېر يو سورة راوړئ او له الله تعالی پرته چې هرڅوک راغوښتلی شئ راويې غواړئ، که تاسو رښتينې ياست.

دا چلينج د دې لپاره دی چې وښيي نه انسانان، نه پېريان او نه کوم بل مخلوق د قرآن په شان يو کتاب، لس سورتونه يا حتی يو سورة راوړی شي، علت دا دی چې د قرآن بلاغت، فصاحت او په الفاظو کې ژور مفهوم يواځې د الله تعالی له لوري راتللی شي، هيڅوک د الله تعالی په شان نه دي او قرآن د الله تعالی کلام دی.

د قرآن اعجاز د علمي څېړنو، شرعي قوانينو او د هستۍ د حقيقتونو له مخې د وخت په تېرېدو سره لا روښانه کېږي.

## قرآني او ساينسي اسلوب:

د ساينس کتاب هڅه کوي چې خپلې وړاندې شوې نظريې او د هغو اړوند شواهد ښکاره کړي، په مقابل کې قرآن د خالق پيغام دی، خالق په خپل کلام کې د کايناتو تشريح په يوه داسې طريقه کوي چې د ساينس د کتاب له طريقې څخه توپير لري، دا حقيقت چې په قرآن کې د کايناتو په اړه ځينې اساسي څرګندونې له زرګونو کلونو وروسته کشف شوې اودا چې په دې علمي مسايلو کې هيڅ ډول تېروتنه نه ليدل کېږي، ثابتوي چې قرآن د کايناتو د خالق کتاب دی.

---

۱. يونس: ۳۸.

ساینسي کتاب هڅه کوي چې د پوښتنو (ولې؟ څنګه؟ او دڅه لپاره؟) ځوابونه ومومي او خپلې نظریې په شواهدو ثابتې کړي، په داسې حال کې چې قرآن وروستي بیانونه وړاندې کوي.

د علمي طریقې لپاره اړینه ده چې د یو ټاکلي مسیر له مخې خپلې نظریې وړاندې کړي؛ لېکن قرآن یو مستقیم بیان وړاندې کوي.

موږ وینو چې د ساینس طریقه له قرآن سره په بیان کې توپیر لري، د بیانونو په څنګ کې ساینس اړ دی چې خپل علمي مراحل تعقیب کړي، دا د علمي معلوماتو د جوړښت طبیعي پایله ده.

په حقیقت کې قرآن د ځمکې او فضا د څېړنو لپاره هڅونه کوي.

زموږ کوښښ دا دی چې پام راواړوو دې حقیقت ته چې په قرآن کې ساده بیانونه د ساینس له هغو پایلو سره سمون لري چې د څېړنو د ځانګړو مراحلو په تعقیب ترلاسه شوي دي او دا د قرآن د وړاندوینې تحقق څرګندوي.

# دریم څپرکی

# قرآن او د فلکیاتو پوهنه

کاینات څنګه مینځته راغلل؟

لویه چاودنه

ژبنیز تحلیل

د کایناتو اصل

کاینات پراخیږي

د فضا متحرک طبیعت او جاذبي څپې

د جاذبي څپو څرنګوالی

*درېیم څپرکی*

# قرآن او د فلکیاتو پوهنه

**کاينات څنګه مينځته راغلل؟**

**(لويه چاودنه)**

ايا کله مو په دې اړه غور کړی، هغه کاينات چې موږ يې خپل کور بولو، څنګه رامنځته شوي؟

د دې عظيمو او پراخو کايناتو د جوړښت مساله پخوا يو ستر ابهام وو، داسې يو ابهام چې د تېر زمان ساينسپوهان يې پر وړاندې د پوهې له کچې عاجز پاتې وو او هيڅ يې په هکله نه شو ويلای.

البته کوم څه چې وړاندې کېدل تر شخصي نظرياتو او خيالاتو منحصر وو، داسې خيالات چې د مشاهدې او تجربې هيڅ څرک په کې نه معلومېده.

د بېلګې په توګه؛ د ځينو پوهانو دا عقيده وه چې کاينات ابدي او ساکن دي، يانې کاينات پر همدې موجوده شکل پيدا شوي، نه ابتدا لري، نه تغير کوي او نه حرکت لري.

ساينس هم تر دې دمه بلکل چوپ وو، په علمي توګه يې د حقايقو او نظرياتو ترمنځ تفکيک نه شو کولای.


په تاريخي بهير کې د کايناتو د اصل او جوړښت پر تړاو ګڼ شمېر نظريات وړاندې شوي؛ خو د زمانې د تحولاتو او ساينسي پرمختګونو په ترڅ کې له اعتباره لوېدلي او په ټوله کې د بطلان ښکار شوي.

لېکن هغه تيوري چې پرې توافق شوی او نن ورځ په پراخه کچه منل شوې د لويې چاودنې (Big Bang) تيوري ده، د نوموړې تيورۍ د منلو ستر دليل دا دی چې تر شا يې ګڼ شمېر ساينسي شواهد لاس لري، ملاتړ يې کوي او دې تيورۍ ته د حقيقت رڼا ښښي.

د Big Bang تيوري د لومړي ځل لپاره په کال ۱۹۲۰ز کې د دوو مخکښو ساينس پوهانو روسي فلکپوه (Alexandre Friedman) او بلجيمي فزيک پوه (George Lemaitre) له خوا مطرح شوه، د Big Bang تيوري څرګندوي چې کاينات شاوخوا ۸، ۱۳ مليارده کاله وړاندې له خورا شديدې او ګرمې نقطې څخه پيدا شول، چې اندازه يې د اتوم له هستې څخه هم کوچنۍ ښودل شوې(۱)، اکثره ساينس پوهان دا نقطه د کايناتو نطفه بولي.

---

۱. ساينس جديد و قرآن از خلقت تا عدم کاينات.



شکل (۱) الکساندر فریډمن




شکل (۲) جورج لیمبټر

په هر حال؛ د دې تیورۍ لومړی اصل دا دی چې کاینات یو پیل او ابتدا لري، دې خبرې فزیک پوهانو ته هم ځانګړی خوند ورکړ، په دې چې د فزیک د ترموډینامیک له قوانینو سره یې په بشپړه توګه اړخ لګاوه.

همدارنګه د Big Bang ماډل له مخې کاینات په پیل کې ټول یو واحد وو، په ساده اصطلاح ځمکه، آسمانونه او ټول یو له بل سره نښتي وو؛ خو لویې چاودنې دې یووالي ته د پای ټکی کېښود او په ترڅ کې یې

کاينات په ګڼو برخو تقسيم شو.(۱)
چې کهکشانونو، ستورو، لمر، سيارو او ځمکې ته يې وده ورکړه، ترڅو چې اوسنی بڼه يې خپله کړې.




شکل (۴) د کايناتو وده د وخت او تودوخې له مخې


د Big Bang تيورۍ له تاسيس څخه نهه کاله وروسته په کال **۱۹۲۹**ز کې امريکايي وتلي ستورپوه (Adwin Hubble) هم ددې تيورۍ تاييد وکړ او د هغې د علمي شهرت په پراخېدو کې يې مهم رول ولوباوه، دا هغه وخت وو، کله چې نوموړي د يو ستر ټليسکوپ په مرسته وليدل چې کاينات د پراختيا حال لري او پکې موجود ټول اسماني اجرام او کلسټرونه يو له بله په جلا کېدو دي.

له دې مشاهدې څخه ده دا پايله ترلاسه کړه چې که چېرې دا ټول اجسام يو له بله د لرې کېدو حال لري؛ نو دا حتمي ده چې يو وخت به يو ځای راغونډ شوي ول.

---

۱. The first three minutes, a modern view of the ovigin of the universe- 1947- Steven Weinberg USA.

مثلاً؛ زما په لاس کې یو څو شګې دي او زه یې له ځانه لرې غورځوم؛ نو دا شګې چې څومره په هوا کې فاصله طی کوي، هغومره به یې ترمنځ فاصله زیاتېږي، حال دا چې حرکت یې له یوې نقطې یانې زما لاس څخه پیل کړی وو، په ورته ډول په میلیاردونو ستوري او سیارې هم دغه شان یو له بل څخه لرې کېږي او واټن اخلي.
یقینا که موږ په وخت سره شاته لاړ شو، بالاخره داسې یو وخت به هم راشي چېرې چې دوی ټول به په یوې واحدې نقطې کې سره راټول شوي ول([1]) دې نقطې ته پوهان د Big Bang (Singularity) وايي.




شکل (١): له چاودنې تر خلقت

وروسته په کال ١٩٦٥ز کې دوه ساینس پوهانو (Arno Allan Penzias) او (Robert Woodrw Wilson) یو داسې عجیبه کشف وکړ چې د Big Bang تیوري یې پر ساینسي حقیقت بدله کړه.
دوی یو ډول شعاوې چې (Cosmic Microwave Background Radiation) یا CMBR بلل کېږي کشف کړې.

---

١. د کایناتو د پراختیا په بحث کې دا موضوع واضح شوې ده.

نوموړو زیاته کړه چې یادې شعاوې د لویې چاودنې له امله تولید شوي او د همدې چاودنې له پاتې شونو څخه دي.
په کال ۱۹۷۸ز کې دواړو ساینس پوهانو ته د دې کشف پر بنسټ نوبل جایزه ورکړل شوه؛ ځکه دوی په عملي ډول دا ثابته کړه چې د Big Bang پاتې شوني اوس هم په کایناتو کې شتون لري، بناء اوس بیگ بانگ یوه تیوري نه؛ بلکې منل شوی ساینسي حقیقت (Scientific Fact) بلل کېږي.
دا راز چې د علم څښتنانو د شلمې پېړۍ په اوږدو کې رابرسېره کړ، قرآن کریم کابو ۱۴ نیمې پېړۍ دمخه په خورا څرگند او واضح ډول ذکر کړی دی.
الله تعالی فرمایلي:
﴿أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ﴾(۱)
ژباړه: ایا کافران دا نه گوري چې اسمانونه او ځمکه سره یو ځای نښتي وو او بیا موږ جدا کړل او موږ له اوبو څخه هر ژوندی شی پیدا کړی دی.

**ژبنیز تحلیل:**

د «رتق» کلمه چې په عربي ژبه کې د گنډل شوې په توگه هم ژباړل شوې ده، مانا یې «گډېدل» یا «یوځای کېدل» دي.
دا کلمه د دوو بېلا بېلو شیانو د گډ ترکیب لپاره کارول کېږي، چې یو بشپړ جوړښت رامنځته کوي.

---

۱. الانبیآء:۳۰.

د «فتق» کلمه بیا د «جلا کولو» په مانا ده او د هغه حالت څرګندونه کوي چې په هغې کې یو شی د بل شي په شلېدو یا ماتېدو سره رامنځته کېږي، ښه بېلګه یې بوټی کېدای شي، چې د ځمکې له درز یا پرې کېدو څخه راووځي.
په یاد آیت کې اسمان او ځمکه په لومړي حالت کې د «رتق» په وضعیت کې وو، بیا دوی جلا کړی شول. «فتق».[1]
نو اوس که هر څوک بې پرې او په عدل ولاړ قضاوت سره دا موضوع وڅېړي، دا به ومني چې یو داسې انسان چې د لیک او لوست له هنر هم بې برخې وو، څنګه یې وکولای شول ترڅو دومره ستر ساینسي حقیقت رابرسېره کړي.
لکه څنګه چې دا ناشونې ده؛ نو موږ ته راپاتې یواځې یو بدیل دی، هغه دا چې دا کتاب (قرآن) الهي وحی او محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر او استازی دی.

## د کایناتو اصل:

د لویې چاودنې لومړني اټومي ترکیب[2] (Primoridial Nucleosynthesis) له آدرسه د فلکیاتو پوهان وایي چې کله کایناتو یواځې یوه ثانیه عمر درلود؛ نو هغه وخت یې د تودوخې درجه کابو ۱۰

---

۱. Scientific Trutbs and the quran, 2nd edition, Page 18- UK Birmingham- 2006.
۲. دا کلمه له دوو یوناني کلمو جوړه شوې چې «Nucleo» په مانا د هستې او «Synthesis» په مانا د یو ځای کېدو یا ترکیب دی او په اصطلاح کې یوه داسې پروسه ده چې په کې د اتومونو هستې یو ځای کېږي او نوي عناصر جوړوي.

میلیارده کلوینه Kelvin وه، دوی په دې باور دي چې د کهکشانونو له جوړېدو وړاندې هیلیم، هایدروجن او لیتیم څخه جوړو شویو گازي کتلو شتون درلود([1]) چې ابتدایي وریځې یا (Primary Nebula) ورته ویل کېږي، لنډه دا چې همدغه مهال د دود او پلازما څخه پرته بل څه نه وو.([2])

ساینس پوهانو په پیل کې دغو لومړنیو موادو ته د گاز کلمه کاروله؛ خو د وروستیو څېړنو له مخې جوته شوه چې د «گاز» په پرتله د «دود، لوگي» یا «Smoke» کلمه خورا دقیقه علمي او مناسبه ده، په دې چې هغه وخت د تودوخې کچه ښخي زیاته وه.([3])



شکل (۷): کیهاني لوگي

حتی تر ننه پورې نوي ستوري د تیاره او یخو مالیکولي وریځو ترمنځ

۱. قرآن عظیم الشان او معاصر علوم، شریف رحماني، مخ ۱۱۷، جلال آباد – ۱۴۰۱ل.

۲. Weinberg, The first three minutes- a moder view of the origin of the universe, Page: 94-105.

۳. The quran and Modern science compatible or incompatible, Dr. Zakir Naik P:12.

جوړېږي، چې ترکیبي مواد یې له (Interstellar Medium) څخه عبارت دي، زیاتره برخه یې د خنثی او ایونایزد (چارج لرونکي) هایدروجن او هیلیم تشکیلوي.[۱]

د دې علمي څرګندونو ژور تحلیل ښیي چې ټول کهکشانونه ستوري او سیارې د همدې دود یا لوګي څخه منځته راغلي دي.

د لږ څه غور په ترڅ کې به درته روښانه شي چې دا خبره په خپله د دې سپیناوی کوي، چې ځمکه او اسمانونه په لومړیو کې یو له بل سره تړلي او د یوې واحدې هستۍ په بڼه موجود وو، د فلکیاتو دغه ستر ساینسي حقیقت چې پوهانو په دې وروستیو کې را څرګند کړ، قرآن کریم ورته ۱۴ نیمي پېړۍ دمخه د اشارې په ترڅ کې فرمایي:

﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ﴾[۲]

ژباړه: بیا الله د آسمان لورته اراده وکړه، په داسې حال کې چې هغه محضې لوګی وو، هغه اسمان او ځمکې ته وویل منځته راشئ، په خپله خوښه یا په زور سره (ناخوښه) دواړو وویل موږ منځته راځو په خپله خوښه.

ډاکټر الفریډ کرونر (Dr. Alfred Kroner) چې په نړیواله کچه یو له وتلو ځمکپوهانو څخه دی، همدا راز په المان کې د یوهانز ګوتنبرګ په پوهنتون کې د بیولوژۍ څانګې مشر او استاد دی هم، نوموړی په خپلو

---

۱. ISM د هغو موادو ټولګه ده چې د کهکشان په دننه کې د ستورو ترمنځ موجوده ده، دا ماده په عمده ډول له ګازونو، دوړو او پلازما څخه جوړه ده.

۲. فصلت: ۱۱.

څرګندونو کې په دې اړه وایي:
«دا تصور تقریباً ناممکن ښکاري چې محمد صلی الله علیه وسلم دې د خپل وخت په هغه ساده چاپېریال کې د کایناتو د اصل په تړاو پوهه لرلې وي؛ ځکه دا ډول موندنې یواځې د ډېرو پرمختللیو او پېچلو مېتودونو له لارې په دې وروستیو کلونو کې ترلاسه شوي دي.»(۱)
همدارنګه په دې هکله د پروفیسور یوشیدي کوسان (Prof. Yushid Kusan) تبصره او نظره هم د پام وړ دی، دا چې نوموړی یو معتبر فلکپوه دی، نو یو وخت ورته د قرآن کریم ځینې هغه آیتونه وړاندې شول چې د کایناتو او په تېره بیا د فلکیاتو په باب په کې ذکر او بیان راغلی وو.
پروفیسور کوسان د قرآن کریم د کاسمولوجیکي څرګندونو د تایید سربېره پرې یوه په زړه پورې تبصره هم وکړه او ویې ویل:
«زه ډېر متاثره شوم، کله مې چې په قرآن کریم کې د ستور پوهنې اړوند دقیق حقایق وموندل، زموږ په څېر د عصري ستورپوهانو لپاره چې د کاینات یوه کوچنۍ برخه مطالعه کوو، خپلې ټولې هڅې هم په یوې کوچنۍ او مشخصې برخې کې متمرکزې کوو او دا ځکه چې د ټېلسکوف په کارولو یو څو د ګوتو په شمار برخې وینو، پرته له دې چې د ټول کاینات په هکله فکر وکړو؛ خو د قرآن کریم په لوستلو او پوښتنو ته د ځوابولو سره زه دا فکر کوم چې د کایناتو د تحقیق لپاره خپله لار پیدا کولای شم.»(۲)
رښتیا هم په قرآن کریم کې د کایناتو په باب داسې بېلا بېل او هر اړخیز توضیحات بیان شوي چې پرته د ټول کاینات له لیدلو یې یادونه ناشونې ده.

---

۱. Video Link (Prof. Alfred Kroner).

۲. Video Link on Youtube (Prof- Yushidi Kusan...).

**کاینات پراخېږي**

وړاندې له دې چې ټاکلي بحث ته راشم دا راته ښه ښکاره شوه چې پیل یې له تاریخي زاویې وکړو، تاریخ څرګندوي چې لرغوني یوناني پوهان له یوې پېچلې معما او ستر تناقض سره لاس او ګرېوان وو.

تناقض دا وو چې دوی فکر کاوه، کاینات یا باید محدود وي یا نامحدود، لېکن دواړو مفکورو ځانته کړکېچونه لرل، د بېلګې په توګه که یې کاینات محدود ګڼلي وای؛ نو بیا دا پوښتنه راولاړېده چې که یو څوک د دې کایناتو له پولې هاخوا تېر شي؛ نو هغه به کوم ځای وي؟

یا په ساده اصطلاح که یو څوک خپل لاس د دې کایناتو له پولې بهر یوسي؛ نو دا لاس به چېرې ولاړ شي؟

او په عین حال کې د بې پایه کایناتو خیال هم ورته د فکري منطق په تله کې برابر نه برېښېده.

وروسته د ۱۸۰۰ کلونو په بهیر کې هنریچ اولبرز (Henrich Olberz) له یوه نوي استدلال سره راښکاره شو، نوموړي وویل چې د نامحدود کاینات په صورت کې به هرې لورې ته د نظر پای یو ستوری و، په دې توګه باید د شپې تیاره اسمان لږ تر لږه د یوه ستوري هومره ځلانده وای.

خو له بلې خوا د نیوټن د جاذبې قانون یوه بله مساله راپورته کړه، هغه دا چې که کاینات محدود فرض کړل شي؛ نو د ټولو اجسامو د جاذبې متقابل ځواک د اغېز له کبله به تر دې دمه درست کاینات راټول شوي او هم مهال به له منځه تللي وای.

د دې خبرې یوه ساده بڼه ښایي داسې وي چې د اجرامو ترمنځ متقابلې جاذبې قوې باید تر دې دمه ټول کاینات راټول او سقوط کړي وای.

په هر حال؛ ورپسې د البرټ انشټاین نوبت راورسېد، نوموړي په پیل کې

د دې محدود او نامحدود تناقض د حل په موخه د کیهاني ثابت (Cosmological Constant) په نوم یوه فرضیه معرفي کړه، یوه داسې فرضیه چې د یوه جامد او نه بدلېدونکي کایناتو انځور یې وړاندې کاوه.
مګر د هغه د عمومي نسبت تیورۍ (General Theory of Relativity) څرګنده کړه، چې کاینات نه شي کولای په یوه ثابت حالت کې پاتې شي؛ بلکې برعکس د یادې تیورۍ له مخې د کایناتو بقا یواځې د پراخېدو یا راټولېدو په حالت کې شونې ښودل شوې وه.
مګر څه وخت چې د عمومي نسبت تیوري د فلکیاتو په څېړنه کې پلي شوه او ورسره د ریډشفټ رنګي طیف (Redshift Spectrum) له برکته د کهکشانونو ترمنځ د فاصلې د ډېرېدو حقیقت راڅرګند شو؛ نو انشټاین صراحتًا اعتراف وکړ چې د کیهاني ثابت فرضیه یې د پوهنیز ژوند یوه ستره تېروتنه وه.([1])
د دې مخینې په رڼا کې جوتېږي، چې حتی ښاغلی البرټ انشټاین هم په لومړي سر کې د کایناتو پر ساکن او جامد طبیعت باور درلود.
د هغه له وړاندوینې وروسته په کال ۱۹۲۰م کې د بیګ بانګ بنسټ ایښودونکو فریډمن او لیمیټر هم د کایناتو وسعت تایید کړ، اما دا باید په یاد ولرو چې تر دې مهاله هرڅه نظري بڼه درلوده، کوم داسې اساس یې نه درلود چې دې نظریې ته د یوه ساینسي حقیقت رنګ ورکړي.
لېکن دې حقیقت هغه وخت په علمي او مشاهدوي توګه خپل پوره اعتبار لاسته راوړ، څه وخت چې امریکایي ستورپوه اډوین هبل، چې د تېر سکالو په اوږدو کې یې هم یادونه شوې په کال ۱۹۲۹ز کې د یو ستر

۱. زعلول الخبار، اسماء في القرآن، مخ ۷۵.

ټیلسکوپ په مرسته ولیدل چې د کهکشان ستوري او په کې موجود ټول کلسټرونه یو له بله په خورا سرعت سره لرې کیږي.(١)

اصلا همدا د رنګین طیف مشاهده وه، کومې چې وکولای شول حقیقت له نظریې او سم له ناسم څخه بېل کړي.



شکل (٦): اډوين هبل


ښايي د کایناتو د پراختیا اړوند مو په ذهن کې د پوهاوي په منظور ځینې پوښتنې راولاړې شوې وي؛ خو زه به هڅه وکړم ترڅو د یوه ډاډمن وضاحت لپاره یو ساده مثال درکړم:

که چېرې تاسې یوه پوکانۍ راواخلئ او فرض کړئ چې کاینات د پوکانۍ سطحه ده؛ نو تاسې د یوه قلم په څوکه د پوکانۍ پر سطحه یو څو داسې نقطې کیږدئ چې یو له بل سره نږدې وي.

کله چې تاسې همدې پوکانۍ ته هوا ورکړئ؛ نو پوکانۍ به وپړسیږي او ورسره به ایښودل شوې نقطې هم یو له بله جلا او لرې شي، څومره چې تاسې پوکانۍ ته زیاته هوا ورکړئ، هغومره به د پوکانۍ حجم زیاتیږي او ورسره به د ټکو ترمنځ واټن هم زیاتیږي؛ خو که چېرې تاسې پوکانۍ

١. Islam Web.net- https//:www.islamweb.net.

له هوا خالي کړئ؛ نو ورو – ورو به د نقطو ترمنځ فاصله کمېږي، تردې چې خپله پخوانۍ بڼه خپله کړي.
بلکل همدغه شان ساينس پوهان هم وايي چې کاينات په پيل کې ډېر کوچني وو، حتی دومره چې اسمانونه، ستوري، لمر، سيارې او ځمکه ټول د يوې واحدې هستۍ په بڼه سره نښتې وو.
بنا پر دغه دلايلو موږ داسې هم ويلای شو چې يو کال د مخه کاينات د اوسني کاينات په پرتله کوچني وو او يا د راتلونکي کال کاينات به د اوسني په پرتله ستر وي.



شکل (۵): د چاودنې راهيسې د کايناتو پراختيا

که په شا ولاړ شو، يانې داسې ووايو چې دوه کاله پخواني کاينات د تېر کلني په پرتله کوچنی وو او درې کاله مخکينی بيا د دوه کاله مخکيني څخه او همداسې محاسبه پرمخ يوسو؛ نو يو وخت به کاينات دومره کوچني شي چې ځمکه او آسمانونه به سره يو ځای ونښلي.
دا کشف د فلکپوهنې په تاريخ کې د لويو او مهمو کشفونو په ليکه کې ځای لري؛ لکه څنګه چې د نړۍ نوموتی ساينس پوه (Stephen Hawking) په خپل کتاب (Brief History of Time) يا د وخت

مختصر تاریخ کې لیکي:
«د کایناتو د پراخېدنې کشف او موندنه د شلمې پېړۍ یو ستر کشف دی.»(۱)
که راشو قرآن کریم ته رجوع وکړو او هغه ایتونه تر غور لاندې ونیسو، چې د کاینات اصل بیانوي؛ نو بې له شکه د دې موضوع څرګندونه به هم پکې په خورا واضح او صریحه بڼه ومومو.
الله تعالی فرمايي:
﴿وَالسَّمَآءَ بَنَيْنَٰهَا بِأَيْيدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ۝﴾(۲)
ژباړه: او موږ اسمانونه په قوت سره جوړ کړي دي او په حقیقت کې موږ یې پراخوو هم.
د قرآن عظیم الشان د نزول پرمهال چې نوي وسایل لا نه وو کشف شوي، د دغه آیت کریمه پر مفهوم پوهېدل په حقیقت کې ستونزمنه وه، زیاترو مفسرینو د «موسعون» مانا په «قادرون» یانې موږ پرې قادره یو کړې ده؛ مګر اساسي مفهوم یې د پراختیا په مانا دی.
اوس د فکر ځای دا دی چې دا هغه ساینسي حقیقت دی، چې د شلمې پېړۍ دمخه یې په هکله چا تصور نه شو کولای او نه یې درلود، په داسې حال کې چې قرآن کریم ۱۴نیمې پېړۍ دمخه ذکر کړی دی.

## د فضا متحرک طبیعت او جاذبي څپې!

د فلکیاتو معاصر علم وايي چې فضا متحرک، خوځنده یا ډینامیکي

---


۱. Stephen Hawking – Brief History of Time Ch-3 Bantam Books (USA)-1988.
۲. الذاریات: ۴۷.

طبيعت لري، په دې مانا که فرضا د هستۍ ټول محسوس او ملموس اجسام د ځمکې، سيارو، ستورو او کهکشانونو له سترو عظمتونو نيولې، تر کوچنيو ذراتو او اتومي واحدونو پورې ټول محوه او حذف شي؛ نو څه فکر کوئ چې د دې صحنې په پای کې به کوم څه پاتې شي؟
يا په بل عبارت آيا وروسته له دې به هم کوم څه وجود ولري؟
ممکن ځواب مو دا وي چې «هيڅ» که رښتيا هم همدا مو ځواب وي؛ نو تاسې کاملاً ناسم ياست او ځواب مو اشتباه دی.
ځکه لا هم يو څه پاتې دي او وجود لري، يو نامرئي خاموش او وسيع وجود چې د خالي يا تشې فضا (Empty Space) په نومونو يادېږي.
د خالي فضا مفهوم ته د «هيڅ» (Nothing) اصطلاح کارول ناسمه او غير ساينسي ده؛ ځکه د علمي اصولو له مخې فضا که څه هم خالي بلل کېږي، ولې هيڅکله د «هيڅ» مترادفه نه ده؛ بلکې خالي فضا د يو لړ داسې فزيکي ځانګړتياوو لرونکې ده، چې اجازه نه راکوي، ترڅو موږ يې په (Nothing) حساب کړو.
د فضا دا ځانګړتياوې عبادت دي له:
١. فضا د غځېدلو او پېچېده (Twist) کېدلو وړتيا لري.
٢. فضا انحنا (Curvature) رامنځته کولای شي.
٣. فضا کولای شي د يو محرک په واسطه څپې ايجاد او خپرې کړي.(١)
په همدې بسنټ اوسني ساينس پوهان دا تاييدوي چې مطلقه خالي فضا شتون نه لري؛ بلکې د کايناتو هره برخه د کوانتومي تشو (Quantum

---

١. www.science.org – chrateristic of empty space.

(Vaccum) له فزیکي پدیدو څخه ډکه ده.[۱]



شکل (۸): په دې انځور کې د فضا-وخت نازک بدلون وینئ چې د لمر او ځمکې د کتلې له امله رامنځته شوی

د فضا متحرک طبعیت د جاذبي امواجو له لارې چې د اسماني اجرامو د حرکت په ترڅ کې رامنځته کیږي، خورا ښه وضاحت مومي.

په بل عبارت؛ د دې لپاره چې د فضا یا د طبیعت په هکله سم درک واخلو؛ نو غوره ده چې د اسماني اجرامو د حرکت په بحث نظر واچوو، چون د دوی خوځښت د فضا د ډینامیکي طبعیت اساسي محرک دی.


دا به مو اوریدلي وي چې په فضا کې درست (ټول) اسماني اجرام د حرکت حال لري؛ خو ښایي دا درته نوې وي، چې همدغه اجسام د خپل حرکت سره سم د فضا په جوړښت (Fabric) کې یو ډول څپې رامنځته کوي، چې دغه څپې د جاذبي څپو په نوم یادیږي.

جاذبي څپې د فضا وخت (Space Time) په جوړښت کې هغه ګډوډۍ دي چې د سترو او سرعت اخیستونکو اجرامو له خوا رامنځته کیږي او د

---

۱. Physicist observe weird quantum fluctuations of empty space – maybe – Adrian CHO-(1Oct-2015) www.science.org

رڼا په تېزۍ سره له خپلې سرچینې بهر ته خپرېږي، دا څپې نه لیدونکي؛ اما په حیرانوونکي ډول خورا ګړندۍ دي.



شکل (۹): انځور د ځمکې د کتلې له امله د فضا په جوړښت کې رامنځته شوی ژوروالی ښيي، چې له امله یې سپوږمۍ د ځمکې په مدار کې حرکت کوي.

که څه هم د جاذبې څپو وړاندوینه، البرټ انشټاین په کال ۱۹۱٦ز کې د خپلې نسبیت تیورۍ پر بنسټ کړې وه؛ لېکن هغه مهال دا یواځې یوه وړاندوینه وه، یوه نظریه او اټکل چې هیڅ عملي او تجربوي ادرس یې نه درلود.

خو د ۲۰۱٦ز کال د فبرورۍ په ۱۱مه نېټه ډیوېډ ریټز (David Reitze) چې د (Laser Interferometor Gravitational Wave Observatory) ادارې اجرایوي مدیر و، راپور ورکړ چې څېړونکو جاذبې څپې موندلې دي، کومې چې د دوو تورو سوریو د یو ځای کېدو په نتیجه کې رامنځته شوې وې.[1]

دې راپور پسې متصل ناصا (NASA) هم خپله رسمي اعلامیه خپره کړه

۱. LIGO Caltech- www.ligo.caltech.edu

او زیاته یې کړه: «البرټ انشټاین نظریه ورکړې وه، چې کله اجسام د فضا په اوږدو کې حرکت کوي؛ نو دوی خپل شاوخوا ته د فضا په جوړښت کې یو ډول خپې جوړوي، بلکل هغو خپو ته ورته چې یوه تیږه یې په اوبو کې د غورځولو پر مهال جوړوي.»(۱)

دا په ټولو حسابونو کې یوه تاریخي موندنه او د ښاغلي انشټین ستره وړاندوینه چې د سلو کلونو راهیسې وه تایید شوه.

د جاذبې خپو پر تړاو امریکایي پروفیسور او استروفزیست (Alex Fillipenko) څرګندوي: «که تاسې دوه داسې اجسام ولرئ، چې هر یو یې خپله شاوخوا فضا انحنا کړې اوسي او دواړه یو بل ته په مدارونو کې څرخي؛ نو په پایله کې به دغه منحني شوې (Curved) سیمې د فضا په جوړښت کې یو څپاند بدلون راولي، دا خپې د فضا له بڼې سره سم دباندې خپرېږي او له ځان سره انرژي لیږدوي، بلکل همدا جاذبي خپې دي.»(۲)

## د جاذبې خپو څرنګوالی:

د جاذبې خپو څرنګوالي په باب امریکایي ستورپوهه میشل تالر (Michel Thaller) وایي: «زه په واقعي مانا وایم، تاسې کولای شئ د فضا وخت په هکله فکر وکړئ، په فضا کې جاذبي خپې کټ مټ سمندري خپو ته ورته دي، چې په کایناتو کې سفر کوي.»(۳)

دغه راز ناسا هم په خپله اعلامیه کې په ورته توګه ویلي:


---

۱. NASA Jet Propulsion Laboratory – www.JPI.nasa.com – 2016/11/Feb.

۲. Video link (Alex Fillipenko)

۳. Video Link (Michel Thaller)

«کله چې یوه ستره بېړۍ په سمندر کې حرکت کوي؛ نو اوبه د بېړۍ د تګ له امله شاوخوا سیمو ته ځان رسوي (تېښتي)؛ مګر څه وخت چې اوبه بېړۍ ته لار پرېږدي، یو ډول څپې رامنځته کوي، په اوبو کې د بېړۍ د سفر په څېر درانه شیان په فضا کې حرکت کوي او د اوبو په څېر څپې ایجادوي، موږ دې څپو ته جاذبي څپې وایو.»[1]



شکل (۱۰): د دوو اجسامو لخوا د جاذبي څپو ایجاد.

ښایي دې وضاحت څه ناڅه د فضا متحرک طبعیت او جاذبي څپو د پوهاوي اړوند درسره مرسته کړې وي، له همدې امله ځای یې بولم چې یوه پوښتنه درڅخه ولرم.

پوښتنه داسې ده چې: کله زه د ستورمزلي (Astranouts) کلمه اخلم، په ذهن کې مو لومړی څه راځي؟

زه داسې ګومان کوم چې ستاسې ځواب به لامبو وهل نه وي، سمه ده؟

ځکه چې ستورمزلي فضا ته الوت کوي، چې دا د سمندر په لور د ډوبېدو دقیقا برعکس ده.

مګر ایا په دې پوهېدئ چې یو ستورمزلی باید یو ښه لامبو وهونکی وي؟

---

۱. Video link (NASA)

ولې باید ستور مزلی په لامبو وهلو کې ماهره وي؟
څکه د ناسا په وینا: «په فضا کې بې وزنۍ ته د تطابق کولو احساس په اوبو کې د لامبو وهلو (شنا کېدلو) سره ډېر ورته والی لري.»([1])
ساده ژبه به دا خبره ښايي داسې بيان کړي، چې په فضا کې ټول حرکات د لامبو وهلو په بڼه دي، هغه که د انسان له خوا وي او يا هم د کوم بل اسماني جسم، په همدې اساس ناسا یو ستر حوض تاسیس کړی چې د المپيکي حوض په پرتله ۱۰ ځلې لوی دی، ستورمزلي په دغه حوض کې د فضا د تګ لپاره تمرينات کوي، داسې چې ګواکې دوی په فضا کې دي، دا حوض د (Neutral Buoyancy LAB) په نوم يادېږي.
ستورمزلي په خپلو بشپړو فضايي جامو کې هلته هغه دندې ترسره کوي، چې له دوی يې په فضا کې د سرته رسولو تمه کېږي.([2])



شکل (۱۲): فضا ته د تګ لپاره په اوبو کې د ستورپوهانو روزنه.

---

۱. What is a space walk – www.nasa.gov

۲. NBL – Wikipidea 2 (nasa.gov)

جاذبي څپې چې د فضا متحرک طبعیت تاییدوي، په کال ۲۰۱۵ز کې د LIGO امریکایي ادارې له خوا کشف شوې[۱]؛ مگر دې حقیقت ته ۱۴نیمې پېړۍ دمخه قرآن کریم اشاره کوي:

﴿وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۭ كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ۝﴾[۲]

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې پیدا کړې یې شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ ده، هر یو په خپل مدار کې لامبو وهونکي دي.

هغه کلمه چې موږ د هر یو په توگه ژباړلې «کل» ده.

په عربي ژبه کې د «تثنیه» وروستاړي «لاحقې» هغه مهال کارول کېږي، کله چې جمله دوه شیان تعریفوي.

په دې ایت کې د دوو اسماني اجسامو یانې لمر او سپوږمۍ یادونه شوې ده؛ مگر دا چې ولې د «تثنیې» لاحقه نه ده کارول شوې، مانا دا چې له دوو زیاتو شیانو ته نغوته شوې.

همدا راز «فلک» هغو مدارونو ته ویل کېږي چې ستوري او سیارې په کې حرکت کوي، ښکاري چې هره کلمه او لاحقه په ډېر دقت سره کارول شوې ده، د «شنا کولو» لپاره معادله کلمه «سبح» ده.

ډاکټر موریس بوکای (Dr. Maurice Bucaille) په دې هکله لیکي: «د لمر، سپوږمۍ او ځمکې د حرکاتو ترمنځ همغږي په دې ډول

---

۱. د جاذبې څپو کشف په ۲۰۱۵ کې وشو؛ خو رسما اعلان یې په ۲۰۱٦ کې وشو.

۲. الانبیآء: ۳۳.

څرګندېدلی شي:
په عربي ژبه کې فعل «سبح» د یوه څیز د خپل حرکت له لارې د انتقال لپاره کارېږي، د دې فعل ټولې ماناوې د انتقال په مفهوم کې راټولېږي، چې په هغه کې د څیز خپلواک حرکت مطرح وي.
که دا حرکت په اوبو کې وشي؛ نو د «شنا کولو» فعل ته اشاره کوي او که په ځمکه کې وي؛ نو د هماغه څیز د قدمونو حرکت ته اشاره کوي؛ خو که دغه حرکت په فضا کې ترسره شي؛ نو یواځې د دې کلمې په اصلي مفهوم تشرېح کېدای شي، له همدې امله «سبح» باید د یو خپلواک حرکت په توګه تعبیر شي.



شکل (١١): انځور، په فضا کې مېشت یوه ډله ساینس پوهان رابښیي چې د لامبو وهلو په بڼه حال او حرکت لري.

یاده کلمه د لمر او سپوږمۍ د خپلواکو حرکتونو لپاره کارول شوې، چې د وروستیو علمي موندنو سره سمون لري، دا حقیقت په ۷مه پېړۍ کې د یوه انسان له خوا که هغه هر څومره پوه هم وای، تصور کېدای نه شو.»([1])

١. https://quran.miracles.com

دا واقعا د فکر ځای دی چې په هغه دور کې محمد صلی الله علیه وسلم څنګه په دې پوهېده چې په فضا کې د اجسامو حرکت په څپه ايزو جريانونو کې سرته رسېږي او بيا دا چې سمندريزو څپو ته ورته دي؟

# خلورم څپرکی
# قرآن او ستورپوهنه

نبضاني ستوري

د پلسر درک

د ستورو مړینه او تور سوري

د لمر حرکت

*څلورم څپرکی*

# قرآن او ستورپوهنه

## نبضاني ستوری:

الله تعالی د الطارق په سورة کې فرمايي: ﴿وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ○ وَمَآ أَدْرٰكَ مَا الطَّارِقُ ○ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ○﴾[1]

ژباړه: او قسم دی په آسمان او د شپې په راتلونکي او ته څه پوهېږې چې د شپې راتلونکی څه شی دی، يو ځيروونکی (نفوذ کوونکی) ستوری.

د الطارق سورة په لومړيو آيتونو کې د «طارق» کلمه د «طرق» له ريښې څخه اخيستل شوې، چې په شدت سره د وهلو او اواز جوړولو مانا لري، که په دې ايت کې په احتمالي توګه د نبض الوتلو مانا ولري؛ نو په يوه

1. الطارق: ١-٣.

ستر علمي حقیقت دلالت کوي، په وروستي آیت کې فرمایي: چې طارق هغه ستوری دی، چې په شپه یا تیاره کې پیدا کیږي او نفوذ کوي، وړاندې ځي او نبضان لري، په ځانګړي ډول ورسره مل قسم هم یاد شوی، چې یوه ژوره علمي موضوع په بر کې نیسي.(۱)

په همدې بنسټ ځینې داسې پوښتنې او ټکي شته چې د دې بحث په اوږدو کې به مطرح او شرحه شي:

۱. د طارق ستوری څه ډول ستوری دی؟

۲. ایا علمي نړۍ هم په دې اړه کوم څه لري؟

۳. ولې الله تعالی پرې قسم یاد کړی؟

۴. په دوهم آیت کې د طارق ستوري د درک په باب استفهامي اړخ څه مانا افاده کولای شي؟

په کال ۱۹٦۷ز د نومبر په ۲۸مه انګلیسي څېړونکي جوسلین بېل (Jucelyn Bell) د یوې څېړنې په ترڅ کې په تصادفي توګه یو منظم ثابت رادیویي سیګنال وموند، کشف شوي څیز یو داسې منظم ټکان هم کاوه چې د زړه ټکان ته ډېر ورته وو.

تر دې مهاله داسې نبضاني شی په کایناتو کې نه وو پېژندل شوی؛ نو په دې خاطر په لومړیو کې خو داسې انګېرل کېده چې ښایي دغه سیګنالونه د نورو سیارو د هوښیارو موجوداتو له خوا خپاره شوي وي، له همدې امله د بلنې کارتونه چاپ شول، رسنیو ته خبرتیا ورکړل شوه او تردې چې یو سیمینار هم دایر شو.

۱. د قرآن علمي اعجاز، مخ: ۸۱، هارون یحیی، مستقبل – کابل.


دا ټول د دې لپاره چې د (Little Green Men)(١) اصطلاح اشاره دې ته کوله چې هوښیار مخلوق د رادیویي سیګنالونو له لارې کشف شوی او اړیکه ورسره نیول شوې ده؛ خو ډېر ژر څرګنده شوه چې د کشف شویو سیګنالونو اصلي سرچینه یو ډول څرخېدونکی نیوتروني ستوری دی، داسې یو جسم چې د څرخېدنې چټکتیا یې خورا زیاته ده.
په همدې کال ستورپوهانو روښانه کړه چې کله د یوه ستوري هسته په خپل ځان کې ډېره متکاثفه او فشرده شي، د خپل ځان شاوخوا په څرخېدو راځي او مقناطیسي ساحه یې خورا غښتلې کېږي، ورپسې یې د داسې اجسامو په موندنه لاس پورې کړ، چې په خورا چټکۍ سره تاوېدل او قوي رادیویي څپې یې د یو مخروط په بڼه له خپل ځان نه خپرولې، په دې سره دا خبره لا ډاډمنه شوه چې د کشف شوي سیګنال سرچینه د نیوتروني ستورو څرخېدل دي.(٢)



شکل (١٣): سوپرنووا چاودنه

١. LGM د یوې اصطلاح په توګه د هغو خیالي موجوداتو لپاره کارول کېږي چې د ځمکې څخه بهر ژوند کوي، دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ١٩٥٠م کال کې د علمي افسانو او فضایي مخلوقاتو لپاره چې کوچنې بدنونه او شنې سترګې لري وکارول شوه.
٢. تېر شوی ماخذ، مخ ٨١.

دا چې په منظم ټکان کولو سره یې شهرت وموند؛ ځکه ورته پلسر (Pulsar) ویل شوی.(١)



شکل (١۴): نبضاني ستوری

پلسر ستوري چې د سترو ستورو د چاودنې په پایله کې منځته راځي، ځیروونکي، روښانه، زیاته کتله او چټک خوځښت لرونکي دي، ځینې د هغوی حتی ٦٠٠ ځله په یوه ثانیه کې په ځان راڅرخي.(٢)

د Pulsar کلمه د Pulse له ریښې څخه اخېستل شوې، چې د ضربان مانا لري.

د امریکن هیرټیج قاموس (American Hertaige Dectionary) له مخې ددې کلمې مانا «ضربان» یا «درزا» ده.(٣)

د انکارټا قاموس (Encarta Dectionary) د دې کلمې ژباړه داسې

---

١. Zahra Ashfaq – knocking star from quran discovered by NASA – https://theislamicfoundation.com – pub- Sep.7.2023

٢. Astrophysics data system – pub June 2006 – bicode (2006 AAS 20720907H)

٣. American Hertaige Dictionary- https://ahdictionary.com

کوي: په «منظمه توګه ټکېدل»، یا «په منظم ریتم سره درزا کول».[۱]
له دې کشف وروسته پوهانو څرګنده کړه چې په قرآن کې د طارق په نوم یاد شوی ستوری د نیوتروني یا پلسار ستورو ته اشاره کوي.
د یادولو وړ ده چې د «طرق» لفظ د «دروازې ټکولو» یا په «ځټک سره د یو څه وهلو» په مانا هم راتلای شي. [۲]
عجیبه خو دا ده که چېرې تاسې پر انټرنیټ د پلسار ستوري غږ واورئ؛ نو کټ مټ د دروازې ټکولو غږ ته ورته دی.

**د پلسر درک:**

د طارق سورة په درېیم آیت کې د «ثاقب» کلمه «نفوذ» یا «سوري کولو» په مانا سره دا راښايي چې ستوري په تیاره کې نفوذ کوي او تیاره څیروي، د لویو ستورو له زوال څخه جوړ شوي نبضاني ستوري داسې اسماني اجرام دي، چې پوهېدل پرې څه اسانه کار نه دی.
وروستۍ څېړنې ښيي چې د پلسار یوه قاشوغه مواد په ملیونونو ټنه وزن لرلی شي، که یې ډېره کمه اندازه هم په ځمکه کېښودل شي؛ نو د خپل ثقیل وزن او لوړ کثافت له کبله به د ځمکې مخ څیرې او ژورو برخو ته ننوځي. [۳]
حال دا چې د ځمکې پرمخ د موادو یوه قاشوغه وزن ډېر لږ وزن لري، یواځې یو څو ګرامه.

---

۱. Encartay Dictionary.com

۲. Bab.la-https://en.bab.la

۳. Cosmos – Swinburne Astronomy, The SAO Encyclopedia of Astronomy (Stellar Evolution) – Swinburne University.

دوهم دا چې پلسار ستوري هغه وخت منځته راځي، څه وخت چې د لمر په پرتله څو چنده د لويو ستورو هستې متراکمې او متکاثفې شي او د ډېر لوړ فشار له کبله چاودنه وکړي؛ خو که له ځمکې سره هم همداسې وشي؛ نو د څو مترو په قطر سره يوه کوچنۍ کره به پاتې شي.
درېيمه خبره دا ده چې ځمکه په خپل محور کې يو مکمل وضعي حرکت په هرو ۲۴ ساعتونو کې بشپړوي؛ خو پلسار بيا په يوه ثانيه کې څو ځله څرخي، حتى پوهان په دې باور دي، چې ځينې پلسارونه په هره ثانيه کې ٦۰۰ ځله هم څرخي.
دا هرڅه ددې ښکارندويي کوي چې رښتيا هم د دې ستوري درک او تصور څومره ستونزمن دی.
ځکه خو الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ﴾[۱]

## د ستورو مړينه او تور سوري:

شلمه پېړۍ د نورو علومو په څېر د ستور پوهنې په باب هم د ګڼو ستوريزو پېښو او نهاني پديدو د کشف شاهده وه، په دې لړۍ کې د ساينسي کشفياتو له منځه تر ټولو ستر او د حيرت وړ کشف د ستورو مړينه وه، که څه هم دا يوه اوږده او ژوره پروسه ده؛ خو که په لنډو ټکو يې ووايو، دا هغه مهال پېښېږي، کله چې يو ستورى خپله انرژي په بشپړ ډول وبايلي، له دې امله ستورى خپل ثبات له لاسه ورکوي او د بې ثباتۍ ښکار کېږي، هماغه وي چې په ځلا کې يې په تدريجي توګه کمښت راځي، تر دې چې د يوې لويې چاودنې په ترڅ کې دړې وړې شي،

---

۱. الطارق: ۲.

ساینسي ژبه دې ته د (Nova) یا (Super Nova) نوم ورکوي.

ویلی شو چې لکه څنګه الله تعالی د انسانانو او نورو ژوندیو مخلوقاتو د ژوند موده محدوده او ټاکلې ده، دغه شان یې د ستورو ژوند او شتون هم محدود کړی دی.

په همدې اساس وروستۍ څېړنې ښيي چې یواځې زموږ په شیدو لارې (Milky Way) کهکشان کې لږ تر لږه په هرو ۹، ۱ کلونو کې یو ستوری خپل ژوند له لاسه ورکوي.[۱]

خو دا مړینه یواځې د یوې پېښې نوم نه دی؛ بلکې د نهاني طاقتونو یوه نه ستړې کېدونکې جګړه ده، په ساده اصطلاح د ستورو مړینه یو څه متفاوته او عجیبه څکه ده چې څه وخت یو ستوری خپل ژوند وبایلي نو په بشپړ ډول له منځه نه ځي او نه په معمولي ډول ورکیږي؛ بلکې د پام وړ بدلونونه تجربه کوي او د خپلې کتلې له مخې په بېلا بېلو اسماني اجرامو بدلیږي.[۲]

په دغه مفهوم د ښه پوهېدلو لپاره اړینه ده چې لږ تر لږه د پنځه ستوریزو اجرامو سره اشنا شو:

۱. White Dwarf

۲. Red Giant

۳. Neutron Star

۴. Pulsar Star

۵. Black Hole

---

۱. Astronomy Magazine, https://www.astronomy.com – Pub, April.25.2024

۲. Wikipidea.

دا ټول د ستورو په ژوند کې د هغوی د بدلون بېلابېلې بڼې دي، په ستوریز ژوند کې د تحول ټولې دا مرحلې د کتلې د زورور قانون تابع دي، چې د ستورو د برخلیک او بدلونونو تقریبا ټول اړخونه پرې ولاړ دي.

د بېلګې په توګه: که د یوه ستوري کتله د لمر د کتلې په اندازه وي؛ نو له چاودنې وروسته به ستوری White Dwarf بڼه خپلوي؛ خو که د چاودېدلي ستوري کتله د لمر له کتلې څخه د ۴، ۱ یا تر دې هم زیاته وي، په دې صورت کې به پر یوه نیوتروني ستوري بدلېږي.


په همدې ترتیب که د یوه ستوري کتله د لمر د کتلې شل برابره یا تردې هم ډېره وي؛ نو ستوری به په یوه داسې اسماني جسم بدلېږي چې کابو صفر حجم، نامحدود کثافت او داسې وسیعه او قوي جاذبه لري چې حتی رڼا نه شي کولای د هغه له سطحې څخه وتښتي.

دغه راز پوهان په دې باور دي چې د دغه جسم په داخل کې حتی وخت هم توقف کوي، د نږدې ستوریزو مادو په شمول هر هغه شی راجذبوي چې د جاذبې په ځپانده کړۍ کې یې دخیل شي([1]) دې عجیب او غیر معمولي جسم ته موږ او تاسې تور سوری (Black Hole) وایو؛ نو یو تور سوری هغه وخت رامنځته کېږي،کله چې یو ډېر ستر ستوری په خپل ځان کې رانغښتی شي، دومره متراکم شي چې د فضا او وخت ډانچه کږه کړي.

ساده ژبه ښایي دا خبره داسې بیان کړي چې تور سوري د لویو ستورو له مړینې یا زوال څخه منځته راځي.

---

۱. https://physics.stackexchange.com



شکل (۱۵): تور سوری

د لومړي ځل لپاره په کال ۲۰۱۹ز کې ساینس پوهانو وروسته له ډېرو هلو ځلو د یوه تور سوري انځور واخېست، دا سوری د (Messier87) په نوم د یوه کهکشان په مرکز کې موقعیت لري، چې شاوخوا ۵۵ ملیونه نوري کلونه له ځمکې څخه واټن لري.([1])

دا لاسته راوړنه د نړۍ د بېلا بېلو څېړنیزو مرکزونو همکارۍ په نتیجه کې د EHT یا (Event Horizon Telescope) په مرسته ترلاسه شوه.([2])

دا کار واقعا له کړاو ډک وو، په دې چې له یوې لورې تور سوري په خپله رڼا نه خپروي او بله دا چې د جاذبې ځواک یې دومره غښتلی دی چې حتی یوه نوري وړانګه هم ترې د تېرېدو توان نه لري، بناء ددې لپاره چې د تور سوري شاوخوا چاپېریال انځور شي، د EHT ټیم د نړۍ په بېلا بېلو برخو کې د اتو خورا پیاوړو راډیو ټېلسکوفونو څخه کار واخیست، چې د یوې واحدې شبکې په توګه یې کار کاوه.


۱. Jet Propulsion Laboratory – 2022.May.12

۲. https//:event horizon telescope.org



شکل (۱۷): Event Horizon ټېلسکوف

را به شو د تور سوري څرنګوالي ته، ښايي سمندري ګردابونه (Oceanic Vortex) مو ليدلي وي، په کوم کې چې لويې –لويې کښتۍ او هر نږدې ورتلونکی څيز ډوبېږي، تور سوري هم کټ مټ دغه سمندري ګردابونو ته ورته دي؛ نو په دې اساس ستوري سيارې او نور اسماني اجرام چې کله د بلک هول يا تور سوري له جاذبې پولې (Event Horizon) څخه تېر شي؛ نو بېرته راتګ يې ناشونی دی، حتی د نړۍ او طبعيت تر ټولو ګړندی څيز چې رڼا ده هم نه شي کولای (Event Horizon) له پولې څخه ځان خلاص کړي، د يادې پولې له خوا په اجسامو د قوي واردول او کشش ته په علمي اصطلاح (Spaghetification) ويل کېږي، د تورو سوريو په هکله ګڼ مالومات او تشرېحات نور هم شته؛ ځکه په اوسني دور کې د بليک هول مسئله خورا ننګوونکي او پېچلې ده؛ خو زما په فکر چې زموږ د موضوع په تړاو به همدومره وضاحت اکتفاء وکړي.




شکل (۱٦): د بلک هول سینګیولاریټي او EVENT HORIZON

لېکن یوه یادونه باید دا وشي چې د ستورو د مړینې په اړه زموږ علمي پوهاوی یواځې د وروستیو کلونو د ځینو وتلو ستورپوهانو د هڅو او زیار پایله ده، په ځانګړې توګه د شلمې پېړۍ د پیل سره د انشټاین د نسبیت تیورۍ او سټیفن هاکینګ د څېړنیزو نظریاتو له لارې د ستورو د زوال او سوپرنووا پېچلو پدیدو په اړه دقیق علمي وضاحتونه وړاندې شوي دي.
خو که راشو قرآني څرګندونو ته؛

الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ ۝﴾(۱)

ژباړه: او کله چې ستوري تت او بې ځلا شي.

طبري رحمه الله لیکي: چې انکدر د ستورو د زوال او سقوط په مانا دی.(۲)

دغه راز د قرطبي او ابن کثیر رحمهم الله، د دې ایت تأویل د قیامت نښو

۱. التکویر:۲.

۲. جامع البیان، جلد ۳۰، مخ ۲۲۲- ۲۲۱.

پورې اړوند بللی دی.[۱]
همدارنګه الله تعالی په یو بل ایت کریم کې فرمايي:
﴿ فَإِذَا النُّجُومُ طُمِسَتْ ۝ ﴾[۲]
ژباړه: او کله چې ستوري مړه شي.
که څه هم د يادو ايتونو په تفسير کې د مفسرينو ترمنځ بشپړ توافق کرار لري، او ليکي چې دغه آيتونه د قيامت د قايمېدو اساسي نښې دي؛ مګر له واقعي او علمي پلوه اساسي ټکی دا دی چې د ستورو زوال او مړينې په هکله پخوا چا هيڅ نه دي ويلي او نه يې په هکله چا تصور درلود.
الله تعالی په يو بل آيت مبارک کې تورو سوريو ته د اشارې په ترڅ کې فرمايي:
﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوَٰقِعِ النُّجُومِ ۝ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ۝ ﴾[۳]
ژباړه: پس زه قسم کوم د ستورو د پرېوتو پر ځايونو او که پوهېږئ دا په رښتيا هم لوی قسم دی.
د قرآن مجيد په دغه آيت کې د يو نا اشنا او غير معمولي څيز لور ته اشاره شوې ده، قسم چې له دې سره مل ياد شوی دی، د دې پديدې په عظمت او سترتيا دلالت کوي.
پخوا څوک څه پوهېدل چې ستوري زوال لري، سقوط کوي او پرېوځي، ښايي تر اوسه هم ډېری خلک په دې اړه ناخبره وي؛ خو د ساينسي

۱. ابن کثير، تفسير القرآن العظيم، جلد ۴، مخ ۴۹۳. القرطبي، الجامع الاحکام القرآن، جلد ۱۹، مخ ۳۵۱.
۲. المرسلات: ۸.
۳. الواقعه: ۷۵ – ۷۶،

مطالعاتو او د ستور پوهنې د معاصر غورځنګ له برکته په ډاګه شوې، چې رښتيا هم داسې ځايونه شته چېرې چې ستوري خپله انرژي تماموي او خپل برخليک ته رسېږي.

**د لمر حرکت:**

د اروپايي پوهانو او فيلسوفانو ترمنځ د اوږدې مودې لپاره د جيوسنټريک (Geocentric)[۱] تيوري راسخه او برلاسې وه، د يادې نظريې له مخې ادعا کېدله چې ځمکه پرته له کوم حرکته د کايناتو په مرکز کې قرار لري او نور ټول اسماني اجرام په شمول د لمر د ځمکې شاو خوا ته څرخي.

خو څه وخت چې نيکولاس کوپرنيکس (Nicholas Copernicus) د هيليو سنټريک (Helio Centric) [۲] نظريې سره را څرګند شو، ورسره د جيوسنټريک نظريې اوږدمهاله حاکميت ته د پای ټکی کېښودل شو. د هيليو سنټريک تيورۍ په رڼا کې ځمکه نه؛ بلکې لمر د شمسي نظام مرکز بلل کېږي، چې د ځمکې په ګډون ټولې سيارې يې شاوخوا ته د څرخون حال لري.

وروسته له يوې پېړۍ څخه په کال ۱٦۰۹ز کې الماني ستورپوه يوهانس کيپلر (Johanes Kepler) د (Astronomia Nova) تر نامه لاندې يو مهم يا په اصطلاح (Game Changing) اثر خپور کړ، د دې اثر اهميت او ارزښت په دې کې وو چې نوموړي په کې د سيارو اړوند يو بنسټيز

۱. مرکز = Centric + ځمکه = Geo


۲. مرکز = Centric + لمر = Helio

حقیقت برسیرن کړ، ښاغلي کیپلر وویل چې سیارې نه یواځې د لمر شاوخوا په بیضوي مدارونو کې حرکت کوي؛ بلکې په خپلو محورونو (Axis) کې هم په منظم ډول څرخي، چې دې حرکت ته مور او تاسې وضعي حرکت (Rotational Motion) وایو، د کوم په پایله کې چې شپه او ورځ منځته راځي.[۱]

د دغه علمي پرمختګ پر بنسټ، اروپایي پوهانو وکولای شول چې د لمریز نظام بېلا بېلو میکانیزمونو لکه د شپې او ورځې د ظهور او غیاب په هکله سمه او دقیقه تشریح وکړي.

لېکن دا حال وو چې تر دې دمه هم لمر د خلکو په افکارو او انګېرنو کې یو منجمد څیز بلل کېده.

د ټېلسکوپ څخه په منني باید ووایم چې بالاخره یو کال وروسته ګالیلو ګالیله (Galileo Galilee) په کال ۱۶۱۰م کې د یو ټېلسکوپ په مرسته د لمر پر سطحه داغونه ولیدل، هغه داغونه چې پر لمر د خوځښت نښې وې؛ څکه دغو داغونو چې (Sun's Spots) ورته ویل کېږي، د لمر پر سطحه په تدریج سره حرکت کاوه.



شکل (۱۹): ګالیلو ګالیله

---

۱. Quran and Modern Science Compatible of incompatible? Dr. Zakir Naik, Page: 18 (IRF)

له دې مشاهدې څخه ښاغلي ګالیله دا پایله ترلاسه کړه چې لمر په خپل محور کې د څرخېدا حال لري، نوموړي دې پدیدې ته د وضعي حرکت (Rotational Motion) اصطلاح ورکړه.

د نني ساینس تقریبي محاسبو پر اساس لمر په هرو ۲۵ ورځو کې د وضعي حرکت یو دوران بشپړوي.

دوهم ډول حرکت یې انتقالي حرکت (Transational Motion) دی، د نامتو ستورپوه ویلیام هرشل (William Herschel) له خوا په کال ۱۷۸۳ کې کشف شو.



شکل (۱۸): ویلیام هرشل

لمر د خپل انتقالي حرکت په واسطه د فضا په اوږدو کې سفر کوي، یانې څه ډول چې سپوږمۍ د خپل انتقالي حرکت له مخې د ځمکې شا وخوا ته څرخي او ځمکه بیا د لمر شاوخوا دغه شان لمر هم د خپل انتقالي حرکت له مخې د شیدو لارې (Milky Way) کهکشان شاوخوا ته څرخي او دوران کوي.

نوې اټکلي شمېرنې ښیي چې لمر ۲۵۰ میلیونه کلونو وخت ته اړتیا لري، ترڅو د خپل کهکشان شاو خوا یو دوران بشپړ کړي، هغه کال چې لمر

پکې خپل دوران بشپړوي، د ستورپوهنې په اصطلاح کې ورته کهکشاني کال (Galactic Year) ویل کېږي، همدا راز هغه لوری چې لمر په کې د خپلو سیارو او لمریز نظام سره په ګډه د کهکشان په مدار کې حرکت کوي، پوهانو د (Solar Apex) په نوم نومولی.([1])

که لا هم د ستور پوهنې په تاریخ کې غور وکړو؛ نو دا به جوته شي، چې بشر یواځې په ۱۷مه پېړۍ کې د لمر د حرکت او خوځښت په هکله خبر شو؛ مګر قرآن کریم د علم او حکمت اسماني سرچینې ۱۴ نیمې پېړۍ دمخه دغه حقیقت څو ځله په خورا صریح او روښانه توګه ذکر کړی او په دې سره یې زموږ علمي افق ته له خپلې زمانې وړاندې لار پرانیستې.

الله تعالی په سورة یس کې د لمر انتقالي حرکت ته په اشاره کې فرمايي:

﴿وَالشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ۝﴾([2])

ژباړه: او لمر د خپل ټاکلي ځای پورې روان دی؛ دا د ځواکمن او پوه ذات تقدیر دی.

په یو بل آیت کې مدارونو ته د اشارې پرمهال فرمايي:

﴿لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِىْ لَهَاۤ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ؕ وَكُلٌّ فِىْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ۝﴾([3])

ژباړه: نه د لمر په وسه کې دا شته چې هغه سپوږمۍ ونیسي او نه شپه په ورځ مخکې کېدای شي، دا ټول په یو فلک (مدار) کې لامبو وهونکي دي.

---

۱. Wikipidea.

۲. یس:۳۸.

۳. یس: ۴۰.

په دې آیت کې کلیدي کلمې له «فلک» او «یسبحون» څخه عبارت دي «یسبحون» له «سبح» څخه اخېستل شوې، چې د هر خوځنده جسم د حرکت مفهوم افاده کوي، د فضا، متحرک طبعیت په موضوع کې مو په دې اړه بشپړ بحث کړی.

همدا راز د «فلک کلمه» د «مدار»مانا لري.

د لمر، سپوږمۍ او نورو سیارو د حرکت دا مفهوم د وروستیو علمي کشفیاتو سره په بشپړه توگه اړخ لگوي. (۱)

سربېره پر دې د محوري حرکت په هکله فرمايي:

﴿يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ○﴾(۲)

ژباړه: هغه ورځ پر شپه او شپه پر ورځ ورنغاړي او هغه اېل (تابع) کړي دي، لمر او سپوږمۍ په داسې شان چې هر یو یې تر ټاکلي وخت پورې روان دي، پوهېږی هغه غالب او بښونکی دی.

دا کاملا له شونتیا لرې ده، چې یو څوک په پېړیو وړاندې د نړۍ په یوه ابتدایي او ساده سیمه کې د لمر د حرکاتو په باب دقیق بیان وکړي.

---

۱. A.B Al-Mehri – Scientific Thruths and the Quran P-23 – Bermingham.

۲. الزمر: ۵.

# پنځم څپرکی

# قرآن او ځمکپوهنه

د ځمکې اتموسفير

قرآن او آسمان

اسمان او بېرته راګرځونه

فضا؛ يو بې ساری چتر

د ځمکې بڼه

د قرآن کريم په رڼا کې د ځمکې بڼه

د غرونو جيولوجيکي فعاليت

ځمکې ته د اوسپنې نزول

څيرېدونکې ځمکه

د ځمکې تر ټولو ټيټه برخه

د اوومې ميلادي پېړۍ ستر قوتونه

د ځمکې ټيټه برخه

د اوبو دوران؛ هايدرولوجي

پايله

**پنځم څپرکی**

# قرآن او ځمکپوهنه

**د ځمکې اتموسفیر:**

اسمان یو له خورا ښکلو خلقتونو دی، پراخ او په طبیعت یې غوړولی ابي رنګ انسان تل ګوته په غاښ پرېږدي؛ لېکن حساب یواځې په تجمل نه دی؛ بلکې دا هستي داسې نور هم څه لري، چې انسان د ژور تفکر پر لور سوق کوي.

په دې بحث کې د قرآن کریم دوه هغه آیتونه څېړو چې د آسمان ښایست نه؛ بلکې هغه اړخ بیانوي چې تش په لیدو یې د درک امکان نه شته.

که په ساده ټکو یې ووایم، موږ ټول آسمان وینو، ښکاري چې ډېر لوړ او پراخ دی، ولې هغه بُعد چې نه یې وینو، له سترګو پټ دی، هماغه

قرآن کریم بیان کړی، ساینس یې ملاتړ کړی او شواهدو یې استناد.

**قرآن او آسمان:**

﴿وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۖ وَهُمْ عَنْ آيَاتِهَا مُعْرِضُونَ﴾[۱]

ژباړه: او موږ اسمان یو ساتندویه (محفوظ) چت ګرځولی؛ خو بیا هم هغوی نښو د دې څخه مخ اړوونکي دي.

د اسمان مفهوم په عربي ژبه کې لوړوالی دی، وروسته ته هم اسمان ویل شوی دی، په دې اساس دغه لفظ په قرآن کریم کې ۳۱۷ ځله تکرار شوی، چې له جملې یې ۱۲۰ ځله د مفرد په صیغه او ۱۹۰ ځله د جمع په صیغه راغلی دی، د جمع په صیغه په غالب ډول د ځمکې شاوخوا ټولو کايناتو ته اشاره کوي، چې په دې کې وریځې او نور شیان هم شامل دي، په ۸۲ ځایونو کې ترې په غالب ډول نږدې اسمان او یا هم ورڅخه مطلق کاینات مراد دي. [۲]

په مذکور آیت کریم کې الله تعالی اسمان د «محفوظ چت» په اصطلاح توصیف کړی؛ خو یانې څه؟

هرکله چې موږ د چت په هکله فکر کوو؛ نو تر تولو لومړی یې ساتندویې ځانګړتیاوې ذهن ته راځي.

چت موږ د لمر له سختې تودوخې د بړلی له ویجاړوونکي ځواک او یخنی له زیانونو ساتي.

اسمان هم د ځمکې لپاره ورته حیثیت لري؛ خو څنګه؟

---

۱. الانبیآء: ۳۲.

۲. السماء في القرآن، زغلول البحار، ۲۹۷ مخ.

**الف: د اسماني تیږو (میټیورایډونو) پر وړاندې ساتنه:**

دقیقا همدا اوس چې تاسې دا سرلیک لولئ، په بېلا بېلو اندازو سره اسماني تیږې (Meteoroids) له فضا څخه زموږ د سیارې پر لور راغورځي؛ مګر بیا هم موږ او تاسې په هوساینه کې ژوند کوو او هیڅ راته نه پېښېږي، ولې؟ علت یې اتموسفیر دی چې ځمکه کې یې ګردچاپېره پوښلې.




شکل (۲۰): د اسماني تیږو سقوط د اتموسفیر پر لور

سره له دې چې فضا یو شفاف جوړښت لري؛ خو د فولادو د یو کلک ډال په څېر د دې بریدونو پر وړاندې ټینګه مبارزه کوي، که ځمکې دا ځانګړنه نه لرلی؛ نه به ځمکه د ژوند کوربه وه او نه به یې خپله سطحه خوندي پاتې وای.



شکل (۲۱): د سترې اسماني تیږې نزول د ځمکې پر لور

ساينس پوهانو د دې بېلګه هغه مهال وليده، کله چې سپوږمۍ ته ولاړل، هلته د آسماني ډبرو د بمباريو له امله د سپوږمۍ پر سطحه ژورې کندې (Craters) جوړې شوې وې.





شکل (۲۳): د اسماني تيږو بمبارۍ له امله د سپوږمۍ پر سطحه نامتو کندې

خو څه وخت چې دا ډبرې زموږ د سيارې پر لور راغورځي، اتموسفير يې د اصطکاک عمليې (Friction) په واسطه مخه نيسي، کله چې ميټيورايډونه د فضا له لوړ سرعت سره زموږ اسمان ته داخلېږي؛ نو ناڅاپه له داسې چاپېريال سره مخ شي، چې د بې شمېره ماليکولونو څخه ډک دی.

برعکس د فضا چېرې چې ماليکولونه په نشت حساب دي، وروسته له هغې چې ډبره اتموسفير ته داخله شي، دا يوه وجه جوړېږي، ترڅو موجوده ګازات کمپرېس شي، ياني فشار واخلي او له دې امله د تودوخې درجه لوړېږي، هماغه وي چې ميټيور د سختې تودوخې ښکار شي.

او تر هغه حده وسوځي چې بالاخره په باريکو دوړو بدل شي؛ نو په دې

توګه زموږ ژوند په امان کې پاتې کیږي. (۱)




شکل (۲۲): په اتموسفیر کې د میتیور د احتراق مرحله

**ب: د فضا له سختې یخنۍ څخه ساتنه:**

په بهرنۍ فضا (Outer – Space) کې د تودوخې اندازه لږ تر لږه ۲۷۰- سلیسس درجو ته رسیږي؛ خو د ځمکې اتموسفیر د شنې خونې (Green House) اغېز لري، چې د لمر تودوخه په ځمکه کې ساتي، دا هم خورا حیاتي پروسه ده؛ ځکه که نه وای؛ نو ځمکه به دومره سړه شوې وای چې د ژوندانه د امکان څرک به هیڅ نه بریښېده.

داسې چې که د شنې خونې اغېز نه وای؛ نو د لمر تودوخه به بېرته فضا ته منعکسه شوې او حرارت به تر دې حده راټیټ شوی وای، چې د ځمکې ډېره برخه به پر یخ پوښل شوې وای. (۲)


**ج: د ماورا بنفش (Ultraviolet) وړانګو پر وړاندې ساتنه:**

اتموسفیر د ماورا بنفش (Ultraviolet) زیانمنوونکي وړانګې فلتر کوي، دا وړانګې چې له فضا څخه راځي، د راډیشن یوه برخه ده، چې

۱. AMS – American Meterr Society – https://asm meteors.org/meteor.shower.

۲. Jhon Houghton Global Warming, The Complete Briefing, 5th edition, Chapter 2 – the green house effect – 2015 UK.

د پوستکي د سرطان د رامنځته کېدو سبب ګرځي.




شکل (۲۴): د اتموسفير دفاع د بېلابېلو وړانګو پر وړاندې

حيرانوونکې خو دا ده چې فضا يواځې ګټورو شعاوو؛ لکه د ليدو وړ، نږدې الټراويليټ او راډيويي څپو ته اجازه ورکوي.

الټراويليټ شعاوې چې ډېره کمه برخه يې ځمکې ته رارسي، د نباتاتو ضيايي ترکيب (Photosynthesis) او په ټوله کې د ژونديو موجوداتو د بقا لپاره ډېر ارزښت لري.


لېکن، قوي الټرا وايليټ وړانګې د فضا د اوزون (Ozone) پوړ په واسطه فلټر کېږي او يواځې يوه محدوده او اړينه برخه يې ځمکې ته راپرېږدي.

**د وان ايلن ملابند (Van Allen Belt):**

د فضا سربېره د وان ايلن ملابند چې د ځمکې د مقناطيسي ډګر له امله رامنځته شوی هم زموږ د سيارې د ژغورنې يو اړين عامل بلل شوی.

ياد ملابند هم هغه مرګونې وړانګې شنډوي چې د لمر او نورو ستورو له خوا په متداوم ډول خپرېږي، که ځمکې دا ملابند نه لرلی؛ نو د لمر لويې چاودنې (Solar Flares) چې وخت ناوخت پېښېږي، حتمن به يې د

ځمکې پر سر د ژوند نوم ورک کړی وای. (۱)




شکل (۲۵): وان ایلن ملابند

د وان ایلن ملابند د اهمیت په تړاو ډاکټر هیوراس (Dr. Hugh Ross) لیکي:

«په حقیقت کې ځمکه د لمریز نظام تر ټولو لوړ کثافت لري، د اوسپنې او نیکل څخه جوړه شوې هسته یې زموږ د قوي مقناطسي ډګر د ایجاد سبب شوی، دا مقناطیسي ډګر د وان ایلن ملابند جوړوي، چې ځمکه د وړانګو له برید څخه ساتي.

زموږ د شمسي نظام یوازینۍ تیږمنه سیاره چې مقناطیسي ډګر لري عطارد (Mercury) ده؛ خو ځواک یې د ځمکې د مقناطیسي ډګر په پرتله سل چنده کم دی، ان زهره (Venus) چې زموږ ګاونډۍ سیاره ده، هیڅ مقناطیسي ډګر نه لري.

دا ثابته شوې چې د وان ایلن ملابند یوه ځانګړې ساتندویه طرحه ده،

---

۱. Encyclopedia Britanica – Van Allen Belt.


هغه طرحه چې يواځې ځمکه پرې برابره شوې.» ([1])
په وروستيو کلونو کې د داسې يوه شديد طوفان اندازه اخېستل شوې، چې ځواک يې کابو ۱۰۰ ميليارده اتومي بمونو ته رسېده، مانا دا چې هر يو يې د دوهم نړيوال جنګ پر مهال د هيروشيما پر ښار غورځول شوي بم سره معادل ګڼلی شو؛ خو د وان ايلن ملابند د فعاليت په نتيجه کې موږ د دومره خونړي طوفان څخه هم په امان کې يو. ([2])

**اسمان او بېرته راګرځونه:**
د الطارق سورة په ۱۱م آيت کې د اسمان د بېرته راګرځولو «رجع» ځانګړنه ذکر شوې ده:
﴿وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجۡعِ۝﴾([3])
ژباړه: قسم دی په اسمان خاوند د بېرته راليږلو.
«الرجع» کلمه چې په قرآن کې د بېرته راګرځولو (Return) په مانا کارېدلې ده، «بېرته ليږلو» يا «استولو» ماناوې هم لري.
څېړنې ښيي چې اتموسفير له خورا مهمو پوړونو جوړ دی، هر پوړ يې د هغه دننه د ځانګړو فزيکي پديدو له مخې تعريفيږي.
دا پوړونه هغه وړانګې او مادې يا نور څه چې ورسره ټکر کوي، يا يې بېرته فضا ته ليږي او يا يې ځمکې ته راګرځوي.

---

۱. "Why the Universe is the way it is" Dr Hugh Ross – Chapter: 8, "The Earth is Special" – Pub - 2008.
۲. "The Sun, Earth and near – Earth Space: A Guide to the Sun – Earh System" b – Jhon A.Eddy P:91-113 – Pub NASA History Division.
۳. الطارق: ۱۱.

ډېرى هغه پدېدې چې موږ د «محفوظ چت» تر عنوان لاندې مطالعه کړې، د اسمان راګرځوونکي طبیعت سره تړاو لري.




شکل (۲٦): د اتموسفير پوړونه او دندې يې

د دې ځانګړنې دوه بېلګې راوړو:

**۱. تروپوسفير (Troposphere):**

د اتموسفير تر ټولو ټيټ پوړ دى، چې له سطحې څخه شاوخوا ۱۵ – ۱۳ کيلو متره لوړوالي کې موقعيت لري.

دا پوړ دنده لري، ترڅو هغه تبخير شوې اوبه چې له سمندرونو څخه پورته د بخار په بڼه صعود کوي، مخه يې ونيسي او بېرته يې ځمکې ته د واورې، باران يا ږلۍ په بڼه راولېږي، مطلب دا چې که ياد پوړ شتون نه درلوداى؛ نو د اوبو دوران (Water Cycle) به هم نه واى. (۱)

۱. Meteavology Today: An introduction, to weather Climate and Environment, by C.Donald Ahrens – Ch The Earth's Atmosphere – P:6-10.

**۲. ایونوسفیر (Ionosphere):**
دا طبقه د راديويي څپو انعكاس كوي او بېرته يې ځمكې ته استوي، په دې توګه د بېسيم مخابراتو، راديويي او تلويزيوني خپرونو لپاره زمينه برابروي.

**فضا؛ يو بې ساری چتر:**
د اتموسفير د حياتي فعاليتونو په لړ كې يو مهم فعاليت د هغې انرژۍ مخه نيول دي، چې له ځمكې څخه پورته فضا ته خپرېږي او د هوا پېژندنې له مختلفو پديدو څخه په استفادې د تودوخې متوازن وېش تنظيموي.
د ګرمې هوا كتله له تودو سيمو څخه سړو سيمو ته لېږدوي، چې په دې توګه اتموسفير د استوايي تودوخې او قطبي يخنۍ ترمنځ تعادل رامنځته كوي.
له سختې سړې هوا او سوځوونكي حرارت څخه ساتنه د فضا د بې ساري طرحې له بركته شونې شوې ده.
همدا راز د اتموسفير تركيب د ژوند لپاره يو ثابت تناسب لري.
۷۰٪ نايتروجن، ۲۱٪ اكسيجن او ۲٪ كاربن ډای اكسايډ او نور ګازونه كه د اكسيجن سلنه له ۲۱٪ څخه تر ۲۲٪ ته لوړه شي؛ د ځنګلي اورونو د رامنځته كېدو احتمال ۷۰٪ ورسره زياتېږي او داسې نور. (۱)
ايا دا شونې ده چې دا بې ساری حفاظتي چتر دې تصادفي رامنځته شوی

---

۱. The Earth System 3rd edition: Leer R. Kump, Tames F. Kasting, Robert G. Crane .Page: 45-47 Pub – 2009 – ISBN – 978-0321-597793

وي؟

ایا دا په رښتیا هم شعوري فیصله وي، که د ژوند لپاره د اوبو او هوا د ساتنې دا بې نقصه تدابیر د تصادف نتیجه وګڼو؟

حقیقت دا دی چې عقل یې منلو ته تیار نه دی او نه دا شونې برېښي چې قرآن دې د انساني فکر او استعداد زېږنده وي.

بې شکه زموږ خالق د ژوند ټول شرایط مخکې له مخکې طرحه کړي او موږ ته یې د قرآن کریم له لارې خپل شاندار خلقت بیان کړی دی.

**د ځمکې بڼه:**

پخوا بشر د ځمکې د شکل او بڼې په باب جدي تضادونه او کړکیچونه درلودل، ډېری یې په دې اند وو چې ځمکه د یو پتنوس یا دېته ورته څیز په څېر هواره ده.

که څه هم په تېرو پېړیو کې د ریاضیکي او منطقي وضاحتونو پایلو د ځمکې کروي شکل ته نغوته کړې وه؛ مګر د ساینس او ټیکنالوژۍ پرمختګ د فضایي سفرونو په رامنځته کېدو او د مصنوعي سپوږمکیو د څرګندونو په اساس نن ورځ دا جوته شوې، چې ځمکه بیضوي یا کروي شکل لري.

خو اوس–اوس د ځمکې فلیټ تیوري (Flat Earth Theory) چې له مخې یې ځمکه هواره ګڼل کېږي، یو ځل بیا مطرح او خورا مشهوره شوې، چې په زرګونو خلک یې د زده او بېرته راژوندۍ کولو په هڅه او تلاش کې دي. (۱)

۱. Why do some people still think the earth is flat – BBC.com.



شکل (۲۷): د هوارې ځمکې ماډل

خو اړینه دا ده چې حقیقت څه دی؟
ایا ځمکه رښتیا هم هواره ده؟

په دغو پوښتنو د پوهېدلو لپاره باید موږ په ځمکه کې د موجودو پېښو او عواملو په پام کې نیولو سره د (Flat Earth Theory) وپېژنو، ترڅو وپوهېږو چې له مخې یې ځمکه څه ډول ښکاري او څه ډول یې معرفي کوي؟

د فلیټ نظریې پلویان په دې معتقد دي، چې ځمکه د یو مېز په څېر ده، لمر او سپوږمۍ ترې له پاسه په یوه دایروي خط کې تاوېږي او زیاتوي، چې لمر او سپوږمۍ دواړه کوچني اجسام دي.

یواځې له همدې څرگندونو داسې بریښي چې د (Flat Earth Theory) مطلقا له قرآن او ساینس سره په تضاد کې ده؛ ځکه ساینس وایي چې لمر له ځمکې څخه ډېر زیات لوی دی او په خپل مدار کې تاوېږي، برعکس ځمکه د لمر شاوخوا تاوېږي. (۱)

۱. Back reaction – Flat Earth "Science" Wrong but not stupid – Aug-22-2020 .Backreaction.blogspot.com

له بلې خوا قرآن کريم فرمايي، چې هرڅه په خپل مدار کې حرکت کوي ﴿كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ۝﴾؛ خو دا تيوري وايي چې نه لمر او سپوږمۍ په يوه دايروي مدار کې حرکت کوي.

د دغې نظريې پلويان د خپلې تيورۍ د ملاتړ او رښتينولۍ د ثبوت په موخه ځينې ناسم پوهاوي او پروپاګند خپروي.

لکه د بېلګې په توګه:

**الف؛** دوی ادعا کوي چې هرڅه موږ په انټرنيټ وينو هغه د CGI يا (Computer Generating Imaginary) تخنيک دی، همدارنګه دوی ناسا هم د خپلو ځرګندونو په باب دروغجنه بولي.

**ځواب؛** دا سمه ده، چې ډېرې عکسونه او ويډيوګانې ګرافيکي تخنيک دی؛ مګر هدف ترې دا نه دی، چې موږ ته د ځمکې کرويت ثبوت کړي، په اصل کې د ځمکې کرويت د ساينسي او تجربوي شواهدو پر مټ اثبات شوی دی، همدا راز دا هم سمه ده، چې ناسا په ټولو برخو کې سم او دقيق معلومات نه نشروي؛ خو دا بايد په ياد ولرو چې په ټولو مواردو کې دروغ هم نه وايي؛ ځکه که د دوی هره خبره بې اساسه او دروغ وای؛ نو نن به يې په نړيواله کچه د اعتماد او باور پيمانه هيڅ وه.

**ب؛** دوی ادعا کوي چې د ملګرو ملتونو (United Nations) ډيزاين شوې لوګو هم دا ښيي چې ځمکه هواره يا فليټ ده.

که ځير شو دا هم يوه باطله ادعا ده؛ ځکه د ملګرو ملتونو لوګو په داسې توګه ډيزاين شوې؛ ترڅو ټول هغه هېوادونه وښيي، چې د دغه سازمان غړيتوب لري، چون دا ناشونې ده، چې د ځمکې ټوله نقشه دې په درې اړخيزه ماډل کې وښودل شي.


د فليټ ځمکې تيورۍ پيروان دې ته ورته نورو موضوعاتو ته هم ګوته نيسي؛ خو د غور او دقت په پايله کې ناسمې خېژي.(۱)
حقيقت دا دی چې په دې نظريې کې ګڼې تشې تر سترګو کېږي او دا ځکه چې له يوه پلوه د ساينس سره په تضاد او مخالفت کې واقع دي او له بلې خوا دوی ورته په ځواب کې منطق نه لري.
د بېلګې په توګه؛ د فليټ ځمکې ماډل، د خسوف او کسوف لپاره هيڅ ډول منطقي توضيحات نه لري.
ياني که د خسوف او کسوف طرز العمل ته وګورو؛ نو د فليټ ځمکې له تيورۍ سره هيڅ سمون نه خوري، په دې چې د فليټ تيورۍ له مخې ځمکه د مېز له سطحې سره مشابه شوې او لمر او سپوږمۍ د ځمکې څخه پورته په يوه دايروي خط کې ګردان کوي، نو که وګورو په داسې حال کې لمر سپوږمۍ او ځمکه په يوه مستقيمه کرښه کې نه شي راتلای؛ نو کله چې دوی په يوه مستقيمه کرښه کې يو د بل ترمنځ رانه شي، خسوف او کسوف نه واقع کېږي.
له بل پلوه همدا طرز العمل د کروي ځمکې په ماډل کې بلکل شونی او خورا ښه شرحه کېدای شي.

**۲. د افق هاخوا د شيانو پناه کېدل:**

دوهمه مساله د افق هاخوا د شيانو ورکېدل دي، ياني که چېرې موږ يوه کښتۍ د افق پر لورې ولېږو؛ نو د يو څه فاصلې په وهلو سره به ورو – ورو زموږ له نظره پناه کېږي؛ البته کښتۍ به په داسې توګه پناه کېږي؛ لکه په سمندر کې چې ډوبېږي او يا هم ښکته ځي او که چېرې يوه کښتۍ

۱. Flat Earth W.S – Debunking Flat Earth Misconceptions – www.flatearth.ws.

له افق څخه زموږ پر لورې را روانه وي؛ نو د راتګ انداز به يې داسې وي؛ لکه هغه چې ورو – ورو له اوبو څخه راپورته کیږي، دا حالت په خپله د ځمکې انحنا (Curvature) راښيي.




شکل (۲۸): د افق هاخوا د بېړۍ پناه کېدل د ځمکې انحنا راښيي

همدا دليل وو چې فرانسيس ډريک (Francis Drake) د يوه سمندري سفر په ترڅ کې په لومړي ځل د ځمکې د کرويت خبره وکړه.

تاسې کولای شئ چې د دغو تجربو ویډیوګانې پر انټرنیټ هم وګورئ؛ خو فکر وکړئ چې کوم ډول سطحه به داسې پایلې رامنځته کړي؟

**۳. د لمر او سپوږمۍ څرنګوالی:**

د فليټ تيورۍ له مخې لمر او سپوږمۍ په يوه دايروي خط کې سفر کوي، چې له امله يې د شپو او ورځو بدلون منځته راځي.

مګر که چیرې لمر یا سپوږمۍ د الفا سیمې څخه **ب** سیمې ته یانې د ***شرق*** څخه د ***غرب*** پر لورې حرکت وکړي؛ نو چې څومره د ***الف (شرق)*** سیمې اوسېدونکو څخه لرې کیږي، همدومره باید کوچنۍ ښکاره شي او برعکس څومره چې ***ب (غرب)*** سیمې اوسېدونکو لپاره رانږدې کیږي، هغومره باید ستره ښکاره شي، ولې موږ وینو چې لمر او سپوږمۍ

نه ورېږي او نه لوېږي، اوس دا څنګه شوني ده چې نور ټول شيان دې په لرې تللو سره کوچني او په راتللو سره لويېږي؛ مګر لمر او سپوږمۍ نه؟ او ولې موږ ته داسې ښکاري، چې دوی له افق راخېژي او په افق کې ډوبېږي؟

همدا راز کله چې سپوږمۍ د ***الف*** سيمې څخه ***ب*** سيمې ته حرکت کوي؛ نو د ***الف*** سيمې اوسېدونکو بايد د سپوږمۍ يو اړخ او د ***ب*** سيمې اوسېدونکو بايد د سپوږمۍ بل اړخ ليدلی، په ساده اصطلاح د دواړو سيمو اوسېدونکو بايد د سپوږمۍ بېلا بېل اړخونه ليدلی؛ مګر په حقيقت کې موږ ټول د سپوږمۍ يو اړخ وينو.

همدا وجه ده چې په دې تيورۍ کې د سپوږمۍ د بېلا بېلو مراحلو لپاره هم منطقي تشريحات نه شته.

**۴. جاذبه:**

ساينس وايي چې د اجسامو غورځېدنه (لوېدنه) جاذبې پورې اړه لري، يانې دا جاذبه ده چې اجسام د ځمکې پر لور راجذبوي. مګر که موږ د فليټ ځمکې په ماډل کې د جاذبې قوانين پلي کړو، هيڅ صدق نه کوي. بنا پر دې؛ د هوارې ځمکې نظريې پيروان د جاذبې شتون ردوي، په دوی کې اکثريت بيا په دې باور دي، چې د شيانو غورځېدنه په کثافت پورې اړه لري، دوی د دې دعوې لپاره دليل دا وړاندې کوي چې د شيانو غورځېدنه ځکه کثافت پورې اړه لري، چې زيات کثافت درلودونکي اجسام تل ځمکې ته ژر رسېږي، نسبت کم کثافت لرونکو اجسامو ته؛ خو که موږ د کثافت تعريف په ياد ولرو؛ نو داسې تعريف شوی چې کثافت مساوي کتله پر واحد حجم $Density = \frac{Mass}{Volume}$ بنا،

تعریف ته په کتو کثافت په خپله یو ځواک نه دی، چې د شدت (تعجیل) (Acceleration) رامنځته کېدو سبب شي او په اجسامو فشار راوړي؛ ترڅو ځمکې ته وغورځي. که دا هم ومنو چې د ځمکې پر لور د اجسامو لوېدنه د کثافت له امله دی؛ نو دلته موږ له تجربوي شواهدو سره په ټکر کې واقع کېږو؛ ځکه تجربوي شواهدو او پایلو تل د اجسامو غورځېدنې لپاره لامل جاذبه ښودلې. بریان کوکس (Brian Cox) چې د اوسني عصر یو لوی ساینس پوه دی، د یوې تجربې په ترڅ کې یې کاملاً دا په ډاګه کړه چې د اجسامو غورځېدنې تر شا د کثافت نه؛ بلکې د جاذبې لاس دی. (۱)

نوموړی د دې تجربې لپاره د نړۍ په کچه یو لوی (Vaccume) ته ولاړ چې په متحده ایالاتو کې تاسیس شوی دی. ښاغلي کاکس په دغه واکیوم کې د یوه نیوونکي ماشین په واسطه د ډېر لوړ ځای څخه د باولینګ توپ او یوه بڼکه په یو وخت راپرېښودل، جالبه وه؛ کله چې دوی د بېلا بېلو کثافتونو په درلودلو سره په یو وخت او یو ځای ځمکې ته ورسېدل.



شکل (۲۹): بریيان کاکس د نړۍ په ستر واکیوم کې

۱. Video link (Brian Cox Experiment).

ښایي اوس به درته څرگنده شوې وي، چې پرته له Vaccum څخه ولې بېلابېل اجسام په مختلفو وختونو کې ځمکې ته رسېږي؟
علت يې د هوا مقاومت دی، مانا دا چې د زيات کثافت لرونکي جسم سره هوا کم مقاومت او د کم کثافت لرونکي سره زيات مقاومت کوي، که په ساده ټکو يې ووايو، د هوا مقاومت په شتون کې درانه شيان ژر او سپک شيان ناوخته ځمکې ته رسېږي.
نو ويلای شو چې د هوا مقاومت پرته ټول اجسام د غورځېدو پر وخت يو او ورته سرعت تجربه کوي. (۱)
د فليټ ځمکې په تيوری کې دې ته ورته نورې تشې هم شتون لري، چې د پلويانو د منطق ژبه پرې گونگه ده؛ لکه:
۱. د وخت زونونه (Time Zones).
۲. د شپو او ورځو په موده کې بدلونونه.
۳. په بېلا بېلو موسمونو کې د تودوخې بدلونونه.
۴. نړيواله تودوخه (Global Warming).
۵. شمالي او جنوبي څراغونه (Aurora Australis).
٦. کوريوليس ځواک (Coriolis Force).

**د قرآن کريم په رڼا کې د ځمکې بڼه:**
ځيني خلک په دې فکر دي چې قرآن کريم هم د فليټ يا هوارې ځمکې له نظريې سره همغږی دی، هغه کلمات چې دوی يې د هوارې ځمکې نظريې سره د همغږۍ په باب اړوند گڼي، عبارت دي له:

---

۱. $9,8m/sec^2$ Constant Acceleration.

﴿فراشا، سطحت، سباطا، دحها﴾

لومړی خو باید ووایم چې دا ټولې کلمې د صافولو او پراخولو ماناوې لري، متن ته په کتو یې هیڅ یوه د هوارې ځمکې مانا او مفهوم له ځانه سره نه لري، په اصل کې موږ دغه کلمات هم د کروي سطحو او هم د هوارو سطحو لپاره کولای شو.

مثلا؛ مالټه صافه سطحه او چارمغز زیږه سطحه لري؛ مګر دواړه یې کروي دي، بناء دا په دې مانا نه ده چې قرآن کریم ځمکه هواره ګڼلې؛ خو که یو څه نور هم له غور او دقت کار واخلو، کولای شو اصل مفهوم ته ځان ورسوو.

یو له هغه ایتونو چې ډېرى وخت د فلیټ ځمکې سره د همغږۍ په پار دلیل وړاندې کیږي، دا ایت دی:

﴿الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا﴾(۱)

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې ستاسې لپاره یې ځمکه فرش (غالۍ) ګرځولې.

دلته دوی استدلال کوي چې د «فراشا» کلمه چې د غالۍ یا فرش مانا لري، د ځمکې هوار شکل ته اشاره کوي.

خو په دې آیت کې یو بل څه هم شته، که چېرې هغه په پام کې ونیسو، کولای شو سم او دقیق فهم لاسته راوړو او هغه د «لکم» کلمه ده، مانا «ستاسې لپاره»، یانې الله تعالی فرمایي چې ما ځمکه ستاسې لپاره هواره او د یوې غالۍ په څېر ګرځولې او دقیقا همداسې ده؛ ځکه موږ د ځمکې په پرتله ډېر کوچني یو، تر دې چې شاو خوا سیمې زموږ لپاره د

---

۱. البقره: ۲۲.

غالي په څېر ښکاري، په دې وجه خو موږ ورته احساس هم لرو.
ښاغلی نیل ډیګارسي ټایس (Neil Degarase. T) په دې هکله داسې وایي: «کروي ډوله سطحې کوچنیو مخلوقاتو ته چې په کې اوسېږي، تل هوارې ښکاري.» ([۱])
وجه همدا ده چې موږ د ځمکې حرکت هم نه محسوسوو.
الله تعالی په یو بل مبارک آیت کې د ځمکې کروي شکل ته د اشارې په منظور فرمایي:
﴿وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ﴾([۲])
ژباړه: او ته وینې غرونه او ګومان کوې چې دوی په خپل ځای ولاړ دي؛ مګر هغوی د وریځو په څېر تېرېږي او دا د الله تعالی جوړونه (صنعت) دی، چې هر څه یې محکم کړي دي، بېشکه هغه ښه خبر دی په هغه کارونو چې تاسې یې کوئ.
په دغو آیتونو کې الله تعالی فرمایي، چې غرونه د وریځو په څېر حرکت کوي؛ مګر موږ داسې محسوسوو، چې ګویا دوی ساکن یا بې حرکته دي، که څه هم د غرونو حرکت یو جدا بحث او ځانګړی ساینسي حقیقت دی، خو د اړتیا له مخې مې یې حواله اړینه وګڼله.
په دې چې دا آیت د هغو خلکو لپاره څرګند او ښکاره دلیل دی، چې قرآن کریم د هوارې ځمکې له تیورۍ سره د همغږۍ په پار متهموي.

---

۱. Video Link (Neil Degarasse Tyson).
۲. النمل: ۸۸.

چون د ځمکې په فليټ ماډل کې د غرونو د حرکت په باب هيڅ ذکر او يادونه نه شته، ځکه د دې تيورۍ له مخې ځمکه ساکنه يا (Static) ګڼل کيږي(۱)؛ خو که له ساينسي زاويې دې آيت ته متوجه شو، د ځمکپوهانو پراخه توافق به ووينو چې د غرونو د حرکت په هکله يې لري.

دا بايد په ياد ولرو چې د غرونو حرکت يواځې په کروي ډوله ماډل ځمکو کې شونی دی، اوس که چېرې قرآن کريم ځمکه هواره بللې؛ نو بيا ولې د غرونو حرکت ته اشاره کړې، په داسې حال کې چې د هوارې ځمکې په ماډل کې نه د غرونو او نه د ځمکې حرکت ذکر دی.

الله تعالی بل ځای فرمايي:

﴿يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ﴾(۲)

ژباړه: الله تعالی شپه په ورځ او ورځ پر شپه ورتاووي.

په دې آيت کې د ﴿يُكَوِّرُ﴾ کلمه ذکر شوې، چې د «کور» له ريښې څخه راځي، د «کور» کلمه په ترکي ژبه کې هم کارول کيږي؛ خو په عربي ژبه کې په عام ډول د سر شاوخوا د پګړۍ تاوولو يا دې ته ورته د نورو کروي سطحو پوښلو لپاره کارول کيږي.(۳)

د قرآن کريم په رڼا کې د شپو او ورځو دې بدلونونو ته په کتو څه فکر کوئ، چې نغوته کوم ډول سطحې ته ده؟

---

۱. Samuel Rowbotham – Zetetic Astronomy: Earth Not a Globe (1881)

- William carpenter – One Hundred Pfoofs that the earth is not a globe (1885).

۲. الزمر: ۵.

۳. Dr. Shabir Ally – Let Quran Speak.com (Youtube).

همدارنګه دا هم د یادولو وړ ده چې د فلیټ ځمکې یا مسطحې ځمکې نظریه یو بند او بې حرکته سیستم له ځانه سره لري، چې له امله یې د فضا شتون رد شوی([1])؛ خو په قرآن کې الله تعالی فرمايي:

﴿وَالسَّمَآءَ بَنَيْنَٰهَا بِأَيْيدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ۝﴾([2])

ژباړه: او موږ اسمانونه په قوت سره جوړ کړي او موږ يې پراخوو هم.

په دې ایت کې الله تعالی د کاينات د پراخېدو خبره کوي، چې د فضا شتون يې په ترڅ کې تصديق شوی او دا د مسطحې ځمکې له نظريې سره بلکل مخالف اړخ دی.

د وروستي ځل لپاره به هغه آيت راوړو چې په کې د یو مثال په بڼه د ځمکې کروي شکل ته اشاره شوې ده:

﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَا۝﴾([3])

ژباړه: او له هغه وروسته یې ځمکه وغوړوله.

په دې آيت کريم کې الله تعالی د ځمکې شکل لپاره د «دحها» کلمه کارولې، چې د «دحو» له ريښې څخه راغلې او مانا يې صافول او خورول ده او هم د فيل مرغ هګۍ ته ویل کېږي، که مو د فيل مرغ هګۍ ليدلې وي؛ نو په دې به پوه ياست چې دا هګۍ له نورو عادي هګيو څخه مختلفه ده، بڼې ته يې د Geospherical) نوم ورکول شوی، چې همدا بڼه کټ مټ د ځمکې هم ده، مانا دا چې لکه څنګه ځمکه په قطبي سيمو کې نـوتلې او په استوايي سيمو کې وتلې ښکاري؛ نو ځکه ورته

---

۱. Skepticism of Space Exploration people's.com – Ilana Kaplan.

۲. الذاريات: ۴۷.

۳. النازعات: ۳۰.

پوهان (Geospherical) یانې بشپړه بیضوي نه وایي.







شکل (۳۰): د فیل مرغ هگۍ او د ځمکې نیمه کروي بڼه

په حقیقت کې قرآن کریم د ځمکې د بڼې او حرکت په اړه چې کوم معلومات وړاندې کړي، دا یې د خپل حقانیت او د یو حکیم خالق د شتون روښانه ثبوت دی.

**د غرونو جیولوجیکي فعالیت:**

کرسټ ولې حرکت نه کوي؟

ما د ښوونځي د لسم ټولگي د جیولوجۍ په مضمون کې لوستي، چې ځمکه له دریو اساسي طبقو جوړه ده:

۱. کرسټ Crust.

۲. مانټل Mantle.

۳. هسته Core.

راځو کرسټ ته؛ ځکه د ځمکې لومړۍ طبقه ده د کومې پر سطحه چې موږ او تاسې ژوند کوو، کرسټ د شکل او جوړښت له پلوه جامد ساختمان لري، ضخامت (پېړوالی) یې له ۵ څخه ۳۵ کیلو مترو ته رسېږي، دا چې د نورو طبقو په پرتله ډېر کم ضخامت لري؛ ځکه یې

پوهان د ځمکې د پوستکي په نوم هم یادوي. ([1])
دوهمه طبقه د مانتل په نوم یادېږي، د مانتل شکل او بڼه داسې مثال لري؛ لکه د هګۍ ژېړ یانې نه بشپړ جامد او نه مایع، ضخامت یې کابو ۲۹۰۰ کیلو متره ښودل شوی، دا طبقه په پیل کې ۱۰۰۰ سلیسس درجې حرارت لري؛ خو هستې ته په نږدې کېدو سره یې د حرارت اندازه لوړېږي، چې بالاخره په وروستۍ ساحې کې یې تودوخه تر ۳۷۰۰ سلیسس درجو پورې رسېږي.([2])
له مانتل وروسته درېیمه او وروستۍ طبقه رارسي چې د هستې یا (Core) په نوم یادېږي، د هستې ترکیب او تشکیل له اوسپنې او نیکل څخه شوی، پوهانو یې د حرارت اندازه ۵۷۰۰ سلیسس درجې ښودلې.
په دې وضاحت کې غور او تعمق کول یوه پوښتنه راولاړوي او هغه دا چې که چېرې موږ د ځمکې د لومړۍ طبقې (کرسټ) او د دوهمې طبقې (مانتل) کثافتونه په پام کې ونیسو؛ نو ویلای شو چې د کرسټ کثافت د مانتل په پرتله ډېر کم دی او له بلې خوا مانتل د جوړښت له پلوه مایع ته ډېر نږدې دی؛ نو دا په دې مانا چې د مانتل طبقه تل د خوځښت او حرکت په حال کې قرار لري، په دې صورت کې خو باید کرسټ یا زموږ د استوګنې طبقه هم د حرکت یا لږ تر لږه د لړزې په حال کې وای؛ خو برعکس حقیقت دا دی چې موږ او تاسې خو د سوکالۍ او هوساینې فضا لرو، څنګه چې ښکاري دغه ډول پېښې الحمد لله هیڅ نه پېښېږي.
اوس دلته د انسان تجسسي طبعیت دا پوښتې چې دا ولې او څنګه؟

---

۱. Oregaon State University – Lesson of the Earth's Layer.

۲. USGS – Inside the earth (Pubs. Usgs> Gav.

کمال روحاني، اعجاز علمي قرآن در عصر فضا و تکنالوژي، مخ: ۱۹۳.

اصلاً همدا وجه ده چې الله تعالی په قرآن کریم کې موږ د غرونو د جوړښت او فعالیت څېړلو ته هڅولي یو او پوښتلي یې دي، چې تاسې نه ګورئ، غرونه څه ډول نصب شوي دي.

په دې ایت کریم کې الله تعالی موږ ته رهنمایي کړې او فرمایلي یې دي چې تاسې د غرونو جوړښت او نصبېدنه وڅېړئ، په دې سره به نه یواځې پورته پوښتنو ځواب ترلاسه کړو؛ بلکې په دې به هم وپوهېږو چې څه ډول ساینس دا پوښتنې اوس او قرآن کریم ۱۴نیمې پېړۍ دمخه ځواب کړي دي.

د مهربان خدای پر همدې معظمې توصیې باندې د عمل په اساس راځئ وګورو چې نن ورځ د ځمکپوهنې عصري ساینس دغه مطرح شوې پوښتنې څه ډول ځوابوي؟

د جیولوژۍ عصري ساینس د پرمختللیو وسایلو او سونر ټیکنالوژۍ پر مټ دا په ډاګه کړې، چې د ځمکې د کرسټ په ثبات کې غرونه رول لري، داسې هم ویلی شو چې غرونه د یوې ثبات ښنونکې (Stabilizer) آلې په توګه فعالیت کوي.(۱)

قرآن کریم فرمایي:

﴿وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ﴾(۲)

ژباړه: او موږ په ځمکه کې غرونه جوړ کړل، د دې لپاره چې پر تاسې ونه خوځېږي.

---

۱. The geological society (Mountian Roots) Reply by Dr Ted Neil – www.geosoc.gov.UK.

۲. الانبیآء: ۳۱.

د غرونو د ثبات یا (Stabilization) دغه جیولوجیکي فعالیت چې ساینس پوهانو په دې وروستیو کې راڅرګند کړ، قرآن کریم یې یاد ۱۴۵۰ کاله دمخه کړی دی.

د جیولوژۍ د دغه کشف په تړاو ابو محمد عبدالکریم لیکي:

«په ۱۹۶۵م کال کې څېړونکو په کره توګه معلومه کړه، چې که چېرې په ځمکه کې غرونو شتون نه درلودی؛ نو د ځمکې وچې به په سمندرونو کې ګرځېدلې او تل به په لړزه کې وې.([1])

خو مساله یواځې تر دې ځایه نه ده؛ بلکې له دې سره دوهمه پوښتنه هم راولاړېږي، هغه دا چې غرونه څنګه او څه ډول د ځمکې کرسټ له حرکت او خوځښت څخه ساتي؟

د خوښۍ ځای دی چې دا پوښتنه هم بې ځوابه نه ده، ساینسي څېړنو نن ورځ په بشپړه توګه د غرونو د دغه حیاتي فعالیت طرز العمل تشریح کړی.

د نویو څېړنو او کشفیاتو په رڼا کې جیولوجستان وایي چې غرونه د ځمکې د پوښ د حرکاتو او ټکرونو په پایله کې رامنځته شوي، دوی وایي چې د ځمکې په پوښ کې دوه ډوله تختې یا سلایډونه حرکت کوي، له دغو تختو یې یو ډول ځواکمنې او بل ډول یې کمزورې تختې دي، هرکله چې دوه تختې یو له بل سره ټکر وکړي؛ نو ځواکمنه تخته تل ښکته ځي او تر هغې کمزورې تخته پورته راځي، چې له امله یې غرونه او یا هم لوړې غونډۍ رامنځته کېږي، په جیولوجۍ کې دې ته د

---

۱. الفرقان في بیان اعجاز القرآن، ابو محمد عبدالکریم بن صالح الحمید، مخ – ۲۱۵، مکتبة عین الجامعة.

قاتېدلو پدیده یا (Folding Phenomenon) ویل کېږي.(۱)
په دې خو پوه شوو چې له کمزورو تختو چې پورته خوا راځي، غرونه او یا غونډۍ جوړېږي؛ خو کله چې ځواکمنې تختې د ځمکې تر ژورو پورې غځېږي، دا د پورته تللې تختې (غره) لپاره یوه ځواکمنه ریښه جوړوي، په دې اساس څومره چې د یوه غره ارتفاع د ځمکې له پاسه لوړه وي، تر هغې زیاته او څو چنده برخه یې د ځمکې لاندې قشرونو ته غځېدلې وي.
د بېلګې په توګه؛ د همالیا غرونه چې په نړۍ کې د خپل لوړوالي له امله خورا نامتو دي، هسکه څوکه یې ایوریسټ (Everest) نومېږي، چې د سمندر له سطحې څخه ۸۸۴۸ متره لوړه ده؛ خو د پوهانو په باور د دغه غره څو چنده برخه یې د ځمکې لاندې غځېدلې(۲) په دې اړه پروفیسور ساویدا (Saveda) وایي:
«د وچې او سمندري غرونو ترمنځ توپیر د دوی په موادو کې دی؛ مګر دواړه ډوله غرونه داسې ریښې لري، چې دوی استوار او محکم ساتي.»(۳)
د غرونو ریښې د ځمکې لاندې دومره محکمې او مضبوطې ځای پر ځای شوي چې د مانتل هیڅ ډول حرکت او بدلون دې ته نه پرېږدي، ترڅو په کرسټ اغېز وکړي او وخوځېږي.

---

۱. The Quran and Modern Science – Maurice Bucaille – Page - 16.

۲. Zhao, W. and Movgan, W.J (1985) – Oplift of Tibetan plateu: Seismic evidence of underthrusting of indian crust. Science, Vol. 250, P-1020-1024.

۳. هارون یحیی (د قرآن علمي اعجاز)، مخ: ۶۸، مستقبل، ۱۳۹۲المریز - کابل.

قرآن کريم په دې هکله فرمايي:

﴿وَالْجِبَالَ أَرْسٰهَا﴾(۱)

ژباړه: او غرونه يې کلک او محکم کړل.

يو وخت دې مبارک آيت د نړۍ نامتو جيالوجي پوه ښاغلی اليسن پالمر (Allison Palmar) توجه جلب کړه، نوموړي چې کله د غرونو په باب قرآني څرګندونې وليدې، هک حيران شو او ويې ويل:

«موږ بايد د منځني ختيځ د لومړنيو شفاهي دودونو په تاريخ کې څېړنې وکړو، ترڅو پوه شو چې په حقيقت کې دا ډول تاريخي راپوررونه ثبت شوي او کنه؟ که داسې کوم ثبت شتون ونه لري؛ نو په دې کې هيڅ شک نه پاتې کيږي، چې قرآن کريم دې د الله تعالی له لورې محمد صلی الله عليه وسلم باندې نازل شوی وي؛ ځکه دا ايتونه د داسې موضوعاتو په هکله خبرې کوي، چې موږ په دې وروستيو کې کشف کړې.»(۲)

د ځمکې (Earth) په نوم يو کتاب چې د نړۍ په اکثره پوهنتونونو کې د اساسي حوالې او درسي کتاب په توګه تدريسيږي، له دوه ليکوالانو څخه يې يو هم فرانک پريس (Frank Press) دی، ښاغلی پريس د متحده اياالاتو پخواني ولسمشر جيمي کارټر (Jimmy Carter) د ساينس سلاکار او د ۱۲ کلونو لپاره يې د واشنګټن ډي. سي د ملي علومو اکاډمۍ رييس په توګه هم دنده ترسره کړې.


هغه په خپل کتاب «ځمکه/ Earth» کې د غرونو د ريښو شتون تاييد

---

۱. النازعات: ۳۲.

۲. Video Link.

کړی او زیاته کړې یې ده چې د غرونو ریښې د ځمکې د لومړنۍ طبقې په ثبات کې مهمه ونډه لري.(۱)
په دې اړوند دوکتور عبدالمجید الزنداني لیکي:
«بې له شکه دا معلومه شوه چې غرونه د ځمکې لاندې دومره ژورې ریښې لري چې اوږدوالی یې د ځمکې له پورتنۍ برخې څخه ۱۵ ځله ډېر دی او همدغه ریښې د ځمکې په پلیټونو کې د پېښېدونکو ناڅاپي حرکتونو په مخنیوي کې اړین رول لري.»(۲)
د غرونو په واسطه د تثبیت (Stabilizing) دې پدیدې ته په جیولوجۍ کې ایزوستازي (Isostasy) ویل کیږي.




شکل (۳۱): د غره ژوره ریښه

دې حقیقت ته پوهان په کال ۱۹٦۵م کې ورسېدل؛ مګر قرآن کریم ۱۴نیمې پېړۍ دمخه په داسې روښانه توګه واضح کړی چې ترې غوره وضاحت بل نه شته.
الله تعالی فرمایي:

۱. Earth – Press and Siever – P 435.
۲. بینات الرسول ومعجزاته، عبدالمجید الزنداني، مخ ۹۲، دار الإیمان – قاهره.

﴿أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَٰدًا ۝ وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا ۝﴾(۱)

ژباړه: ایا موږ ځمکه نه ده ګرځولې پراخه او غرونه مېخونه؟

د دې آیت له مخې ښکاري چې غرونه د ځمکې پر مخ د ځمکې د ټینګښت او د حرکت څخه د مخنیوي په خاطر د ژورو مېخونو په څېر ځای پر ځای شوي.

د ﴿أَوْتَادًا ۝﴾ کلمه یواځې د مېخونو په مانا نه؛ بلکې د خېمې لنګر اچوونکو موږیو ته هم ویل کېږي.(۲)

دلته د پام وړ او ساینسي خبره همدا ده چې الله تعالی غرونه له مېخونو یا د خېمې له موږیو سره تشبیح کړي، کټ مټ لکه څنګه چې نن ورځ جیولوجستان د غرونو د ریښو خبره کوي او وایي چې د غرونو ډېرې برخې د ځمکې لاندې تللي او کومې برخې چې موږ د ځمکې له پاسه وینو، دا یې ډېره کمه برخه ده، په ورته بڼه، که مېخونه یا د خېمو لنګر اچوونکي موږي په نظر درشي؛ نو وبه وینئ چې ډېره کمه برخه یې موږ ته ښکاري، حال دا چې ډېره برخه یې په ځمکې کې لاندې تللي وي.

زما په فکر، د غرونو په باب د اوسنیو ساینسي څرګندونو په پام کې نیولو سره د قرآن کریم له دې تشبیح غوره بله نه شته، دا هرڅه د قرآن کریم بې سارې جمال او کمال راښیي؛ ځکه نه خو د انسان تګ د ځمکې ژورو ته شونی دی او نه ۱۴نیمې پېړۍ دمخه د جیولوجۍ وسایل موجود

۱. النبأ: ٦- ٧.

۲. لسان العرب (ابن منظور)

(الوتر – ما یثبت به الخباء) جلد ۳، مخ ۴۴۴.

معارف القرآن محمد شفیع.

تفسیر طبري.

وو؛ خو سره له دې قرآن کریم دومره عمیقې ساینسي او علمي موضوع ته اشاره کړې، چې کشف یې په دې وروستیو کې د لوړ بیه او ماډرن تجهیزاتو پر مټ شوی.

**ځمکې ته د اوسپنې نزول:**

څه ډول چې اوسپنه زموږ په ژوند کې حیاتي رول او ډېر استعمال لري، دغه شان یې تر شا زیات عجایب هم پراته دي.

تر شلمې پېړۍ پورې ساینس پوهان په دې اند وو، چې اوسپنه د ځمکې بومي (Endemic) عنصر دی او په همدې ځمکه کې پیدا شوی؛ مګر کله چې څېړونکو د ځمکې په معدنیاتو کې څېړنې وکړې او نوبت د اوسپنې راورسېد، دلته ساینس پوهان له تعجب سره مخ شول، په دې چې څېړنو وښوده چې د اوسپنې د تشکیل لپاره څو سوه میلیونه حرارت درجې ته اړتیا ده؛ خو دغه حرارت نه د ځمکې په هستې کې شته او نه د لمر په تل کې، یانې دا چې د ځمکې هسته له ۶۰۰۰ سلیسس درجو زیاته تودوخه نه لري او د لمر په تل کې چې څومره حرارت دی، اندازه یې تر ۱۵ میلیونه سلیسس درجو پورې رسېږي؛ خو د تودوخې دا کچه اصلاً د اوسپنې جوړښت لپاره بسنه نه کوي.

اوس پوښتنه دا ده چې اوسپنه څنګه پیدا شوې او له کومه ځایه راغلې؟

د ستور پوهنې د نویو موندنو له مخې دا څرګنده شوې، چې اوسپنه په لویو او سترو ستورو کې تولیدېږي، چې په میلیونونو ځلې له لمر څخه

ستر او زیاته تودوخه لري.(۱)

د لویو ستورو په هستو کې د هستوي فیوژن (Nucleur Fusion) له لارې انرژي تولیدېږي، په دې پروسه کې سپک عناصر لکه هایدروجن او هیلیوم یو له بل سره یو ځای کېږي او درانه عناصر جوړوي؛ لکه کاربن، اکسیجن، وروسته دوی هم فیوز او یو څه نوره انرژي هم ازادېږي، چې په پایله کې یې نور درانه عناصر؛ لکه مګنیزیم، سلفر، نیون، سلیکان او نور جوړېږي.

په همدې ترتیب دا پروسه د ستوري تر زړښت پورې دوام کوي؛ تر دې چې اوسپنه جوړه شي، څه وخت چې په ستوري کې اوسپنه تر خپل اعظمي حده ورسېږي؛ نو د فیوژن پروسه توقف کوي؛ ځکه اوسپنه نه شي کولای څو انرژي ازاده کړي؛ بلکې برعکس دا وخت انرژي جذبېږي او په دې توګه د ستوري زوال پیل مومي او د بې ثباتۍ ښکار کېږي، هماغه وي چې چاودنه وکړي(۲) ورسره سم د اوسپنې بځرکي په کایناتو کې خپرېږي مختلفو ځایونو ته ځي، دې بشپړ طرز العمل ته په ساینسي ژبه (Stellar Nucleosynthesis) وایي(۳)؛ نو ځکه ساینس پوهان وایي چې اوسپنه په ځمکه کې نه ده جوړه شوې؛ بلکې له بهرنۍ خلا یې ځمکې ته نزول کړی.

ښاغلی شریف رحماني په خپل کتاب (قرآن عظیم الشان او معاصر

---

۱. Nucleur Astrophysics – Klaus L. Kratz and Hans Helmut Vulger – P Ch – 2, Page: 35-40, Pub – Springer – Velarg – 1996 – Berlin Germany.

۲. Super Nova Explosion.

۳. The Origin of the Elements – Margaret J.Geller and Jhon P. Huchra – Astronomy ad Astrophysics, Page: 395-420, Pub Annual Review- 1992.

علوم) کې د استروخ په نوم د یو عالم نظر نقل کړی او لیکلي یې دي:
«موږ د ځمکې په معدنیاتو کې ګڼې څېړنې کړي دي، لېکن یواځینی معدني توکی اوسپنه ده، چې پوهان یې حیران کړي دي، د اوسپنې د اتومونو د الکترونونو او نیوترونونو نږدېوالي لپاره سترې قوې ته اړتیا ده او هغه دا چې د ټول شمسي نظام په توان د څلورو انرژي غواړي، په دې اساس ویلای شو چې اوسپنه د ځمکې برخه نه؛ بلکې په جلا ستوري کې جوړه شوې او بیا ځمکې ته راکوزه شوې.»[۱]

پروفیسور زغلول النجار په دې هکله وایي: «د اوږدو څېړنو وروسته ساینس پوهانو ته معلومه شوه چې اوسپنه یواځې په هغه ستورو کې جوړېدای شي چې له لمر څخه ډېر ستر او زیاته تودوخه ولري، د دې ستورو د ژوند په ځانګړي پړاو کې چې د سوپرنووا یا **المستعیرات العظمی** بلل کېږي، داخلي مواد د چاودنې پرمهال په ډېره درنه کچه راټولېږي، کله چې ستوری د اوسپنې جوړېدو ته ورسي، ډېر زور اخلي او چاودي، چې په ترڅ کې یې اوسپنه په فضا کې خپرېږي.»[۲]

د ښاغلي استروخ د خبرې په تایید نن ورځ ټول پوهان په دې هکله په یوه خوله دي، چې د اوسپنې د یوې ذرې جوړښت لپاره د شمسي نظام ټوله انرژي هم بسنه نه کوي؛ بلکې څلور برابره زیاتې انرژۍ ته اړتیا لري، همدا دلیل دی، چې دوی وایي یواځې ځمکې نه؛ بلکې درست شمسي نظام اوسپنه له بهر څخه ترلاسه کړې.

---

۱. قرآن عظیم الشان او معاصر علوم، شریف رحماني، مخ ۱۲۳، سلام خپرندویه ټولنه- جلال آباد.
۲. Video Link (Zaghlol – Al – Najjar).

یوسف الحاج لیکي:
«پوهانو په دې وروستیو کې روښانه کړه چې شمسي نظام اوسپنه په خپله نه شي جوړولای، سره له دې چې په لمر کې انرژي شته؛ خو د اوسپنې جوړولو ظرفیت ته نه رسي.»[1]
د دې هرڅه په پام کې نیولو سره داسې بریښي چې اوسپنه ځمکې ته راښکته شوې یانې نزول یې کړی؛ خو دا راز د شلمې پېړۍ د څېړنو په ترځ کې رابرسېره شوی دی؛ مګر الله تعالی په قرآن کریم کې ۱۴۵۰ کاله دمخه دغه علمي حقیقت په خورا واضح ډول ذکر کړی او فرمایلي یې دي:
﴿وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾[2]
ژباړه: دغه شان موږ اوسپنه نازله (ښکته) کړه چې په هغې کې سخت قوت او ډېرې ګټې دي د خلکو لپاره.
د دې ایت په رڼا کې جوتېږي چې الله تعالی د اوسپنې نزول ته اشاره کړې، هغه څه چې یواځې په تېره پېړۍ کې کشف شوي او د داسې اسبابو پر مټ چې په ډېره لرې فاصله کې هم د ستورو حرکت معلوموي.
همدارنګه الله تعالی فرمایلي چې په اوسپنه کې د خلکو لپاره ډېرې ګټې دي؛ خو که فکر وکړو، د هغه عصر او زمان خلکو له اوسپنې څخه یواځې د تورې او نورو جنګي (حربي) وسایلو په جوړونه کې کار اخیسته، په دې نه پوهېدل چې اوسپنه ګڼ شمېر نورې ګټې هم لري، مطلب مې یواځې صنعت نه دی؛ ځکه موږ ټول پوهېږو چې نننی صنعت

---

۱. الاعجاز العلمي في الارض، یوسف الحاج احمد، مکتبة ابن حجر، مخ: ۲۰، کال ۲۰۰۳.
۲. الحدید: ۲۵.

کاملاً پر اوسپنه متکي دی؛ لېکن زما هڅه به دا وي، ترڅو د اوسپنې هغه ګټې بیان کړم چې ستاسې لپاره نوې او معلوماتي وي.

د (Nature's Destiny) په نوم یو کتاب چې لیکوال یې د نړۍ نوموتی مایکروبیولوجیسټ؛ مایکل دنټن (Michael Denton) دی، د اوسپنې د اهمیت په باب پکې لیکل شوي دي:

«د ژوند لپاره په ټولو فلزاتو کې هیڅ یو یې هم د اوسپنې په پرتله اړین نه دی؛ د ستورو په مرکزونو (هستو) کې د اوسپنې راټولېدنه د سوپرنووا چاودنې لامل کېږي، چې له امله یې د اوسپنې اتومونه د ځمکې مرکز لور ته ځي او ډېر لوړ حرارت رامنځته کوي، دې تودوخې د ځمکې لومړني کیمیاوي بېلتون (تفریق) ته زمینه برابره کړې، چې په نتیجه کې یې د ځمکې د اتموسفیر ګازونه او هایدروسفیر پوړ جوړ شوی، د ځمکې په هستې کې اوبلنه (مایع) اوسپنه د یوې سترې ډینامو په څېر کار کوي، چې په پایله کې یې د ځمکې مقناطیسي ساحه تولیدېږي او همدا مقناطیسي ساحه بیا د وان ایلن ملابند (VAN Allen Belt) (۱) جوړوي، دا ملابند د ځمکې سطحه له زیانمنو فضایي وړانګو څخه ساتي او د اوزون طبقه هم له تخریب او ویجاړې ژغوري.» (۲)

د اوزون طبقې، اتموسفیر او وان ایلن ملابند د اهمیت او ارزښت په هکله (د ځمکې د اتموسفیر) په موضوع کې غږېدلي یو.

---

۱. د وان ایلن ملابند په هکله مخکې (د اتموسفیر) په موضوع کې خبرې شوي.

۲. Nature's Destiny: How the laws of biology reveal purpose in the universe – Michael Denton, Page: 198-201, Pub – The free press – ISBN: 978-0743237628.

ښاغلی دنتن زیاتوي:
«که چېرې د اوسپنې اتوم نه وای؛ نو نه به سوپرنووا پېښېدله او نه به هم د کاربن پر بنسټ ژوند شتون درلود.»(۱)
**مانا دا؛** چې د سوپرنووا له چاودنې وروسته ځينې مهم عناصر؛ لکه کاربن، اکسيجن او نايتروجن په کايناتو کې خپرېږي، کوم چې د ژوند جوړولو لپاره ډېر زيات اړين دي او د کاربن په بنسټ ژوند څخه مطلب دا چې د ژوند لپاره اړين ماليکونه؛ لکه (DNA)، پروټينونه او کاربوهايډريټونه ټول د کاربن په شاوخوا کې يا د کاربن په بنياد جوړيږي؛ خو که اوسپنه نه وای؛ نه خو به سوپرنووا پېښېده او نه به هم دغه حياتي عناصر جوړېدل.
همدارنګه نوموړی وايي: «د اوسپنې له اتوم پرته به د انسان په وينه کې هيموګلوبين (Hemoglobin) نه جوړېدل، او داسې کوم فلز به هم نه وای، چې په ميتابوليزم کې د احتراق لامل ګرځېدلی وای.»(۲)
قرآن کريم د اوسپنې په اړه ځينو داسې پټو او له اسرار ډکو مسالو ته هم اشاره کړې، چې انسان يې په تأمل کې هک حيران پاتې کيږي.
لومړی دا چې موږ ټول په دې پوهيږو چې اوسپنه په طبيعت کې په څلورو ايزوتوپونو سره موندل کيږي، يو له هغو يې 57fe ايزوتوپ دی، اوس هغه سورة چې د پورته مسايلو ذکر په کې راغلی «سورة الحديد» دی، «حديد» اوسپنې ته وايي او د دغه سورة نمبر هم ۵۷ دی.
دوهم دا چې د عربي ژبې هر توری يو حسابي ارزښت لري، ياني هر يو

---

۱. هماغه ماخذ.

۲. هماغه ماخذ.

توری یوه شمېره څرګندوي او په دې توګه د تورو له مخې محاسبه کېږي، دې پوهې ته (جمل حساب) یا ابجد ویل کېږي.
په همدې بنیاد که د حدید کلمې ته د ابجدو په حساب وګورو؛ نو قیمت یې له **۲۶** سره مساوي کېږي:
ح = ۸ + د = ۴ + ي = ۱۰ + د = ۴ = ۲۶
دا شمېره (۲۶) د اوسپنې له اتومي نمبر سره چې **۲۶** دی، مساوي کېږي.

**څیرېدونکې ځمکه:**

الله تعالی د الطارق په سورة کې فرمايي:
﴿وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ﴾[۱]
ژباړه: او قسم دی په چاودېدونکې ځمکه.
په دې ایت کریم کې یو ژور حقیقت او ستر مفهوم نغښتی دی، چې د اوومې پېړۍ پر مهال په دښتو کې مېشت عربان ترې په بشپړ ډول ناخبره وو؛ ځکه دوی په دې څه پوهېدل چې د ځمکې درز څه شی دی، چېرې وي او څه ډول وي؟ پخوانیو مفسرینو یې هم په تفسیر کې لیکلي چې په ځمکه کې درزونه د کښت د زرغونېدو له امله رامنځته کېږي، یا په بل عبارت دوی لیکي چې د دې درز یانې «صدع» څخه د نبات راوتلو پر وخت د ځمکې څیرې کېدل مراد دي؛ حال دا چې قرآن کریم دې حالت ته د «شق» کلمه کارولې، الله تعالی فرمايلي:
﴿ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبًّا وَعِنَبًا وَقَضْبًا﴾[۲]

---

۱. الطارق: ۱۲.
۲. عبس: ۲۶- ۲۸.

ژباړه: او بيا مو ځمکه څيرلې (چوولې) ده او په هغې کې مو غلې دانې رازرغونې کړي دي او انگور، سابه،، زيتون او خرماوې.
د دې مبارک آيت په رڼا کې داسې برېښي چې د «شق» او «صدع» ترمنځ توپير شته، که څه هم پخوا ناڅرگند وو، لېکن نېکمرغي په دې کې ده، چې موږ او تاسې د ساينسي او ټيکنالوژيکي عصر برخه يو، په دې توگه کولای شو چې دې ته ورته د نورو ډېرو موضوعاتو پر تفکيک هم ښه وپوهېږو.
په هر حال؛ له دوهمې نړيوالې جگړې څخه وروسته ساينس پوهانو په سمندري څېړنو کې زياتوالی راوست، موخه يې د قيمتي فلزاتو او معدنياتو لاسته راوړل وو؛ خو فکر کوم تقدير د دې راز اظهار هم دې مودې ته پټ ساتلی وو، يانې د دغو څېړنو په لړ کې پوهانو د سمندرونو په تلونو کې پراخه درزونه وليدل، چې ښه بېلگه يې د ايسلنډ (سفلرا درز) يا (Silfra Fissure of Iceland) دی.[1]



شکل (۳۲): د ايسلنډ سلفرا درز

---

۱. Silfra – Silfra between continents – The geology of silfra – www.dive.is.

ځمکپوهانو د پرختلليو وسايلو پر مټ وکولای شول چې د ځمکې په تل کې ژورې څېړنې وکړي او د ځمکې د جوړښت په اړه مهم معلومات ترلاسه کړي، پوهانو د همدې څېړنو په ترڅ کې دا پايله ترلاسه کړه چې د ځمکې په ژورو کې هم ستر او پراخه درزونه يا چاودونه شتون لري، کوم چې د ځمکې داخلي جوړښت او فعاليتونو لپاره خورا اړين دي.

ښاغلی هارون يحيی په دې اړه ليکي:

«په ۱۹۴۵م کال کې پوهان د سمندرونو تل ته د څېړنو لپاره ورغلل، يوه مهمه مساله چې د دې څېړنو په ترڅ کې وموندل شوه، هغه د ځمکې چاودلی جوړښت وو، د ځمکې ډبرين قشر د سترو درزونو له لارې چې لسگونه زره کيلو متره اوږدوالی لري ټوټه ټوټه کيږي، وروسته پوهان په دې هم پوه شول چې په سمندرونو کې د دغو ټوټو لاندې د مگما (Magma) پنډوالی له ۱۰۰ څخه تر ۱۵۰ کيلو مترو پورې رسي.

د دې چاودونو له لارې لاوا بحرونو ته راوځي او په دې ترتيب يوه زياته اندازه تودوخه له لاسه ورکوي، که ځمکې دا جوړښتونه نه لرلای؛ نو ټوله تودوخه به د ځمکې سطحې له لارې نه ضايع کېدله او په پايله کې به د ډېرې تودوخې له کبله د ځمکې په سر ژوند ناممکن وو.»([1])

لکه څنگه چې ښاغلي يحيی ليکلي، نن ورځ پوهان په دې باور دي چې د ځمکې درزونه (Cracks) يو له هغه فکتورونو څخه دي، چې د ځمکې سياره يې د استوگنې وړ گرځولې؛ په دې چې په ځمکه کې زيات شمېر راديو اکتيف عناصر شتون لري، بناء که چاودونه نه وای؛ نو

---

۱. قرآن عظيم الشان او معاصر علوم، شريف رحماني، مخ ۱۲۷.

ځمکه به د یوه هستوي بم به څېر منفجره شوې وای.([۱])

ځیني ځمکپوهان دا هم لیکي، چې د ځمکې درزونه د یوه تنفسي سیستم په حیث کار کوي، یانې که د ځمکې کرسټ (پوښ) سخت او کلک واي، درزونه به یې نه لرل او که چېرې درزونه (چاودونه) نه وای؛ نو د ځمکې په منځ او تل کې به د موجودو بخاراتو مخه ډب وه؛ بلکل هغسې چې موږ او تاسې د پوزې او خولې له لارې کاربن ډای اکسایډ خارجوو، په ورته توګه ځمکه هم خپل حرارت او بخارات د همدغو چاودونو له لارې خارجوي، دې پروسې ته په علمي اصطلاح (Degassing) ویل کېږي.

دا هرڅه په دې دلالت کوي چې کله هم الله تعالی په قرآن کریم کې د یو څه په نوم قسم یادوي؛ نو هغه یو معمولي څیز نه وي؛ بلکې تر شا یې ګڼ شمېر حکمتونه هم پراته وي.

د ځمکې د چاودونو له مهمو او اساسي ګټو څخه یې ځینې په لاندې ډول دي:

۱. د ځمکې په داخل کې د راټول شوي فشار کمول.

۲. د معدني زېرمو جوړول.

۳. خاوره حاصلخېزه کول.

۴. د اقلیم تنظیم.

۵. د ځانګړو ایکوسیستمونو ملاتړ.

٦. د جیوترمل انرژۍ تولید.

---

۱. Breating Earth Venting Cracks – Stephen G. Benka – Physics today – Pub-2009,Fe,23 https://doi.org.

ويلای شو چې پوهانو د اسبابو له لارې يواځې په ۱۹۴۵- ۱۹۴۶ کلونو کې دې پوهې ته ورسېدل؛ مگر په قرآن کريم کې د الطارق سورة ۱۲ آيت دا خبره ۱۴نيمې پېړۍ دمخه بيان کړې.

**د ځمکې تر ټولو ټيټه برخه:**

**د اوومې ميلادي پېړۍ ستر قوتونه:**

تاريخ د اوومې ميلادي پېړۍ په هکله ليکي:

چې په ياده پېړه کې روميان او فارسيان د نړۍ ستر ځواکونه گڼل کېدل، فارسيان چې ساسانيان هم بلل کېدل، د دين او عقيدې له پلوه مشرکين ول او د اور عبادت يې کاوه؛ خو روميان بيا د ابراهيمي دين يا عيسويت منونکي ول.

څرنگه چې دوی د نړۍ په کچه ستر قوتونه وو، وخت ناوخته يې ترمنځ جگړې پېښېدې؛ خو په کال ۶۱۳م کې د دوی ترمنځ يوې جگړې سخت زور واخېست او ډېر دوام يې وکړ، بالاخره اختتام يې د روميانو پر مهزوميت تمام شو.

دې جگړې نه يواځې روميان په معرکه کې په فزيکي توگه مات کړل؛ بلکې کله چې ساسانيان د بيت المقدس ښار ته ننوتل، د عيسوي عقيدې د لرغونو اثارو په ضبطولو او ويجاړولو يې بنا وکړه، چې په دې اړه ستر صليب د يادولو وړ دی؛ ځکه د عيسويانو په باور دا د عيسی عليه السلام څخه يواځينی فزيکي پاتې شونې نښه ده، همدا راز دوی د عيسويانو سپېڅلې مقبرې (Sephulcre) ته هم اور واچوه، چې دې هرڅه د روميانو مهزوميت ته د شرمنده گۍ رنگ لا ور اضافه کړ.

دا نو هغه مهال و چې مسلمانان لا هم په مکه کې وو، يانې هجرت يې

نه و کړی، د دې خبر په اورېدو سره د مکې مشرکین خوښ او برعکس مسلمانان پرې خفه شول؛ ځکه د عقیدې له پلوه مسلمانانو له رومیانو سره مشترکات درلودل او مشرکانو بیا له ساسانیانو سره.

رومیانو په یوه خدای ایمان درلود، اسماني کتابونه او پیغمبران یې هم منل او د قیامت د ورځې پر راتګ هم معتقد وو، ولې ساسانیان د مکې مشرکینو په څېر له دې هر څه منکر وو.

د مکې مشرکینو به په مسلمانانو ملنډې وهلې، ځینو خو به یې دا هم ویل چې څنګه ساسانیانو رومیانو ته ماتې ورکړه، دغه شان به موږ تاسې هم مات کړو؛ لیکن دا یقیني خبره ده چې الله تعالی خپل مؤمنان بنده ګان هیڅ وخت یواځې نه پرېږدي؛ نو الله تعالی وعده وکړه او سورة الروم نازل شو(۱)، الله تعالی وفرمایل:

﴿الٓمٓ ○ غُلِبَتِ الرُّوۡمُ ○ فِيۡۤ اَدۡنَى الۡاَرۡضِ وَهُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُوۡنَ ○ فِيۡ بِضۡعِ سِنِيۡنَ ؕ لِلّٰهِ الۡاَمۡرُ مِنۡ قَبۡلُ وَمِنۡۢ بَعۡدُ ؕ وَيَوۡمَئِذٍ يَّفۡرَحُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ○﴾(۲)

ژباړه: الم، رومیان مغلوب شول، په نږدې/ ټیټه ځمکه کې او دوی به له دې مغلوبېدو وروسته بیا برلاسي کېږي، په یو څو (۳-۹) کلونو کې، الله لره مخکې هم واکمني وه او وروسته هم او په دغه ورځ به مؤمنان هم خوښي کوي.

د «بضع» کلمه په عربي ژبې کې له ۳ څخه تر ۹ عدد پورې کارول

---

۱. تفسیر المنیر، ۲۱/ مخ ۴۷.

۲. الروم: ۱ - ۴.

کېږي(۱)؛ نو کله چې دا ایتونه نازل شول، الله تعالی وعده وکړه چې رومیان به په دغه موده (۳ – ۹) کلونو کې بېرته فارسیانو ته ماتې ورکړي؛ نو ټول خلک هک حیران شول؛ ځکه د رومیانو هغه وخت اوضاع ته په کتو دا هیڅ شونې نه برېښېده، چې رومیان دې په یو څو کلونو کې بېرته فارسیانو ته ماتې ورکړي، په دې چې رومیان په تمامه مانا مات شوي ول، هیڅ ډول نظامي او اقتصادي سرچینې یې پاتې نه وې؛ بلکې حالات یې مخ پر ځوړتیا روان وو.

د فلاح او نجاح خبرې خو پرېږدئ، چا دا تمه هم نه لرله، چې بازنطیني امپراتوري دې بقا وکړي.

مثلا؛ داسې وګڼئ لکه د ویتنام له جګړې وروسته چې یو څوک ووایي چې ویتنام به په راتلونکو څو کلونو کې امریکا ته ماتې ورکړي.

دا هماغه وخت وو، چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه له یو مشرک سره د رومیانو د بري او د فارسیانو د ماتې په سر شرط لګوي.

په هر صورت؛ د دې هرڅه سره سره رومیانو په **۶۲۲**م کې لومړی ځوابي برید پیل کړ، چې مشري یې د هرقل (Heraclius) په غاړه وه؛ نوموړي خپل لښکر راواخېست او د کاپادوکیا (د ترکیې شمالي برخه) ته ولاړ، په دغه ځای کې د رومیانو او ساسانیانو ترمنځ سخته جګړه ونښته، په حیرانوونکې توګه پایله د رومیانو په بري تمامه شوه او فارسیان یې له اناتولیا څخه بهر کړل(۲) د دې خبر له خپرېدو سره به حیرانتیا هم موازي خپرېده.

---

۱. لسان العرب، ابن منظور (البضع مابین الثلاث الی التسع)، تاج العروس، الزبیدي (البضع من الثلاث الی التسع).

۲. اناتولیا، د ترکیې په اسیایي برخه کې یوه تاریخي سیمه ده، چې د کوچنی اسیا په نوم هم یادېږي.

د یادونې وړ ده چې دا پېښه په کال **۶۲۳** کې رامنځته شوه او دا هماغه کال وو چې مسلمانانو مشرکینو ته هم په بدر کې ماتې ورکړه؛ نو ځکه الله تعالی فرمایلي:

﴿وَيَوۡمَئِذٖ يَفۡرَحُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ۝﴾[1]

که موږ د **۶۲۳** څخه ۶۱۴ [2] تفریق کړو، **۹** پاتې کیږي، چې په تاریخي لحاظ دا د قرآن کریم یوه ستره معجزه ده.

راځو د موضوع دوهم او اصلي اړخ ته؛

**د ځمکې ټیټه برخه:**

په مذکورو ایتونو کې الله تعالی فرمایلي:

﴿غُلِبَتِ ٱلرُّومُ۝ فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ﴾[3]

ژباړه: رومیان مغلوب شول په تر ټولو ټیټه ځمکه کې.

په عربي ژبه کې ادنی دوی ماناوې لري:

۱. تر ټولو ټیټ.

۲. تر ټولو نږدې.

علامة الوسي رحمه الله یې په تفسیر کې داسې لیکي: (ادنی اي اخفض) یانې تر ټولو ټیټ.[4]

پخوانیو مفسرینو یې په تفسیر کې ځکه د «نږدې» مانا ذکر کړې چې د

---

۱. الروم: ۴.

۲. جگړه په ۶۱۳ کې پیل او په ۶۱۴ کې پای ته ورسېده.


۳. الروم: ۲ - ۳.

٤. روح المعاني ۱۱/ ۱۹ مخ.

هغه وخت خلک د ځمکې د لوړو او ژورو په هکله په هیڅ نه پوهېدل، دا د قرآن کریم بې ساری شان دی چې د هر لفظ هره مانا یې سمه او د هر عصر خلکو لپاره د درک وړ ده، یانې که د نږدې په مانا یې غور وکړو؛ نو رومیانو له ساسانیانو څخه د اردن او فلسطین ترمنځ د بحر میت (Dead Sea) ته څېرمه ماتې وخوړه، چې د حجاز یا اوسني عربستان سره ډېره نږدې ده. (۱)

خو دا بله مانا یې اوسني عصر پورې اړه لري، مانا دا چې قرآن کریم فرمایي چې رومیانو د ځمکې په ډېرې ټیټې سیمې کې ماته وخوړه.

که مخکینیو مفسرینو یې په تفسیر کې د «ټیټې» مانا لیکلې وای؛ نو هیڅوک به یې په هدف او مفهوم نه وای پوه شوي؛ مګر نن ورځ موږ پوهېږو چې د بحر میت (Dead Sea) شاو خوا ته پراته سواحل په ټوله ځمکه کې ټیټه برخه ګڼل کېږي، دا د مصنوعي سپوږمکیو له څرګندونو او د ځمکپوهانو د ژورو تحقیقاتو پر بنسټ اثبات شوې ده.




شکل (۳۳): د ځمکې تر ټولو ټیټه سیمه

۱. تفسیر المنیر، ۲۱/ ۴۸- ۴۷.

دوکتور زغلول النجار په دې اړه د یوې تلویزیوني خپرونې پرمهال وویل:

«په رښتیا هم پخوا څوک څه پوهېدل چې د ټیټې برخې څخه مانا څه ده؟ خو په دې وروستیو کې موږ پوه شوو چې د نړۍ پر سطحه تر ټولو ټیټ ځای د بحر میت شاو خوا سیمې دي، د دغو سیمو ټیټوالی د بحر له سطحې څخه کابو ۴۰۰ مترو ته رسېږي»([1])

دغه راز د جیولوجۍ ستر عالم ښاغلي پالمر هم په کال ۱۹۷۹م ریاض کې د یوه کنفرانس پر مهال دا تایید کړه چې د (Dead Sea) شاوخوا سیمې د ځمکې تر ټولو ټیټې برخې دي، دی نه یواځې د قرآن کریم دقت او حقانیت متحیر کړ؛ بلکې دا یې هم وویل چې قرآن کریم د الله تعالی وینا ده. ([2])




شکل (۳۴): د بحرمیت غاړه

۱. Video Link (Zaghlol Al Najjar).

۲. قرآن عظیم الشان او معاصر علوم، شریف رماني، مخ ۱۲۹.

رښتیا هم په هغه عصر او زمان کې د یوې داسې موضوع په هکله خبرې کول نه دا چې ستونزمنه ده؛ بلکې بلکل ناشونې ده.

د بېلګې په توګه؛ که زه له تاسې څخه وپوښتم چې ستاسې په محله یانې ښار یا کلي کې تر ټولو ټیټ قد لرونکی انسان څوک دی؟ څه ډول به درست او دقیق ځواب راکړئ؟

البته د دې لپاره چې سم ځواب راکړئ؛ تاسې اړ یاست څو د خپلې محلې د ټولو اوسېدونکو قدونه وګورئ او د پرتله کولو توان یې ولرئ؛ پرته له دې شونې نه ده.

اوس که قرآن موږ ته دا ویلی شي، چې د ځمکې تر ټولو ټیټه برخه چېرې ده؛ نو دا په دې مانا ده چې قرآن کریم د یو داسې ذات کلام دی، چې په عین حال کې د ځمکې ټوله سیاره ویني؛ ځکه نه خو په هغه دور کې مصنوعي سپوږمکیو شتون درلود او نه هم محمد صلی الله علیه وسلم د ځمکې ټولو برخو ته سفر کړی.

**د اوبو دوران؛ هایدرولوجي:**

په نړۍ کې په زرګونو سیندونه بهېږي، چې هر یو یې هره ورځ په میلیونونو ګیلنه اوبه سمندرونو ته تویوي؛ خو پوښتنه دا ده چې دا ټولې اوبه چېرته ځي؟ حال دا چې د سمندرونو په سطحه کې خو هم کوم لوړوالی نه لیدل کیږي.

د دې پوښتنې ځواب د اوبو په دوامداره دوران کې نغښتی دی، یو داسې

بهیر چې د ځمکې په سطحه، فضا او ژورو کې په دوامداره توګه جریان لري، دا مفهوم تر ۱٦ز پېړۍ پورې په بشپړ ډول نه وو تشخیص شوی.

په لرغونو وختونو کې خلک په دې هم نه پوهېدل چې د ځمکې لاندې اوبه له کومه سرچینه اخلي، د افلاطون په پېر کې د خلکو ترمنځ دا نظر عام وو، چې اوبه په یوه پټه لار سمندر ته ځي، دې لارې ته یې (Tartarus) ویل، چې ګویا د بادونو فشار اوبه د ځمکې ژورو ته ټېل وهي[1]، حتی تر ۱۷مې پېړۍ پورې خلک او ستر مفکرین په دې نظریه ټینګ ولاړ وو.

په هر صورت؛ د اوبو دوران د لومړي ځل لپاره په کال ۱۵۸۰م کې د ښاغلي برنارډ پالیسي (Bernard Pallisy) له خوا تشریح شو.

دا پروسه د ګڼ شمېر مراحلو په بنسټ جوړه شوې، چې دلته یې موږ د قرآن کریم له ایتونو سره په لنډ ډول پرتله او شرحه کوو:

**۱. مرحله: تبخیر:**

اوبه دلمر تودوخې له امله له سیندونو، سمندرونو او جهیلونو څخه بخار کوي او پورته خېژي.

قرآن کریم فرمایلي:

---

۱. From Mythology to Science: The Development of Scientific Hydrological Concepts in Greek Antiquity – Demetris and Nikos – Hydrology and Earth System Science - 2021.

﴿وَّ جَعَلۡنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا۝ وَّاَنۡزَلۡنَا مِنَ الۡمُعۡصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا۝﴾[۱]

ژباړه: او موږ لمر يو ځلېدونکی څراغ ګرځولی (جوړ کړی) او له ډکو ورېځو مو پرله پسې اوبه راورولي دي.

شرحه: په دغه آيت کريم کې له ورېځو او باران څخه وړاندې لمر ذکر شوی، نن ورځ موږ پوهېږو چې لمر د اوبو د دوران لپاره يو بنيادي فکتور او تبخير د دوران لومړی مرحله ده.

## ۲. د ورېځو جوړښت:

د اوبو بخار پورته ځي او د بادونو په واسطه ورڅخه ورېځې جوړېږي.

قرآن کريم فرمايلي:

﴿اَللّٰهُ الَّذِیۡ يُرۡسِلُ الرِّيٰحَ فَتُثِيۡرُ سَحَابًا فَيَبۡسُطُهٗ فِی السَّمَآءِ كَيۡفَ يَشَآءُ﴾[۲]

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې بادونه رالېږي، بيا ورېځې پورته کوي او ښنګه يې چې وغواړي په اسمان کې يې خپروي.

شرحه: الله تعالی دلته دوهم فکتور يانې باد (شمال) ذکر کړی، کوم چې د اوبو له بخار څخه په فضا کې ورېځې جوړوي.[۳]

---

۱. النبأ: ۱۳- ۱۴.

۲. الروم: ۴۸.

۳. د قرآن علمي اعجاز، د معاصرې ټيکنالوژۍ او ساينس په رڼا کې، هارون يحيی، مخ ۸۹- ۹۱.

**۳. کوچنۍ ورېځې یوځای کېږي، لویې ورېځې جوړوي، ترڅو درنې ورېځې ایجادې کړي، بیا د همدې درنو ورېځو څخه باران راځي:**

قرآن کریم فرمایلي:

﴿اَلَمۡ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُزۡجِیۡ سَحَابًا ثُمَّ یُؤَلِّفُ بَیۡنَهٗ ثُمَّ یَجۡعَلُهٗ رُکَامًا﴾(۱)

ژباړه: ایا ته نه وینې چې الله تعالی ورېځې روانوي او بیا یې سره یوځای کوي، بیا یې ټینګه درنه ورېځ ګرځوي.

په بل آیت کریم کې فرمایي:

﴿وَهُوَ الَّذِیۡ یُرۡسِلُ الرِّیٰحَ بُشۡرًۢا بَیۡنَ یَدَیۡ رَحۡمَتِهٖ حَتّٰۤی اِذَاۤ اَقَلَّتۡ سَحَابًا ثِقَالًا﴾(۲)

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې بادونه د زېري په ډول مخکې د رحمت نه لېږي، تر دې چې درنې ورېځې پورته کړي.

د اسلام د ظهور پر وخت د انسانانو پوهه د نړۍ او طبعیت په باب ډېره محدوده وه، حتی هیڅوک په دې نه پوهېدل، دغه ورېځې چې په آسمان کې سپکې او بې وزنه ښکاري کوم وزن دې له ځانه سره ولري؛ خو بیا هم قرآن کریم په هماغه وخت کې دې ټکي ته اشاره کړې ده،

---

۱. النور: ۴۳.

۲. الاعراف: ۵۷.

چې بادونه درنې وریځې راپورته کوي، د «ثقالا» کلمه له ژور مفهوم او حکمت ډکه ده؛ ځکه د هوا پېژندنې (Meterology) عصري ساینس هم دا وایي چې وریځې په ټنونو، ټنونو اوبه له ځانه سره لري.[۱]

**۴. د اوبو ذخیره:**

باراني اوبه ځمکې ته ننوځي، ذخیره کېږي او بیا ترې د چینو په بڼه راوځي.

قرآن کریم فرمایي:

﴿وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ﴾[۲]

ژباړه: او له اسمان نه مو په ټاکلې اندازه اوبه را وورولې، بیا مو هغه په ځمکه کې ذخیره کړې او بې شکه په روانولو یې هم قادر یو.

په یو بل آیت کریم کې فرمایي:

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا﴾[۳]


ژباړه: ایا ته نه وینې چې الله تعالی له آسمان نه اوبه راوروي، بیا یې د ځمکې په چینو کې ننویستې، بیا له هغې سره رنګارنګ کښتونه راوباسي.

---

۱. Library of Congress – How much does a cloud weight, www.loc.gov.

۲. المؤمنون: ۱۸.

۳. الزمر: ۲۱.



شکل (۳۵): د اوبو دوران بېلابېل پړاوونه

**پایله:**

پایله دا شوه چې اوبه له سیندونو، سمندرونو او جهیلونو څخه پورته کېږي، تراکم کوي، په ورېځو بدلون مومي، د کوچنیو ورېځو یو ځای کېدو په صورت کې درنې ورېځې جوړېږي، بیا یې له منځه باران راځي. وروسته له باران څخه همدغه اوبه د ځمکې له لارې چینو ته او د چینو له لارې سیندونو ته ځي، په دې توګه د اوبو دوره (Water Cycle) بشپړېږي، څه ډول چې موږ ولیدل، دا ټولې مرحلې په قرآن کریم کې په خورا واضح ډول بیان شوي دي.

ډاکټر ماریس بوکای (Dr. Maurice Bucaille) په خپل کتاب (Quran Bible and Modern Science) کې په دې هکله لیکي:

«د اوبو دوران یوه داسې موضوع ده چې نن ورځ په ښه توګه پېژندل

شوې، له همدې امله په قرآن کريم کې هغه آيتونه چې د اوبو دوران پورې اړوند دي، هغه نظريات بيانوي، چې نن ورځ په بشپړه توګه واضح شوي دي.

سمه ده چې اوس زموږ لپاره عادي ښکاري؛ خو دا بايد هېر نه کړو، چې پخوا دومره عام نه وو؛ بلکې يواځې په ۱٦مه پېړۍ کې د برنارډ پاليسي له خوا د اوبو د دوران لومړۍ منظمه تشريح وشوه، تر دې وړاندې خلکو باور درلود، چې د سمندرونو اوبه د بادونو له لارې وچو ته رسېږي، حتی تر ۱۷مې پېړۍ پورې د ډيکارټ(۱) په شمول نور ستر مفکرين هم په دې افسانې معتقد وو.» (۲)

۱. ريني ډيکارټ (Rene Descartes) د ۱۷مې پېړۍ يو وتلی فرانسوي مفکر، فلسفي او رياضي پوه وو، هغه ته د عصري فلسفې پلار هم ويل کېږي.

۲. Quran, Bible and Modern Science, Dr. Maurice Bucaille, P-15.

# شپږم څپرکی

## (سمندر پوهنه)

## دوه بېلابېل سمندرونه سره ولې نه یو ځای کېږي؟

ژبنيز تحليل

سمندريز تورتم او داخلي څپې يې

سمندري تيارې

سمندريزې څپې

د داخلي څپو د جوړښت لاملونه

په څمکه کې د وچې او اوبو سلنه

د قرآن کريم رياضيکي اعجاز

د الفاظو توازن

د الفاظو تناسب

*شپږم څپرکی*

# (سمندر پوهنه)

# دوه بېلابېل سمندرونه سره ولې نه یو ځای کېږي؟

ښايي داسې یو منظر مو له نږدې او یا هم په ټولنیزو رسنیو کې تر سترګو شوی وي، چېرې چې دوه بېلا بېل سمندرونه یو له بل سره مخ کېږي؛ اما اوبه یې سره نه ګډېږي، چې ښې بېلګې یې د اتلانتیک او ارام سمندرونه، د مدیترانې سیند او اتلانتیک سمندر، سره بحیره او د عدن خلیج دي؛ خو ابهام دا دی چې د دوی اوبه ولې سره یو ځای کېږي نه؟ دا مساله یانې د سمندرونو د اوبو نه ګډېدل، په رښتیا هم پخوا یوه له راز او اسرار ډکه مساله وه، چې پوهان او عامیان دواړه ورته ګوته په غاښ

وو، دا په دې چې منظر او ننداره يې ډېره زړه وړونکې ده او تش په کتو خو يې د علت او سبب درک ستونزمن کار دی.



شکل (۳٦): د ارام او اطلس سمندرونو د نښلېدو منظر.

لېکن له نېکه مرغه باید ووایم چې د نړیوالو پوهانو د هڅو او کوښښونو له برکته د دې پر اسراره پدیدې علت معلوم او درک شوی دی.

ساینس پوهانو د ۱۹مې پېړۍ په منځنیو لسیزو کې مسلسلې او متداومې څېړنې وکړې، چې په کې د مسلمانو عالمانو، شیخ عبدالمجید الزنداني او ډاکټر طارق السوایدن تحقیقات هم شامل دي.

ښاغلي السوایډان د قرآن کریم د علمي اعجاز پر تړاو په یوې وینا کې په دې هکله داسې وویل:

«دا حقیقت (؟) تر ۱۸۷۵م کال پورې پټ پاتې و؛ خو د چلینجر (Challenger) په نوم یوې انګلیسي څېړنیزې ډلې په دې اړوند څېړنه وکړه او ویې کولای شول چې د دواړو ډولو اوبو جوړښتونه (ځانګړنې) وپلټي.

بالاخره دوی دې نتیجې ته ورسېدل چې د دوو سمندرونو ترمنځ یو نه لیدونکی خط شتون لري، دوی دا هم زیاته کړه، چې که چېرې موږ هم د دواړو ډولو اوبو نمونې راواخلو او ویې څېړو؛ نو د دوی په جوړښت مالګین والي او کثافت کې به جوت توپیر ومومو.»(۱)

دا ځواب یوه بله پوښتنه تعویضوي او هغه دا چې څنګه دوه سمندرونه باوجود د دې چې په دوامداره توګه یو له بل سره لګېږي، زورور جریانونه هم لري او د څپو مد او جذر په کې هم صورت نیسي، ولې بیا یې هم اوبه سره نه یو ځای کېږي؟

په اصل کې دغه پردې (Barriers) د سمندر له سر نه تر تل پورې غځېږي، د انعطاف خاصیت لري، ثابتې نه وي؛ بلکې خوځنده یا متغیرې وي، یانې د څپو او جریانونو له حرکاتو سره سم حرکت کوي، یا په بل عبارت سمندریزو څپو او جریانونو ته په کتو ځان عیاروي.

دا پردې که څه هم مستقیما د لیدلو وړ نه دي؛ خو په تاسیس او جوړښت کې یې د درې اساسي فکتورونو مختلف والی او تغیر لاس لري، چې عبارت دي له:

۱. تودوخه Thermocline.

۲. مالګینوالی Salinity.

---

۱. Nairland – Miracle of the Quran two seas between them is a barrier – nairland.com.

۳. تولیز کثافت Halocline.([۱])

د سمندرونو ترمنځ د یادو فکتورونو توپیر په اوبو کې بېلا بېل زونونه ایجادوي او اوبو ته د ګډېدو اجازه نه ورکوي؛ خو په ټوله کې دا زونونه د یوې نه لیدونکي پردې (برزخ) په څېر فعالیت کوي.([۲])

کپیټان کوسټو (Cap. Jaceques Cousteau) چې د فرانسې هېواد یو معتبر سمندر پوه او د ژورو اوبو په څېړنه کې یو پېژندل شوی څېړونکی دی، د سمندري پردو په تړاو خپله څېړنیزه پایله داسې بیانوي:

«موږ د ځینو څېړونکو د څرګندونو تحلیل کاوه، چې ویل یې د بېلا بېلو سمندرونو اوبه د ځانګړو پردو په واسطه جلا شوي دي، د یو لړ علمي مطالعاتو په پایله کې مو وموندله چې د مدیترانې سمندر ځانګړی طبیعي توازن لري، چې په کې د مالګینی کچه، کثافت او ځانګړې ژوند بڼه موجوده ده، بیا مو د اتلانتیک سمندر اوبه وڅېړلې، ومو لیدل چې د مدیترانې سمندر سره د پام وړ توپیر لري، سره له دې چې د دواړو اوبه د جبل الطارق ابنا (تنګي) له لارې سره مخ کېږي، ولې په مالګینوالي، کثافت او ژوند بڼې کې یو له بله خورا متفاوت دي، موږ د دې موضوع څېړنه یو څه نوره مخته یوړه، چې له کبله یې یوې حیرانوونکې پایلې ته ورسېدو، هغه دا چې د دې دواړو سمندرونو ترمنځ یوه پرده قرار لري او

---

۱. Principles of Oceanogrophy – Davis – Page: 92 - 93.

۲. Oceanogrophy – Grass – Page: 242 - 244.

دا پرده هغه لامل دی چې د سمندرونو اوبه ګډېدو (یوځای کېدو) ته نه پرېږدي.»[۱]

دې حقیقت چې ښاغلی کوستو او د هغه ملګري یې متحیر کړل، واقعاً حیرانوونکې ده؛ خو تر دې حیرانوونکې بیا دا ده چې د همدې حقیقت یادونه ۱۴نیمې پېړۍ دمخه د قرآن کریم په دغو آیتونو کې هم راغلې:

﴿وَهُوَ الَّذِىْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا﴾[۲]

ژباړه: او الله تعالی هغه ذات دی چې دوه سمندرونه یې خوشې کړي دي، دا یو یې خوږ او خوندور او دا بل یې مالګین او تریخ دی او د دواړو ترمنځ یې پرده واچوله او یو بند چې منع کړی شوی دی.

په یو بل ایت کې فرمایي:

﴿مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ۝ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ۝﴾[۳]

ژباړه: هغه (الله تعالی) دوه سمندرونه داسې بهولي چې سره نښتي دي؛ خو ترمنځ یې یوه پرده ده، چې یو پر بل تېری نه کوي.

## ژبنیز تحلیل:

### الف: اجاج:

---

۱. About Islam – A barrier between seas – 2017, Jan, 13.

۲. الفرقان: ۵۳.

۳. الرحمن: ۱۹ - ۲۰.

اجاج مالگین تروش او یا تریخ ته وایي، عربان ځینې وخت تروشو اوبو ته هم اجاج وایي: (ماء اجاج).(۱)

**ب: حجر:**

دا کلمه منع کولو یا نه پرېښودو ته وایي، ابن منظور رحمه الله يې مانا په تنګولو سره هم کړې.(۲)

**ج: مرج:**

دا کلمه د (یو ځای کېدو یا ګډېدو) په مانا ده او «لا یبغیان» د نه تېري کولو یا نه یو ځای کېدو په مفهوم اطلاق کوي.(۳)

دا علمي پدیده چې په قرآن کریم کې یې روښانه یادونه شوې، د ډاکټر ویلیام های (William Hay) له خوا هم تایید شوې، هغه څوک چې د کولوراډو په پوهنتون کې د جیولوجیکي ساینس استاد او په ځانګړې توګه په سمندري علومو کې یوه مطرح څېره وه.(٤)

موضوع به په یوه بنسټیز او بنیادي ټکي راټوله کړو، هغه دا چې که الله تعالی د اوبو ترمنځ د بېلتون قانون نه وای ایښی؛ نو خوږې اوبه به د مالګینو اوبو سره یو ځای شوې وې، چې له امله به یې د ژوندیو مخلوقاتو ژوند او چاپېریال ته ستر ګواښ پېښ شوی وای.

---

۱. جمهرة اللغة، ۳/ ۱۲۵۲.

۲. لسان العرب، ابن منظور.

۳. لسان العرب، ابن منظور.

٤. The Quran and Modern Science – Compatible or incompatible? Page: 36 - 37.

ویلی شو چې دا او دې ته ورته نور حقایق د الله تعالی لا یتناهي قدرت، عمیق حکمت او بې ساری علمیت راڅرگندوي.

**سمندریز تورتم او داخلي څپې یې:**

د اوبو لاندې کښتیو (سبمرینونو) جوړښت د اوولسمې پېړۍ دور ته ورگرځي، یوه داسې وسیله چې د اوبو لاندې حرکت کوي.

دا وسیله د لومړي ځل لپاره په کال ۱٦۲۰م کې د کورنیلس ډریبل (Corneilus Drebbel) له خوا اختراع او له امله یې شونې شوه څو د سمندر د تل (ژورور) جغرافیه او ژوند وپلټل شي.

د ډېرو لسیزو څېړنو وروسته لاندې حقایق راڅرگند شول:

۱. سمندر په دوو برخوووېشل شو:

**الف: سطحي سمندر (Sunlit Zone)**، چې د لمر انرژي او رڼا ترې تېرېږي.

**ب: ژور سمندر**، چې د لمر انرژي او رڼا په کې نه شته.

**۲. داخلي څپې (Internal Waves)**: دا څپې د ژور سمندر سطحه پوښي او د سطحي سمندر ترمنځ د پولې حیثیت لري.

داخلي څپې په ۱۹۰۰م کلونو کې کشف شوې، چې اوږدوالی یې له لسگونو څخه تر سلگونو مترو پورې رسېږي او لوړوالی یې کابو تر ۱۰۰ مترو پورې وي.



شکل (۳۷): د سمندر داخلي ځپې

**۳. څومره چې سمندر ژوریږي، هومره یې تیاره هم زیاتیږي.**

له ۲۰۰ مترو ژوروالي وروسته تیاره دومره پیاوړې شي، چې له امله یې لید ستونزمن کیږي، د سمندرونو په تل کې د تیارو څو پوړونه شتون لري، چې په کې هیڅ ډول طبیعي رڼا نه شته، په داسې ایکوسیستمونو کې ژوي بې بصره وي او د چاپېریال د درک لپاره نور حسونه کاروي.

دغو ټولو مفاهیمو ته قرآن کریم د اشارې په ترڅ کې فرمايي:

﴿أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِى بَحْرٍ لُّجِّىٍّ يَغْشَىٰهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ سَحَابٌ ۚ ظُلُمَٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَآ أَخْرَجَ يَدَهُۥ لَمْ يَكَدْ يَرَىٰهَا ۗ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ﴾[1]

۱. النور: ۴۰.

ژباړه: او د (کافرانو اعمال) داسې لکه په يوه ژور سمندر کې تروږمۍ (تيارې) چې د څپې له پاسه څپه وربانديې خپره وي او په هغې د پاسه وريځ، يو پر بل باندې تيارې، کله چې (څوك) خپل لاس وباسي، نيږدې وي چې هغه هم ونه ويني او چاته چې الله رڼا پيدا نه کړي، نو بيا هغه ته رڼا نشته.

الله تعالى په دې مبارک آيت کې هغو کسانو ته په اشاره فرمايلي چې د الله تعالى له آيتونو څخه منکر او د محمد صلى الله رسالت ردوي، په وړاندې ايت کې الله تعالى فرمايلي چې د دوی او د دوی د عملونو مثال د هغه چا په څېر دی چې سراب (هغه غلطه انګېرنه چې له مخې يې اوبه ښکاري؛ خو په حقيقت کې وي نه) پسې ځي، په تمه يې شپې تېروي؟ خو کله چې ور ورسي هيڅ نه مومي، پرته له خپلو بدو عملونو.[1]

خو په ۴۰م آيت کې تشبيه يو څه نوره هم واضح کوي او فرمايي:

چې دا خلک د هغه چا په څېر دي، چې د يوه ژور سمندر په تروږمۍ کې ژوند کوي، داسې تياره چې د خپل لاس ليدل هم په کې ستونزمنه ده؛ لکه څنګه چې قرطبي رحمه الله يې په تفسير کې ليکلي:

«دا ايت د مطلقې ګمراهۍ يو حيرانوونکی انځور وړاندې کوي، چې د ايمان نښتون په کې څرګند دی.»[2]

طبري رحمه الله ليکلي: «د کافر زړه د ژور سمندر په څېر دی، چې د

---

١. Abdul Daem Al Kaheel – The Darkness of Undersea .www.kaheel.eng

٢. تفسير القرطبي، سورة النور: ۴۰.

تیارو له پوړونو سره مخ دی، دې تیارو ته «موج من فوقه موج» ویل شوی، یانې پرله پسې موانع، چې د حقیقت له درک څخه مخنیوی کوي، د څپو تشبیه د ظاهري خنډونو لکه غلط عقاید، جهالت او خواهشاتو ته اشاره ده.»(۱)

دا آیت سره له دې چې د استعارې پر بڼکلي سبک پوښل شوی، هم مهاله دوې ژورې سمندري پدیدې په برکې نیسي.

۱. سمندري تیارې.

۲. سمندریزې څپې.

**سمندري تیارې:** لکه څنګه چې وړاندې مو وویل، پوهانو د څېړنو له لارې څرګنده کړې، چې څومره ژوروالی ډېرېږي، هومره سمندر تورتمېږي، تر دې چې د ۲۰۰ مترو په ژوروالي کې حرارتي کرښه (Thermocline) موقعیت لري، دا کرښه د تودو سطحي او سړو ژورو اوبو ترمنځ د پردې حیثیت لري.

**- یو پر بل پرتې د تیارو طبقې:**

څه وخت چې د لمر وړانګې د اوبو له سطحې سره ولګېږي، د اووه رنګونو ښکلی ترکیب رامنځته کوي؛ لېکن څومره چې د سمندر ژورو ته ننوځو، په هماغه کچه دا رنګونه یو په بل پسې په تدریجي ډول محوه او له منځه ځي.

تر ټولو د مخه سور رنګ ورکېږي، چې د سمندر له سطحې لاندې

---

۱. تفسیر الطبري، النور: ۴۰.

يواځې تر ۲۰ مترو پورې د ليدلو وړ دی، مانا دا که د يو چا لاس يا د بدن کومه بله برخه د ۳۰ مترو په ژوروالي کې تېټي شي، د وينې سور رنګ به ورته شين - خړ (Greenish – Gray) ښکاري، په دې چې سور رنګ نور نه شي کولای د سمندر ژورو ته نفوذ وکړي.

ورپسې د نارنجي رنګ نوبت راځي، ۵۰ مترو په ژوروالي کې ژېړ رنګ د ۱۰۰ مترو په عمق کې شين، د ۱۲۵ مترو په ژوروالي کې اسماني او بلاخره تر ۲۰۰ مترو پورې بنفش رنګ جذبېږي، تردې چې د ۱۰۰۰ مترو په ژوروالي کې بشپړ تورتم غالب شي.(۱)

پروفيسور ډورګا راو (Prof. Durga Rao) چې د سمندر پوهنې متخصص بلل کېږي، يو وخت ترې وغوښتل شول، څو د قرآن کريم د سورة النور ۴۰م آيت په هکله نظر ورکړي.

ښاغلي (راو) په خپله تبصره کې ومنله چې د اوسني ساينس څېړنې د قرآن کريم د ياد آيت سره بشپړ توافق ښيي، نوموړي دا هم زياته کړه چې ۱۴۵۰ کاله وړاندې هيڅ عادي انسان نه شوای کولای، ترڅو دا ډول معلومات وړاندې کړي.(۲)

**سمندريزې څپې:** معمولا زموږ ګومان دا وي چې څپې يواځې د اوبو پر سطحه صورت نيسي او لاندې اوبه ارامې وي، له همدې امله د قرآن کريم دا بيان (موج من فوقه موج) يو څه حيرانوونکی ښکاري؛ لېکن حيرانتيا دلته زياتېږي، کله چې ځمکپوهان اسباب کاروي، د ځمکې


---

۱. بحوث في اعجاز العلمي في القرآن والسنة، مخ ۲۹ - ۳۰.

۲. الاعجاز العلمي في البحار، يوسف الحاج احمد، خ ۳۲، مكتبة ابن حجر.

لاندې څېړنې پيلوي، د تل په اړه معلومات ورکوي او ورسره دا څرگندوي، چې په سمندرونو کې يواځې سطحي څپې نه وي؛ بلکې لاندې هم څپې شته.

د هغو څرگندونو له مخې چې د سپوږمکيو څخه ترلاسه شوي او يا د هغو انځورونو له مخې چې سپوږمکيو د سمندرو له منځه اخېستي، دا ثابتېږي، چې سمندرونه لاندې هم څپې لري؛ خو له پورتنيو څپو سره يواځې په دومره توپير چې دا څپې مستقيما د ليدلو وړ نه دي؛ بلکې د حرارت درجې او مالگينوالي د کچې د بدلون له مخې يې اغېز پېژندل کېداى شي.(۱)




شکل (۳۸): د فکتورونو د بدلون له مخې د داخلي څپو تشخيص

۱. دا څپې مستقيما په سترگو د ليدلو وړ نه دي؛ خو د دوى اثرات د سمندر د سطحې په حرکت اغېز کوي، سپوږمکۍ ځانگړي سينسرونه لري، چې دا اغېزې کشفولى شي او بيا يې د انځور په بڼه موږ ته ښيي.

**د داخلي څپو د جوړښت لاملونه:**

**۱. د مالگینتوب یا حرارت درجې توپیر:** د سمندرونو سطحې معمولاً گرمې او لږ څه مالگینې وي؛ خو ژورې اوبه سړې او ډېرې مالگینې وي، دا تنوع د دې لامل کېږي، ترڅو یوه کرښه (Interface) منځته راشي، چېرې چې به داخلي څپې راپارېږي.

**۲. د جذر او مد اغېز:** د سپوږمۍ جاذبوي ځواک کولای شي داخلي څپې راوپاروي.(۱)

**۳. د بحر جریانونو سره ټکر:** کله چې د سمندر یو چټک جریان د مختلفو کثافت لرونکو اوبو سره ټکر وکړي، داخلي څپې رامنځته کېږي. الماني پروفیسور شرایدر به ویل: «څومره چې د وخت په تېرېدو علم پرمختگ کوي، هومره به دین شاته پاتې کېږي، نوموړي د سمندر په اړه څېړنې کړي، په المان کې د سمندر پوهنې ستر پوهاند یادېږي؛ خو کله چې یې د سمندر په اړه قرآني ایتونه ولوستل، بې ځوابه او حیران شو، ویلې دا ناشونې ده چې د بشر کلام وي.»(۲)

**په ځمکه کې د وچې او اوبو سلنه:**

وړاندې له دې چې په ځمکه کې د وچې او اوبو سلنې موضوع باندې وغږېږو، د بشپړ پوهاوي په پار هوډ لرم د یوې اړینې مسالې شرحه ترې مخکې کړم.

---

۱. Encyclopedia of the Enviroment – The tides
.www.encyclopedia.enviroment.org

۲. الاعجاز العلمي في البحار، مخ ۳۲.

**د قرآن کریم ریاضیکي اعجاز:**

قرآن کریم د خپلو ژورو مطالبو لرلو له امله تل د نړیوالو پوهانو او څېړونکو د افکارو محور پاتې شوی.

د روحاني لاښوونو، ساینسي او تاریخي حقایقو ترڅنګ په کې یو داسې اړخ ته هم ځای ورکول شوی، چې څېړنه او سپړنه یې د افکارو تل بیداروي، دا اړخ ریاضیکي اړخ دی.

که څه هم د همدې کتاب ځینې مطالب مې پرې راټول کړي هم دي، اما له تفصیل او شرحې یې ځکه تېر شوی یم چې دا یو ستر او ځانګړی بحث دی، دا چې اوس په کوم څه غږېږو اړیکه یې مستقیما له دې موضوع سره ده.

قرآن کریم له ریاضیکي پلوه هم له ستر اعجازه برخمن دی، معتبرو څېړنیزو سرچینو او نړیوالو پوهانو پرې تحقیق کړی، له ډلې یې ډاکټر رشاد خلیفه، پروفیسور حلیم الیاسي او ډاکټر ګاري میلر (عبدالاحد عمر) د یادولو وړ دي.

په ځانګړې ډول، پروفیسور کیت‌مور د قرآن کریم ریاضیکي اړخ د بشر له توان وتلی کار ګڼلی او ډاکټر ماریس بوکای بیا د الهي مصدر یوه روښانه بېلګه بللې ده.

دا موضوع په دوه عمده او بنسټیزو مسایلو بنا ده:

۱. د الفاظو توازن.

۲. د الفاظو تناسب.

**د الفاظو توازن:** له دې څخه مطلب د الفاظو د تکرار توازن دی، په دې مانا چې په قرآن کریم کې ځینې ځانګړې کلمې په داسې سنجیده او یوه منظمه بڼه تکرار شوي، چې ترمنځ یې توازن برابر ساتل شوی، بېلګې یې

په لاندې ډول دي:
۱. په قرآن کریم کې اووه اسمانونه اووه ځلې یاد شوي او پیدایښت یې هم اووه ځله یاد شوی.
۲. د حیات (ژوند) کلمه په قرآن کې ۱۴۵ ځلې راغلې او ورسره د موت (مرگ) کلمه هم ۱۴۵ ځلې ذکر شوې.
۳. د دنیا کلمه ۱۱۵ ځلې او د آخرت کلمه هم ۱۱۵ ځلې راغلې.
۴. د جنت یادونه ۷۷ ځلې او د دوزخ یادونه هم ۷۷ ځلې شوې ده.
۵. په ټول قرآن کریم کې د ملایکو ذکر ۸۸ ځلې او ورسره د شیطان ذکر هم پوره ۸۸ ځلې شوی دی.
٦. د الصالحات (نېکۍ) لفظ په قرآن کریم کې ۱٦۷ او د السیئات (بدۍ) لفظ هم ۱٦۷ ځلې ذکر شوی دی.
دې ته ورته گڼ شمېر الفاظ نور هم شته چې ترمنځ یې بشپړ توازن او انډول قرار لري.
**د الفاظو تناسب:** دا نو بیا واقعا یوه ژوره او زړه وړونکې مساله ده، مانا ترې دا ده چې په قرآن کریم کې ځینې الفاظ په داسې یو معجزانه ترتیب او نسبت سره راغلي، چې یو ستر رمز او راز ته یې پناه ورکړې.
د بېلگې په ډول:
۱. د یوم (ورځ) کلمه په قرآن کریم کې نږدې ۳٦۵ ځلې ذکر شوې، چې په لمریز نظام کې د ورځو شمېر ته نغوته کوي.
۲. د الشهر (میاشت) کلمه په قرآن کریم کې ۱۲ ځلې راغلې، چې په کال کې د میاشتو له شمېر سره برابره ده.
زموږ د بحث اصلي او کلیدي برخه د همدې مسالې د بېلگو په لیکه کې ولاړه ده، یانې د وچې او سمندر د سلنې تناسب د قرآن کریم د

ریاضیکي اعجاز یوه له غوره بېلګو څخه ده.
داسې چې په کال ۱۹۱۱م کې د خپرې شوې بریتانیکا دایرة المعارف (Britanica Encyclopedia) له مخې په لومړي ځل په ځمکه کې د وچې او سمندر سلنه ۲۹،۹ ٪۷۱ اټکل شوې ده.
وروستیو څېړنو هم دا ښودلې چې د ځمکې ٪۷۱ سمندرونو، سیندونو او جهیلونو پوښلې او پاتې برخه یانې ٪۲۹ یې وچه تشکیلوي.
ویلای شو چې د وچې او اوبو ترمنځ دا نسبت لږ تر لږه یوه پېړۍ دمخه څرګند شوی دی.




شکل (۳۹): پر ځمکه د وچې او اوبو سلنه

مګر د قرآن کریم په ریاضیکي اړخ کې ورته ۱۴نیمې پېړۍ دمخه اشاره شوې.
داسې چې: د البحر (سمندر) کلمه په ټول قرآن کریم کې ۳۲ ځله یاده شوې او د البر (وچې) کلمه بیا ۱۳ ځلې یاده شوې.
که سلنه یې معلومه کړو، د درستې ځمکې د وچې او اوبو اندازه به ترې جوته شي، په لاندې ډول یې محاسبه کوو:
۱. په لومړي قدم کې دواړه قیمتونه سره جمع کوو.

13 + 32 = 45

۲. راځو لومړۍ د وچې سلنه لاسته راوړو:

13 x 100 = 1300 ÷ 45 = 28.88888889

۳. د اوبو سلنه لاسته راوړو:

32 x 100 = 3200 ÷ 45 = 71.11111111

یانې په ټولې ځمکې کې د وچې اندازه ۹، ۲۸ او د اوبو اندازه ۱، ۷۱ سلنې ته رسیږي.

د قرآن کریم دا ټولې ځانګړنې او خارق العاده اړخونه ښیي چې قرآن یواځې د ایمان سرچینه او بنسټ نه دی؛ بلکې د فکر او تحقیق لپاره یو الهام ښونکی کتاب هم دی، چې په دې توګه د عقل او ایمان ترمنځ بې ساری تړاو رامنځته کوي.

# اووم څپرکی

# قرآن او بیولوژي

# د ژوند اصل

د ماشوم د جنسیت ټاکنې مسؤول

(جنتیکس / Genetics)

جنیټیک پوهنه

له اسلام وړاندې د جهالت شومه دوره او حقارت

د ماشوم جنسیت یوه الهي ټاکنه خو د پلار په واسطه نه د مور

ساینس پرې څه وایي؟

قرآن کریم او د نباتاتو جنیټیک

قرآن او فرعوني تمدن؛ د شکمو دریځ

انسان له څه شي جوړ دی؟

خاوره، اوبه او که نطفه؟

د انسان تخلیق له خاورې

له چاڼ شوې برخې څخه مانا څه؟

*اووم څپرکی*

# قرآن او بیولوژي
# د ژوند اصل

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي:

﴿وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ﴾[۱]

ژباړه: او موږ ټول ژوندي موجودات له اوبو څخه جوړ کړي، پس ایا دوی ایمان نه راوړي؟

الله تعالی په سدیده او ښکاره توګه فرمایي چې د ټولو ژوندیو موجوداتو د ژوند اساس او بنسټ اوبه دي، یانې د ټول ساکښ مخلوق ژوند په اوبو متکي دی.

---

۱. الانبیآء: ۳۰.


نن ورځ دا مساله چې ژوند له اوبو څخه پیل شوی، یا اوبه د ژوند اصل دی، یو بنستیز او منل شوی علمي حقیقت دی، چې هیڅوک پرې اعتراض نه لري.

همدا خبره ښایي د یاد آیت د حیرانتیا احساس لږڅه کم کړي؛ خو باید دا مو هېر نه شي چې عربي ټاپو وزمه یوه وچاړه سیمه ده، چېرې چې نه دایمي سیند شته او نه جهیلونه؛ نو دا چې قرآن کریم داسې ځرګند حقیقت بیانوي، د هغه وخت د خلکو د تصور له پولو هم لرې وه.

وروسته له ساینسي پرمختګونو او عصري مایکروسکوپونو څخه په ګټه اخېستنه ساینس پوهانو مالومه کړه، چې د ټولو ژوندیو موجوداتو د جوړښت اساس او بنیاد حجره ده.

د حجرې له کشف سره سم د حجرې په جوړښت کې څېړنې پیل شوې او ځرګنده شوه چې حجرې (Cells) د ٪۶۰ څخه تر ٪۸۰ پورې له اوبو تشکیل شوي دي او همدا حجرې دي چې د انسانانو د ژوند بنسټ برابروي.

لهذا؛ پوهان په دې باور دي چې د یو بالغ انسان په وجود کې اوبه کابو ٪۷۱ ته رسېږي او د یو څو میاشتني جنین په وجود کې دا اندازه نږدې د ٪۹۳ پورې رسېږي.




شکل (۴۰): په حجرې کې د اوبو او کیمیاوي اجزاوو سلنه

هر هغه حياتي عمل يا بهير چې د ژوند دوام ور پورې تړلی وي؛ لکه تغذيه، اطراح، وده او توليد مثل له اوبو پرته ناشونی دی.

د بېلگې په ډول: د نباتاتو د خوړو جوړېدل (فوتوسنتېسېز)، د حجراتو ترمنځ د اوبو تبادله، د اوبو د رقت خاصيت(اوسموس) له امله د نويو حجرو جوړېدل او د نسجونو وده، چې د ژوند د پرمخ بيولو اساسي پروسې دي.

که څه هم د محيطي شرايطو، فزيکي حالت او بېلا بېلو نوعو له مخې د تنوع او مختلف والي امکان شته؛ مگر په ټوليزه توگه وروستۍ څېړنې د ځينو ژونديو موجوداتو په بدنونو کې د اوبه اندازه دومره ښيي:

**١. اوبه په انسانانو کې:**

د انسان بدن تقريبا ٪٦٠ - ٪٧١ پورې اوبه لري.

د نويو زېږېدلو ماشومانو په بدن کې تر ٪٧٣ پورې رسېږي.([١])

**٢. اوبه په ژوو (حيواناتو) کې:**

په عمومي توگه د حيواناتو بدن هم د انسان په څېر له اوبو څخه جوړ دی او تقريبا سلنه يې سره مساوي ده ٦٠-٪٧٥.([٢])

**٣. اوبه په نباتاتو کې:**

نباتات د انسانانو په پرتله ډېرې اوبه لري، دا اندازه کېدای شي له ٪٨٠ څخه تر ٪٩٥ پورې وي، په ځانگړي ډول شنه نباتات ډېرې اوبه لري.([٣])

---

١. Medical News Today – Claire Sission

.Pub – May-27-2020 (what is th average pecen…)

٢. .Oregan State University, Water in Animal Nutrition

٣. .Extension – How plants use water – March – 01 - 2021

**۴. اوبه په حشراتو کې:**

د حشراتو په بدنونو کې تقریبا ۶۵-۷۵٪ پورې اوبه وي.([۱])

**۵. اوبه په کبانو/ ماهیانو کې:**

کبان د اوبو ژوندي ژوي دي، بدن یې شاوخوا ۷۰-۸۰٪ پورې له اوبو جوړ دی.([۲])

**۶. اوبه په نورو سمندري ژوو کې:**

- الجي (Algae) تر ۹۵٪ پورې اوبه لري.

- اکتاپوس (Octapus) او جیلي کب هم شاوخا ۹۸٪ له اوبو جوړ دي.([۳])

عالمانو چې د نړۍ په بېلا بېلو چاپېریالونو کې یې میلیونونه ژوندي موجودات پېژندلي، دا پایله یې ترلاسه کړې چې هیڅ ژوندی موجود له اوبو پرته ژوندی نه شي پاتې کېدلای.

ان فضا پېژندونکي هم، چې په نورو سیارو کې د ژوند نښې پلټي، تر هر څه وړاندې د اوبو موجودیت لټوي.

**د ماشوم د جنسیت ټاکنې مسؤول**

**(جنټیکس / Genetics)**

قرآن کریم د انساني جنین پوهنې او جنټیک په باب تر ټولو دقیق او زوړ مکتوب دی، دا بیانوي چې ماشومان د خپلو والدینو ځانګړتیاوې په

---

۱. JSTOR (Journa) – Water balance of social insect formica exsectoids (Hymenoptera Formiciade...)- Marin D. Sigal and Larry G. Arlian – Pa: 355 - 366.

۲. SERC – Where's the water – Pub 2008-Aug-12.

۳. Marine Conservation Society–Fascinating Facts about Jelly Fish–2021–Dec-31.

میراث اخلي، د سپرم او تخمې القاح څرنگه ترسره کیږي او ان دا چې نباتات هم د تکثر لپاره یو له بله گټه اخلي.

**جنیټیک پوهنه:**

د جنیټیک کلمه له لاتیني Genetikos کلمې څخه اخیستل شوې، چې د اصل یا نسل مانا لري.([1])

په اصطلاح کې جنیټیکس د هغو موروثي ځانگړتیاوو مطالعه ده، چې د نسلونو ترمنځ لیږدول کیږي او هغه بدلونونه چې ښایي په دې ځانگړتیاوو کې رامنځته شي.

د جنیټیک علم یوازې د میراث په څېړنه بسنه نه کوي؛ بلکې دا د ارتقا بهیر، د جنین تکامل، ایکولوژیکي سیستمونه او د مالیکولي بیولوژۍ پوهنه هم تر تدقیق لاندې راولي.

په دې اړه په اسلامي تاریخ کې یوه پېښه د علي رضي الله عنه علمي بصیرت راڅرگندوي.

داسې چې:

یوه سړي غوښتل خپله مېرمنه طلاق کړي، په دې چې هغې یو تور پوستی ماشوم زېږولی وو، حال دا چې د دوی په کورنۍ کې تور پوستی څوک نه وو.

حضرت علي رضي الله عنه د ښځې د کورنۍ (نسب) پلټنه وکړه، بالاخره مالومه شوه چې په اصل کې د ښځې نیکه تور وو.

دا پېښه چې شاوخوا ۱۴۰۰ کاله دمخه واقع شوې، د جنټیک یو ابتدایي

---

۱. Wikipidea.

درک ښيي، هغه درک چې بیا د ۱۹مې پېړۍ په وروستیو کې د گریگور منډل د هڅو په پایله او د تجربو او علمي استدلال پر بنسټ یې خپل ساینسي ماهیت خپل کړ.(۱)

جنټیکي انجینري چې د ۲۰مې پېړۍ یوه ستره علمي لاسته راوړنه ده، له پوهانو سره مرسته کوي، ترڅو د یو موجود جینونه بل ته انتقال کړي.

دې پرمختګ د جینونو، طب او کرنیزو علومو په برخه کې بې سارې اسانتیاوې رامنځته کړي دي.

**له اسلام وړاندې د جهالت شومه دوره او حقارت:**

انسان چې تل د خپلې فکري ارتقا دعوه لري، د زرګونو کلونو لپاره د یوې ناسمې عقیدې اسیر و، هغه عقیده چې د ماشوم د جنس ټاکنه یې د مور سره تړلې ګڼله.

دې وهم چې د زرګونو کلونو تاریخي سیورې یې له ځانه سره درلود، ان تر شلمې پېړۍ پورې په خلکو برلاسی و، په ځانګړي ډول په هغو ټولنو کې ډېر منلی شوی وو، چې د نارینه اولاد ارمانجنې وې او د لور درلودل یې د ټولنیز حیثیت د کمښت نښه ګڼله.

د تعصب او توهین پر بنسټ زېږېدلې دا مفکوره دومره عامه شوې وه، چې حتی د منځنیو پېړیو فرانسویانو ښځه د انساني فطرت برخه نه؛ بلکې د شیطان جنس ګاڼه.(۲)

همدارنګه د اسلام تر راڼا وړاندې عربو په قبیلوي ټولنو کې نه یواځې د

---

۱. Dr. M. Reza Afrog – Fundamentals of Genetics Science in Holy Quran – Faculty of LAW and Theology- Islamic Azad University- Najafabad Iran- Pub: Syrahwa.

۲. د اسلام د پیل مېرمنې، سید هاشم هاشمي پاچا، مخ ۱۴.

خپلو بې ګناه لوڼو ژوند د خاورو خوراک کاوه؛ بلکې میندې یې هم له دې امله له روحي، جسمي او ټولنیز زور زیاتي سره مخ وې، ګواکې د لور زیږېدل یوه الهي ګناه وي.
خو کله چې د اسلام د حقانیت وړانګې بشریت ته د مساوات او برابرۍ رڼا ښني، مل ورسره د ظلم او تعصب زنځیرونه ماتېږي او د لوموړیتوبونو په سر کې ښځو ته حقوق د الهي عدل له ترازو سره سم اعاده کېږي.

**د ماشوم جنسیت یوه الهي ټاکنه خو د پلار په واسطه نه د مور:**

قرآن کریم فرمايلي: ﴿وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ۝ وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ۝ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ۝﴾[1]
ژباړه: او هغه (الله) ژوند ورکوي او هم ژوند اخلي، او هغه د نر او ښځې دواړه جوړې له نطفې څخه پیدا کوي، کله چې اچول کېږي.
په دې ایتونو کې الله تعالی په صراحت سره فرمايلي چې دا سپرم (مني) دی، چې دوه جوړې (نر او ښځه) ترې پیدا کېږي، یانې د ماشوم جنسیت ټاکي، چون ښکاره ده چې نطفه (سپرم) نارینه جنسي حجرې دي؛ ځکه ښځینه جنسي حجرې د بدن څخه بهر نه خارجېږي. ویلای شو چې قرآن کریم د ماشوم جنسیت ټاکلو په تړاو مسؤول پلار بللی، یا په بل عبارت الله تعالی د نارینه نطفې په واسطه د ماشوم جنس ټاکي.

---

۱. النجم: ۴۴ - ۴٦.


**ساینس پرې څه وايي؟**

په کال ۱۹۰۵ز کې اغلې ستهوینر او ښاغلي ویلسن په رښتیني مانا یو تاریخي کشف وکړ، دوی څرګنده کړه چې د انسان جنس د ځانګړو کروموزومونو (۱) (X-Y) له مخې ټاکل کیږي، څه موده وروسته څېړونکو وموندل چې انسان ټولټال **۲۳** جوړې کروموزومونه لري، له دې څخه **۲۲** جوړې جسمي او پاتې یوه جوړه یې جنسي کروموزومونه دي، کوم چې د فرد د جنسیت ټاکلو بنسټیز او اصلي عامل ګڼل کیږي.(۲)

څنګه؟

هغه داسې چې دا یوه جوړه کروموزومونه په ښځو کې (X-X) او په نارینه وو کې د (X-Y) په توګه پېژندل شوي.

د القاح په صورت کې زایګوټ باید له مور او پلار څخه یواځې یو –یو کروموزوم واخلي.




شکل (۴۱): د کروموزومونو د امتزاج ترتیب د ماشوم جنس ټاکي

۱. د حجرې په هسته کې کوچني تار ته ورته جوړښتونه دي، چې جینومیکي مالومات په کې زېرمه کیږي، له DNA و پروټینونو څخه جوړ شوي..

۲. Determination of the fetus gender in the light of Quran, Abdul Rahman Obaid, Hussain and others – ASP University Sains Islam Malaysia.

ښکاره ده، که له مور څخه هر یو واخلي هغه به X وي؛ ځکه چې دواړه (X-X) دي، اوس مساله پلار پورې اړه لري، دلته به زایګوټ له پلار څخه یا د (X) کروموزوم او یا د (Y) کروموزوم اخلي، که د (X) کروموزوم یې ترلاسه کړ، پایله (X-X) ده؛ نو ښځینه ماشوم منځته راځي او که د (Y) کروموزوم یې واخېست، پایله (X-Y) دی، چې په نتیجه کې یې نارینه اولاد منځته راځي.

نو جوته شوه چې ساینس هم د قرآن کریم د څرګندونو بشپړ تایید په خپله ژبه کوي. (ولې به یې نه کوي؟)

د خواشینۍ ځای دا دی، چې د پوهې کمښت لا هم زموږ په ټولنه کې د ناسمو عقایدو د ترویج لامل ګرځي، تر ننه پورې په افغاني ټولنه کې ځینې کورنۍ د ماشوم د جنسیت ټاکلو مسوولیت پر مور اچوي.

**قرآن کریم او د نباتاتو جنیټیک:**

قرآن کریم څو ځله دا حقیقت بیان کړی، چې نباتات د جوړو په بڼه تخلیق شوي دي، دا په خپله د نباتي جنټیک مفهوم ته څرګنده اشاره ده. د ۱۸مې پېړۍ ساینسي کشفونو وښودله چې نباتات، نارینه او ښځینه تولیدي ارګانونه لري، یو داسې حقیقت چې په قرآن کریم کې سلګونه کاله مخکې یاد شوی.

الله تعالی فرمایي:

﴿سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنفُسِهِمْ

وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ ○﴾[۱]

ژباړه: پاک او منزّه دی هغه ذات چې ټولې جوړې یې پیدا کړې، د هغو څخه چې ځمکه یې شنه کوي (نباتات)، او د هغوی (انسانانو) له ځانونو څخه، او هم د هغو شیانو څخه چې هغوی پرې نه پوهیږي.

زما په اند دلته یوه مساله مطرح شوې، چې د یو څه شرحې او سپیناوي تقاضا لري، ولې د دې بحث اصلي نوښت دی، موخه مې د قرآن کریم د ایتونو وړاندیز شوی انډیکس (طبقه بندي) ده، چې د یادو ایتونو مفاهیم راسپړي او د فکري تدبر لوری ورټاکي.

په همدې بنسټ: موږ آیتونه په دوو ډلو وېشو:

۱. هغه ایتونه چې یوې موضوع ته په غیر مستقیم ډول اشاره کوي، یانې سمبولیکي یا تشبیهي سبک لري.

۲. هغه ایتونه چې د ژبني تحلیل او سیاق (Context) له مخې مستقیم تفسیریږي.

له مذکورو ایتونو څخه لومړی ایت د دوهمې او دوهم ایت د لومړۍ ډلې ایتونو څخه دی.

## قرآن او فرعوني تمدن؛ د شکمو دریځ:

ځینې دا ادعا کوي چې لرغونو مصریانو هم دا خبره درک کړې وه (د

---

۱. یس: ۳٦.

جنین جنس ټاکنه)؛ ځکه چې د فرعون «پیپي»([۱]) هرم لیکنو کې راغلي چې د جنین جنس د نطفې له خوا ټاکل کېږي.
دا استدلال د قرآن اعجاز هیڅکله نه نفی کوي.
ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د فرعوني عصر لیکنو سره اشنا وو او نه یې تعلیم له مصر څخه تر لاسه کړی وو؛ اصلاً پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپل سیمه ایز لیک او لوست له زده کړې هم بې برخې وو.

**انسان له څه شي جوړ دی؟**

**خاوره، اوبه او که نطفه؟**

هغوی چې زړونه یې د ضد، طغیان او عناد له ریښو تغذیه کېږي، تل په دې فکر او لټه کې دي، چې د قرآن کریم له اعجاز سره د تقابل په موخه په کې کوم تضاد یا تېروتنه ومومي؛ ترڅو د خپل ناسم دریځ حقانیت ته توجیه پیدا کړي.
لېکن قرآن کریم یو داسې له اعجاز ډک کلام دی، چې پر مصونیت یې نه یواځې اسلامي نړی؛ بلکې ځینې نامسلمان مفکرین هم باور لري او مني چې قرآن کریم ستر رباني کتاب دی.
هر اړخ یې له خطا او نیمګړتیا مهذب په ساینسي لحاظ دقیق، له تاریخي

---

۱. فرعوني عصر لیکنې: دا د لرغوني مصر یو مهم میراث دی، چې ډېری یې په معبدونو، مقبرو د ودانیو پرشنو او پاییروس پاڼو لیکل شوی دی.
دا لیکنې مذهبي قواعد، تاریخي اسناد، طبي یادښتونه او حقوقي موضوعات رانغاړي.

پلوه کره او د ادب له مخې په عربي ادبیاتو کې تر ټولو لوړ حیثیت لري.
په هر صورت؛ راځو هغې پوښتنې ته چې د یوې شومې ادعا په بڼه پوښتل شوې او له مخې یې نعوذ بالله قرآن کریم ته د خطا نسبت شوی.
پوښتنه داسې ده چې «قرآن کریم د انسان د خلقت په باب په یو ځای کې اوبه یادوي، په بل ځای کې خاوره (خټه) او په ځینو ایتونو کې نطفه؛ نو ایا دا یو تضاد نه دی؟»

د دې پوښتنې له ځواب پرته هم دا اړینه وه چې د ختمې څخه د انسان د پیدایښت اړوند د قرآن کریم پر ساینسي اعجاز یو څه لیکل وشي؛ خو دا ډېره ښه شوه چې د یو څه زیاتونې سره به هم دا موضوع بیان شي او هم به ادعا رد شي.

**د انسان تخلیق له خاورې:**

الله تعالی فرمايي:

﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا ۝﴾[۱]

ژباړه: ایا پر انسان د زمانې داسې وخت نه دی تېر شوی چې هغه کوم د یادولو وړ شی نه وو؟

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ﴾[۲]

---

۱. الدهر: ۱.

۲. الحج: ۵.

ژباړه: ای انسانانو که چېرې تاسې له دوهم ځلي ژوند څخه په شک کې یاست؛ نو بېشکه موږ تاسې له خاورې څخه پیدا کړي یاست، بیا له نطفې څخه.

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِّنْ طِينٍ﴾[1]

ژباړه: او بېشکه موږ انسان د ختې له جوهر څخه پیدا کړی.

د قرآن کریم له مخې انسان له خاورو او اوبو پیدا شوی، کله ناکله قرآن دا دواړه جلا – جلا یادوي او کله یوځای، د دې حقیقت په اړه چې انسان له ختې (د خاورو او اوبو ګډ ترکیب) پیدا شوی، بې شمېره نظریې وړاندې شوي دي؛ خو وروسته له هغې چې د بیولوژۍ او کیمیا په ډګر کې پرمختګ وشو، د ختو او د انسان د بدلون تحلیلي څېړنې ترسره شوې، پایلو دا وښوده چې د ختې او د انسان د بدن ترمنځ عناصري برابري شته.

په دې مانا؛ هغه عناصر چې د انسان بدن ترې تشکیل شوی، هو بهو د خاورې جوړښت هم ترې برخمن دی او په طبیعت کې بله داسې وړ ماده نه شته چې دا ټول عناصر دې ولري.

دغه عناصر عبارت دي له: اوسپنه، کلسیم، سوډیم، پوتاشیم، مګنیزیم، سرب، کاربن، زنک، سلفر، نایتروجن او نور.

دا ټول هغه عناصر دي چې الله تعالی ترې له یوه بې روحه او بې احساسه ترکیب څخه داسې هستي رامنځته کړه چې د شعور، وجدان او ژوند سره

---


١. المؤمنون: ١٢.

سنبال ده.

که یوه ترتیبي یا مراتبه شرحه ورکړو، ویلای شو چې د انسان بدن له بېلا بېلو سیستمونو جوړ دی، دا سیستمونه له بېلا بېلو ارګانونو څخه تشکیل شوي.

ارګانونه له نسجونو، نسجونه له حجراتو، حجرات له مالیکولونو او بالاخره مالیکولونه له اتومونو څخه جوړ شوي دي.

په دې توګه ژوندي انساج په ټولیز ډول له ۲۲ بېلا بېلو کیمیاوي عناصرو څخه تشکیل شوي، له جملې یې دا شپږ (کاربن، اکسیجن، هایدروجن، نایتروجن، فاسفورس او سلفر) ډېر عام دي او د انسان د بدن کابو ۹۵٪ تشکیلوي.(۱)




شکل (۴۲): د انسان د بدن جوړښت د بېلابېلو عناصرو له مخې

---

۱. Wikipidea.

دا د رب العزت ستر حکمت دی چې انسان یې له داسې عناصرو څخه پیدا کړ؛ ځکه چې ټولو عناصرو ته د ارزانې بیې په بدل کې لاسرسی شته، د یوې څېړنې له مخې د دغو ټولو عناصرو بیه له ۱۵۰ ډالرو زیاته نه ده[۱] یانې د انسان د طبیعي موادو ارزښت یواځې همدومره دی؛ خو اصل کمال په ماده کې نه؛ بلکې په خالق کې دی.

د امریکا نامتو پوهنتون کورنیل (Cornell University) په ۲۰۱۳م کې یوه ساینسي څېړنه ترسره کړه او یې ویل چې خاوره کېدای شي د ځمکې د لومړنیو ژوندیو موجوداتو د پیدایښت یو مهم چاپېریال وي.

په دې څېړنه کې ویل شوي چې خاوره یو داسې لمده ژمی (Hydrogel)[۲] جوړوي چې د خولې یا اسفنج په څېر دننه واړه تش ځایونه لري، دا تش ځایونه کولای شي مایعات او کیمیاوي مالیکولونه جذب کړي، ویې ساتي او ترمنځ یې تعاملاتو ته لاره هواره کړې[۳]، دې څېړنې ښودلې چې Clay Hydrogel کولای شي مالیکولونه سره راټول، حفظ او کیمیاوي تعاملاتو ته وده ورکړي او دا هغه څه دي چې د ژوند د پیل لپاره خورا اړین بلل کېږي.

---

۱. Express Health Care, Rajendra Prasada Gupta 2020-27-May.

۲. هایدروژل یو ډول نرم لنده بل لرونکې ماده ده، چې ډېر مقدار اوبه جذبولی شي او خپل جوړښت ساتي، دا مواد د جال په څېر د جوړښت له کبله مالیکولي تعاملاتو ته ښه زمینه برابروي؛ ځکه ساینس پوهان باور لري، چې دا ډول چاپېریال د ژوند د پیل لپاره مهم دی.

۳. Cornell University, Before cell biochemicals may have combined in Clay – Bill Steele- Pub – November-7-2013, https://news.cornell.edu.

همدارنگه دې ته ورته څېړنو دا هم ثابته کړې چې ځينې خاورې لکه Montmorillonite[۱] د RNA جوړښت ته وده ورکوي او ابتدايي حجروي غشاګانې (Vesicles) جوړوي.



شکل (۴۳): مونټموريلونايټ منرال

په دې هکله د لاندې پوهانو څرګندونې د پام وړ دي:

**۱. ګراهم کيرنز – سميت (G.C Smith) د خاورې نظريه:**

ډاکټر ګراهم کيرنز سميت يو نامتو کيمياپوه، د دې نظريې بنسټ ايښودونکی بلل کېږي، چې Clay Crystals د ژوند د پيل لومړنی بنسټ و.

هغه باور لري چې خاوره د ماليکولونو د نظم او غبرګون لپاره يو وړ قالب کېدای شي.

---

۱. دا يو ډول طبيعي منرال دی چې د خاورينو موادو له ډلې شمېرل کېږي، دا منرال د سليکېټ له نرمې طبقې جوړ او ډېر ښه جاذب توان لري، چې کولای شي عضوي ماليکولونه جذب، تنظيم او ساتنه يې وکړي، دې منرال خپل نوم د فرانسې د Montnorillon ښار څخه اخيستی، چېرې چې په لومړي ځل کشف شو.

**۲. هارورډ پوهنتون، د جک سزوستاک پایله:**

پروفیسور جک سزوستاک او همکارانو یې څرګنده کړې، چې مونټموریلونایټ خاوره کولای شي د RNA جوړښت ته وده ورکړي او د ابتدایي حجرو (Vesicles) جوړولو کې مرسته وکړي.(۱)

**۳. ایډي پراس (Addy Pross):**

ډاکټر ایډي پراس هم په دې ټینګار کوي چې د ژوند د پیل لپاره باید یو داسې چاپېریال موجود و، چېرته چې باید کیمیاوي تعاملات وساتل شي، هغه شرایط چې خاوره یې ډېر ښه برابرولای شي.(۲)

**له چاڼ شوې برخې څخه مانا څه؟**

الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ﴾(۳)

ژباړه: او په تحقیق سره موږ انسان د خټې له جوهر (خالصې مادې) یا چاڼ شوې برخې څخه پیدا کړی.

---

۱. Genetic takeover and the mineral origins of life Cambridge university- 1982 (Origin of Life.net).

The Harvard Gazette – A role for clay in formation of the first cells- Jack Szostak November-6-2003.

۲. Ben Gurion University, the origin of life – what we know, what we can know, what we will never know- Addy pross- Open Biology-2013-Jan-1.

۳. المؤمنون: ۱۲.

دا عبارت رښتیا هم له ستر اعجاز برخمن دی؛ ځکه ساینس پوهان وایي چې خاوره د عناصرو له پلوه بډایه ده، تقریبا **۹۲** عناصر یې په ترکیب کې ونډه لري؛ خو له دغو عناصرو څخه یې یواځې **۲۲** عناصر د انسان بدن تشکیلوي.

که په ساده الفاظو یې ووایو؛ نو د مندلیف په جدولو کې د ځمکې له ټولو عناصرو څخه نه؛ بلکې له ځینو یې د انسان بدن جوړ شوی.

داسې هم ویلای شو، چې الله تعالی له خاورې څخه داسې خاص ترکیب اخېستی چې د ژوند بنسټیز عناصر یې لرل.

الله تعالی د ختې عناصر د یو ډېر دقیق او سنجول شوي حساب له مخې سره یو ځای کړي، دا اجزا د انسان په بدن کې نه یواځې په توازن سره شتون لري؛ بلکې بدن ته دا توان ورکړل شوی چې همدغه مواد په مناسب مقدار سره وکاروي او زیات مقدار یې دفع کړي.

د بېلګې په توګه؛ د انسان بدن شاوخوا یو کیلو ګرام کلسیم لري، که کمښت راشي؛ نو حتی د منې خوړل هم د غاښونو د ماتېدو سبب کېدای شي.(۱)

بدن ته ۱۲۰ګرامه پوتاشیم په کار دی؛ خو که دا اندازه راکمه شي؛ نو انسان له ستړیا، عضلي دردونو، د هاضمې ګډوډۍ او د زړه له نامنظمو ټکانونو سره مخ کیږي.

---

۱. Signs and Symptoms of calcium deficiency – Sarah Jividen – Health – www.health.com.

همدا راز بدن ته یواځې ۲-۳ گرام زنک په کار دی؛ خو له کمبود سره سم د حافظې، جنسي څواک، د بوی او خوند په حسونو کې ستونزې رامنځته کېدای شي او د سیلینیم کمښت کولای شي د عضلاتو ضعف، د رگونو سختوالی او دزړه د عضلاتو ضعف رامنځته کړي.(۱)

دا هرڅه ښیي چې الله تعالی د انسان د جوړښت لپاره د ختې اجزا نه یواځې غوره کړل؛ بلکې د اعجاز په انداز یې سره یو ځای هم کړل.

د قرآن کریم هره وینا له مطلق حقیقت سره برابر ده.

انسان یو داسې مخلوق دی چې عقل، احساس او روح لري، له داسې مادي جوړ شوی، چې بېخي ساده ښکاري، دا د الله تعالی د عظمت شاهکار او د بې مثاله قدرت یوه ژوندۍ نښه ده.

بله د یادونې وړ خبره دا ده، چې الله تعالی فرمایي، چې هغه ادم علیه السلام مستقیما له خاورې (ختې = اوبه + خاوره) څخه پیدا کړی او د هغه اولاده یې د خاورې له محصولاتو څخه.

په دې مانا چې نباتات (مېوې – سبزیجات) خپل معدنیات او منرالونه له خاورې څخه ترلاسه کوي، موږ یې له دوی اخلو او د همدغو ترلاسه شویو عناصرو څخه په بدن کې د یو ځانگړي او پېچلي طرز العمل له لارې نطفه جوړېږي او له همدې نطفې څخه انسان.

بنا پر دې؛ الله تعالی فرمایي:

---

۱. NIH (National Institute of Health Science).

﴿فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ﴾(۱)

ژباړه: پس پرته له شکه موږ تاسې پیدا کړي یاست له خاورې او بیا له نطفې څخه.

د اوبو څخه د انسان د تخلیق په باب خو موږ د همدې څپرکي په لومړي موضوع کې خبرې کړي او پاتې شوه له نطفې څخه د انسان پیدایښت، دا خو هسې هم ټولو ته روښانه ده.

دلته په یوه اساسي ټکي زموږ پوهېدل اړین دي او هغه دا چې دا له سره یو تضاد کېدای نه شي؛ ځکه که د تضاد او اختلاف په مفهوم غور وکړو؛ نو مانا دا چې دوه یا څو شیان په یو وخت کې نه شي واقع کېدای.

د بېلګې په توګه؛ زه غواړم پیزا پخه کړم، د پیزا پخولو لپاره مناسبې ډوډۍ، پنېر، زیتون او د چرګ غوښه اړین دي.

دا هرڅه مې واخېستل او پیزا مې پخه کړه.

اوس که زه ووایم چې ما پیزا د چرګ له غوښې او ډوډۍ څخه پخه کړې، ایا زه ناسم یم؟ نه؛ ځکه ما ریښتیا هم د چرګ غوښه او ډوډۍ کارولې.

خو که زه ووایم چې پیزا مې له زیتون او پنیر څخه پخه کړې، بیا هم ناسم نه یم؛ ځکه دا هر څه په کې کارېدلي.

نو دا یو تضاد نه دی.

اوس که زه ووایم: چې احمد ډېر ډارن هلک دی او بیا ووایم چې ډېر

---

۱. الحج: ۵.

زړور هم دی؛ نو دېته اوس تضاد ویل کېږي؛ ځکه دا دواړه صفات په یو وخت کې نه شي واقع کېدای.

خو که زه داسې ووایم چې احمد صادقه، هوښیار او زړور هلک دی؛ نو دا ټول صفات دلته صدق کوي، په دې توګه دا یو تضاد او اختلاف نه دی.

په همدې بنسټ که الله تعالی په قرآن کریم کې د انسان د جوړښت په باب بېلا بېلو څیزونو ته اشاره کړې؛ نو دا ټول په خپل وخت کې مفهوم افاده کولای شي، صدق کوي او د انسان په جوړښت کې ونډه درلودای شي.

# اتم څپرکی

# قرآن او فزیولوژي

# د اکبر دماغ (مخکیني قشر) دنده

هو؛ معاصر ساینس یې تاییدوي

د شیخ عبدالمجید الزنداني تأثر

د درد احساس (دردي اخذې)

د پوستکي جوړښت

د پوستکي مهمه دنده؛ احساس

ژبنیز تحلیل

د ګوتې نښان (یو بې ساری هویت)

د شیدو جوړښت

*اتم څپرکی*

# قرآن او فزیولوژي
# د اکبر دماغ (مخکيني قشر) دنده

۱۴نیمې پېړۍ دمخه الله تعالی په قرآن کې یو ستر مشرک او دروغ ویونکي (ابوجهل) ته په اخطاریه کې فرمایي:(۱)

﴿أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ ۝ كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ۝ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ۝﴾(۲)

ژباړه: ایا هغه نه پوهېږي چې الله هرڅه ویني؟ نه؛ هیڅکله نه، که هغه منع نه شو؛ نو موږ به یې له تندي څخه راونیسو، داسې تندی چې دروغ

۱. تفسیر الطبري (جامع الانسان) مخ: ۳۰/ ۲۴۳.
۲. العلق: ۱۴-۱۶.


ویونکی او خطاکار دی.(۱)
د دې ایت د معاني ژورې څېړنې او غور په پایله کې ځینې پوښتنې او د دوی ځوابونه موږ د یو ستر حقیقت پر پولو سپاري.
لکه څه راز دی چې قرآن کریم، تندی، د دروغو ویلو او گناه کولو لپاره یاد کړی دی؟
ایا دا نه وه غوره چې قرآن کریم دې سړي ته د دروغ ویونکي او گناهگار صریح خطاب کړی وای؟
د دروغ ویلو او گناه کولو اړیکه له تندي سره څه ده؟
په مذکورو ایتونو کې الله تعالی دې ته اشاره کړې، چې د سر مخکینۍ برخه د هڅونې، پلانونو او په ټوله کې د ارادي حرکاتو مسوولیت لري.
که د سر مخکینۍ برخې ته ځیر شو (Frontal Lobe) په نظر راځي.
دا هغه مهال دی چې د معاصرې فزیولوژۍ څېړنې باید د تدبر او تأمل په تله کې وتلل شي، څو جوته شي، چې په دې هکله له ځانه سره څه لري؟

**مخکینی څنډ (Frontal Lobe) د لوړو ذهني فعالیتونو مرکز دی:**

مخکینی څنډ (قشر) چې د (Frotnal Lobe) په نوم هم یادېږي، د انسان د مغزو د دواړو نیم کره وو له پنځه اصلي برخو څخه تر ټولو لویه برخه ده، چې د تندي (پیشانۍ) هڅوکي شاته موقعیت لري. دا برخه د عصبي وړتیاوو مرکز دی، چې د حرکاتي بڼو د ټولنیز چلند او لوړو فکري فعالیتونو پرمخ وړلو مسوولیت لري.

---

۱. القرطبي (الجامع الاحکام) مخ: ۲۰/ ۱۰۷.




لکه: د هنرونو تخلیق، پلان جوړونه، قضاوت، بصیرت، وړاندوینه، مفهومي تفکر او عمومي شخصیت.

د دې برخې د فعالیتونو لپاره تر ټولو عامه اصطلاح اجرائیوي دنده (Executive Funciton) ده، چې لاندې چارې ترې عبارت دي:

۱. د متضادو افکارو ترمنځ توپیر کول.

۲. د ټاکلي هدف پر لورې حرکت.

۳. د اعمالو پر بنسټ د پایلو وړاندوینه.

۴. ټولنیز کنټرول (د هغو چارو سنبالښت که پرېښودل شي، ممکن د ټولنیز پلوه د منلو وړ نه وي.)[۱]

کله چې یو څوک د دروغ ویلو تکل وکړي؛ نو د دماغو همدا سیمه یې تصمیم نیسي او ورسره ټول فکري فعالیتونه هم مهاروي، همدا راز بد او ناوړه اعمال هم لومړی دلته طرحه او بیا عمل ته سپارل کېږي.

یانې د سر مخکینۍ برخه نه یواځې د قضاوت مسوولیت لري؛ بلکې د

۱. Miller, E.K and Cohen, JD (2001) An intergrative theory of prefrontal cortex funtionc – Annual Review of Neuroscience, Page (167- 202).

انساني چلند انضباط او انتظام دندې هم لري.(۱)

**هو؛ معاصر ساینس یې تاییدوي:**

د معاصرې عصبي فزیولوژۍ موندنې د علمي تحلیل په ژبه، دا واقعیت بې له کوم ابهامه څرګندوي چې دروغ ویل د مغز د مخکینۍ برخې یو پېچلی میکانیزم دی او ډېر احتمال دا دی چې دا برخه د (Prefrontal Cerebrum) په ځانګړې برخه کې موقعیت لري.

لاندې د عصبي فزیولوژۍ څېړنو ځینې مهمې برخې را اخلو:

**۱. د درواغو هنر:**

درواغ ویل د انسان د مغزو لپاره تر ټولو پېچلې او له فکري پلوه ستونزمنه لاسته راوړنه ده، هغه کسان چې د مخکیني څنډ تر څېرمه ټپونه ولري، ښایي له دې وروسته بې برخې شي، داسې ښکاري چې برښنايي تحریک زموږ د فریب ورکولو وړتیا لوړوي، دا د مغز هغه سیمه ده، چې د نورو دندو ترڅنګ د درواغ ویلو پرېکړه هم کوي.(۲)

**۲. د درواغو موندنه:**


د پنسلوانیا پوهنتون تکړه ارواپوه ښاغلي لانګلیبن (Daniel Langleben) چې د درواغو په اړه یې ګڼې څېړنې کړې دي، موندلې چې د انسان مغز ځینې برخې د دروغ ویلو پر مهال تر حقیقت ویلو ډېرې فعالې وي، یانې درواغ ویل د کورټیکس د یو شمېر برخو د فعالیت د زیاتېدو سبب ګرځي، چې په کې د (Anterior Cingulate Cortex) او (Superior Frontal

---

۱. Banich, M.T (2009) – Executive Funtion, the search for an integrated account, Page: 89- 94.

۲. Scientific American- The art of Lying July-11-2018, (https://www.scientific American.com.

(Gyprus برخې هم شاملې دي.




شکل (۴۵): انټيرير سينګولايټ کورټېکس

نوموړې زياتوي چې د مغزو هغه برخې چې د استدلال او فکر کولو چارې پرمخ وړي، يانې (مخکينی قشر Prefrontal Cortex) نو د حقيقت ويلو په نسبت د دروغ ويلو پرمهال ډېرې هڅېږي.

په دې وجه موږ ويلای شو، چې دروغ ويل تر حقيقت ويلو ډېر ذهني زحمت ته اړتيا لري.([۱])

**۳. څنګه درواغ ووايو، د مغزو د اخلاقي مرکز کشف:**

د درواغو بېلا بېل ډولونه شته؛ لکه: دوکه ورکول، يا د حقيقت پټول؛ خو هر ډول يې د مغزو ځانګړي فعاليت ته اړتيا لري، څو د مخاطب شعور وغولوي؛ مګر يوه مغزي برخه تل د هر ډول درواغو پر مهال فعاله پاتې کېږي، دا برخه (Anterior Prefrontal Cortex) ده، چې د مغزو د مخکيني څنډه وروستۍ برخه بلل کېږي او د سترګو پورته موقعيت لري، سره له دې چې دا سيمه تل د درواغ ويلو پرمهال فعاله وي؛ خو تر دې وروستيو پورې دا نه وه څرګنده چې ايا دا برخه حقيقت هم پټوي او که

---

۱. The New Yorker – DUPED – Margaret Talbot- 25-June-2007 www.newyorker.com.


نه، چون دا د مغزو د اخلاقي شخړې د څارنې مرکز دی.
په ساده عبارت که موږ له دې سیمې بې برخې وای؛ نو ایا موږ به لږ دروغ ویل؛ ځکه موږ به د حقیقت په پټولو کې بې وسه وو او که برعکس ډېر به مو ویل، په دې چې دا به نور غیر اخلاقي نه برېښېده.(۱)

**۴. درواغجن دماغ دروغ ویل طبیعي کوي:**

د هغو کسانو دماغ چې په دوامداره توګه دروغ وایي، داسې جوړښتیز بدلونونه لري، چې ښایي درواغ ویل طبیعي کړي.
ادرین رین (Adrian Raine) چې د لاس انجلس د سویلي کالیفورنیا پوهنتون ارواپوه دی، وایي: «ځینې خلک د دروغو په ویلو کې له نورو برلاسي برېښي، د دوی دماغ د هغو پېچلو حسابونو لپاره ښه سنبال وي، چې د چالاکه درواغو په جوړولو کې لازم وي.»(۲)
نوموړي وموندله چې دوامداره دروغ ویونکي خلک د عادي خلکو په پرتله د مغزو په مخکیني څنډه کې چې درواغ ویلو پر مهال فعاله وي، د سپین مادي (White Matter) ډېره او د خړ مادي (Gray Matter) اندازه کمه لري، سپین مادي د چټک او پېچلي فکر په اسانولو لاس پورې کوي، په داسې حال کې چې خړ مادي د ممانعت رول لري.
ښاغلی رین زیاتوي: «د سپین مادي زیاتوالی او د خړ مادي کمښت یو داسې ترکیب رامنځته کوي، چې له امله یې خلکو ته د ماهرانه درواغو وړتیا په لاس ورځي.»(۳)

---

۱. Psychology Times – Jashua Govin (PHD) http://www.psychology.com.
۲. The British Journal – Prefrontal white matter in pathological liars – Adrian Raine and others. November-2005, (Accesible on researchgate.com).
۳. USC Today – Liar's Brain wiered differently – Usha sutliff – Sep – 29- 2005.




شکل (۴٦): په د ماغو کې خړه او سپینه ماده

دا لومړی ځل وو چې د مستمرو درواغجنو او عادي خلکو ترمنځ بیولوژیکي توپیرونه کشف شول.


**۵. د کاذبو وګړو د دماغو غیر عادي جوړښت ته لومړنۍ ساینسي اشاره:**

د سویلي کالیفورنیا پوهنتون (USC) څېړونکو لومړنی مستند ثبوت وموند، چې له مخې یې متداوم یا نه بسېدونکي درواغجن وګړي د مغزو مخکینی قشر ځانګړي بدلونونه تجربه کوي.

که څه هم لا زیاتې څېړنې ته اړتیا شته، ولې دا موندنې جوتوي چې درواغ ویل ښایي عصبي زېربنا ولري.

البته؛ دلته د ساینس سترګې په لومړي ځل د انسان مغزي پېچلتیا ته ځیر شوې.


اصلا خبره داسې ده چې څېړونکو د کاذبو او عادي انسانانو د مغزي فعالیت مطالعې لپاره د مقناطیسي غبرګون انځورونې (MRI) یا Magnetic Resonance Imaging تخنیک وکاروه.




شکل (۴۷): مقناطيسي غبرگون انځورگري MRI

د ادرين رين په وينا «د درواغجنو د مغزو سپين مادي د نورو عادي افرادو په پرتله زياته او خړ مادي يې لږه وه.»(۱)

دی زياتوي: «سپين مادي چې د مغزو د اطلاعاتو د لېږد شبکه ده، ښايي يو کس ته دا اړتيا په لاس ورکړي، چې د دوکې پېچلی هُنر په ښه مهارت سره ترسره کړي.»




شکل (۴۸): دا د MRI تخنيک انځورگري ده، چې ددروغ ويلو پر مهال د دماغ د مخکېنۍ برخې فعاليت ښيي

۱. Science Daily, First Evidence of brain Abnormalities found in pathological liars (USC) – October, 2, 2005.

## د شیخ عبدالمجید الزنداني تأثر:



شکل (۵۰): شیخ عبدالمجید الزنداني

شیخ عبدالمجید الزنداني لیکي: «قرآن کریم د سر مخکینۍ برخې ته د ګناهګاره او درواغجنه برخه ویلي؛ مګر دا خو نه خبرې کوي او نه ترې کوم فعل صادرېږي، بیا ولې دروغجنه او ګناهګاره بلل شوې؟ دې پوښتنې متحیر کړی وم؛ خو پروفیسور محمد یوسف سکر زما حیرانتیا لرې کړه، هغه وویل: د انسان د سر په مخکینۍ سیمه کې هغه برخه موقعیت لري، چې د انسان د سلوک کنټرول پر غاړه لري، ما وویل: زه پوه شوم.

هغه وویل: تا څه وموندل؟

ما ورته وویل: د الله تعالی د دې وینا تفسیر چې فرمایي:

(درواغجنه، ګناهګاره (ناصیه)....)

هغه راغبرګه کړه: اجازه راکړه؛ ترڅو خپل کتابونه او مراجع وګورم، کله چې یې خپلې مراجع ولیدې، د خپلو خبرو تایید یې وکړ او زیاته یې کړه، څه وخت چې یو څوک درواغ ویل وغواړي او یا د ګناه کولو تکل وکړي؛ نو پرېکړه یې د دماغ په مخکینۍ برخې کې نیول کیږي.

وروسته مې دا موضوع له یو شمېر متخصصینو پوهانو سره شریکه کړه،

یو له هغوی څخه پروفیسور کیت ایل مور (Keith L. More) و، هغه وویل چې د سر مخکینۍ برخه د قضاوت او انساني چلند د تنظیم مسوولیت لري.

د بدن غړي؛ لکه لاسونه او پښې یواځې وسیلې دي، چې د سر د مخکینۍ برخې پرېکړې عملي کوي.

په کال ۱۹۸۰ز کې ما او ښاغلي کیت مور په قاهره (د مصر پلازمېنه) کې د یوې نړیوالې علمي غونډې پرمهال د «ناصیة» د ساینسي اعجاز په اړه خپله ګډه څېړنیزه پایله وړاندې کړه.» (۱)

پروفیسور کیت مور د هغې غونډې پرمهال وویل: «هغه معلومات چې موږ اوس د دماغ د فعالیتونو اړوند لرو، د تاریخ په اوږدو کې یې یاده نه ده شوې او نه یې د طب په زړو کتابونو کې کوم څرک لیدل کیږي. که موږ د محمد صلی الله علیه وسلم د زماني او له هغې څو پیړۍ وروسته درست طبي کتابونه وپلټو؛ نو د فرونټل لوب (ناصیه) دندې ته به هیڅ اشاره ونه مومو، نه یې تشریح، نه یې وضاحت؛ مګر په دې کتاب قرآن کې.»(۲)

د فرونټل لوب دنده د لومړي ځل لپاره په کال ۱۸۴۸ کې په ډاګه شوه، دا هغه وخت وو چې په تاریخي بهیر کې ورته د (Phineas Gage) پېښه ویل کیږي، د یادې پېښې پر مهال د باروتو د چاودنې له کبله د فینیس ګیج (Phineas Gage) په نوم د یوه کارګر دماغ ته فلزي میله ننوته، چې ځانګړې زیان یې د مغز مخکینۍ برخې ته ورساوه، له همدې امله د ده

---

۱. Scientific Truths and the Quran, A.B al Mehri 2nd edition, page: 50-51 (UK).

۲. Video link (Porf. Keith L.Moore).

په شخصیت او چلند کې د پام وړ بدلون راغی؛ خو د بدن نور فعالیتونه یې هیڅ اغېزمن نه شول.
له همدې وخت نه ډاکټرانو ته معلومه شوه، چې د دماغو دا برخه د انسان پر سلوک پوره اغېز لري.(۱)
یواځې د انسانانو نه؛ بلکې ښاغلي کیت مور د څو حیواناتو د فرونټل لوب انځورونه هم وښودل او ویې ویل چې د انسانانو او حیواناتو د دماغو د مقایسوي تشریح له مخې (ناصیه) په دواړو کې همدا یوه او مشترکه دنده لري، دا د کنټرول او هدایت مرکز دی، هغه که په انسان کې وي او یا په حیوان کې.
د نوموړي دا څرګندونه مونږ د الله تعالی دې قول ته متوجه کوي:
﴿مَا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذُۢ بِنَاصِيَتِهَآ﴾(۲)
ژباړه: هیڅ داسې ژوی نه شته؛ مګر دا چې د هغه ناصیه (مخکینی څنډه) الله تعالی ته ورسپارل شوې ده.
دا راز او دا حقیقت پیغمبر علیه السلام ته چا وښود؟
څوک وو چې دا ژورې خبرې یې یو نالوستي انسان ته ورسولې؟
اصلا؛ دا هرڅه د دې ښکارندویي کوي، چې قرآن هیڅکله د بشري فکر او استعداد سرچینه نه شي کېدای.

---

۱. Harlow, J.M (1868)- Recovery from the passage of an Iron bar through the head- page: 327-347, Pub – Massachusets Medical Society
Macmillan, M (2000), An old kind of fame stories of phinease Gage- Pub – The MIT press – ISBN: 978-0-262-63259-1.
۲. هود: ٥٦.

**د درد احساس (دردي اخذې):**

د انسان پوستکی د الله تعالی د حکمت پرورې ځانګړنې یوه بې سارې نښه ده، چې د خپلې ځانګړې جوړښتیزې پېچلتیا له مخې ګڼ شمېر دندې ورسپارل شوي.

پوستکی د انسان د بدن تر ټولو ستر غړی ګڼل کېږي، چې د بدن کابو ۱،٦ متره مربع سطحه پوښي او د یوه بالغ انسان د ټول وزن ٪۱٦ جوړوي.

د بدن ټوله بهرنۍ برخه پوښي او په دې توګه د ټولو بهرنیو چاپېریالي عواملو؛ لکه ناروغیو، ماورا بنفش وړانګو، کیمیاوي موادو او نورو پر وړاندې له بدن څخه ساتنه کوي.

همدارنګه د بدن د وچېدو مخه نیسي، بنا پر دې په وچه کې د ژوند کولو زمینه برابروي.

پرته له شکه چې پوستکی بې حسابه دندې او ښېګڼې لري؛ خو دا بحث د یوې ځانګړې او خورا اساسي دندې لپاره ځانګړی شوی، کولای شو د «درد اخېستنې» یا (Pain Reception) دنده یې وبولو.([1])

پخوا داسې انګېرل کېده چې د درد احساس یواځې د مغزي فعالیت زېږنده ده؛ خو وروسته ساینسي څېړنو دا باور رد کړ او څرګنده یې کړه چې د پوستکي په ساختمان کې ځینې داسې حجروي جوړښتونه شتون لري، چې له امله یې انسان د درد درک کولای شي.([2])

دا رښتیا هم د حیرت وړ ده، چې موږ د خپل لمسي احساس له لارې

---

۱. M. Royyan Nafis Fathul Wahab, Skin as a pain recetor – E-ISSN: 614-8285- (2019).


۲. Muhammad, A.T (2011) Surah Al-Nisa Pain Receptors in Skin – Miraculous Quran.blogspot.com.

څومره معلومات لاسته راوړو؛ خو پوښتنه دا ده چې پوستکی څه ډول کار کوي؟

ځواب يې ساده دی، یواځې د پوستکي جوړښت او څرنګوالي ته لنډه شننه غواړي.

**د پوستکي جوړښت:**

پوستکی له هغو انساجو جوړ دی، چې یو ځای کار کوي، ترڅو ځانګړې او حیاتي دندې پرمخ یوسي.




شکل (۵۰): د پوستکي جوړښت او پوړونه

د پوستکي جوړښت او ورسره تړلې نورې برخې د تکاملي نظام برخه جوړوي.

د معاصرې اناتومۍ څرګندونو له مخې پوستکی له دریو اصلي طبقو جوړ دی، چې عبارت دي له:

۱. ایپډرمیس (Epidermis).

۲. ډرمیس (Dermis).

۳. هایپوډرمیس (Hypodermis).

**۱. ایپډرمیس:** دا د پوستکي تر ټولو بیروني طبقه ده، چې د اوبو ضد


Waterproof خاصیت لري، خپل لاس ته په کتو چې د پوستکي کومه برخه په نظر کې درځي، دقیقا همدا د اپیډرمیس پوړ دی.
دا طبقه په ځینو برخو کې ډېره نرۍ او په ځینو ځایونو کې پېړه ده، د پوستکي نوي حجرات جوړوي، رنګ ورکوي او بدن ساتي.
د یادې طبقې ټولې برخې د (Stratum Corneum) هستوي حجرات لري؛ نو ځکه د «ژوندي اپیډرمیس» (Viable Epedermis) په نوم هم یادېږي، پېړوالی یې له ۵۰ – ۱۰۰ مایکرو مترو ته رسېږي، نه په کې د وینې رګونه شته، نه عصبي پایې.(۱)
**۲. ډرمیس:** دا طبقه د اپیډرمیس لاندې موقعیت لري، پېړوالی یې کابو ۱ ملي متر ته رسېږي، د پوستکي لپاره قوت، ارتجاع او انعطاف برابروي، په دې طبقه کې د وینې رګونه، د وېښتانو فالیکولونه، خولو غدوات، سیباشیز غدوات، عصبي پایې او دردي اخذې ځای لري.
**۳. هایپوډرمیس:** تر ټولو ژوره طبقه ده، له غوړو حجرو او نښلوونکو انساجو څخه جوړه شوې، هایپوډرمیس د وینې رګونه او عصبي حجرات تغذیه کوي؛ همدارنګه د بدن حرارت کنټرولوي او د بدن اضافي انرژي د شحمو په بڼه ذخیره کوي.

**د پوستکي مهمه دنده؛ احساس:**

پوستکی د عصبي حجراتو پراخه شبکه لري، چې چاپېریالي بدلونونه درک او دماغو ته یې رسوي، په دې برخه کې بېلا بېلې اخذې

۱. American Academy of Dermatology (AAOD) (2018), The layers of your skin – www.aaod.org.

(Receptors) شته، چې د بدن له داخلي عصبي سیستم سره وصل دي او جلا – جلا دندې لري؛ لکه د تودوخې، یخوالي، فشار او درد محسوسول.




شکل (۵۱): په پوستکي کې دردي آخذې

د هر سانتي متر مربع په سطحې کې يې شمېر د بدن د بېلا بېلو برخو له مخې توپير کوي، تر ټولو زيات يې د ګوتو د سرونو پر سر موندل کېږي. کله چې دا عصبي حجرات زيانمن شي، له کبله يې نيوروپاتي رامنځته کېږي، يانې په دې حالت کې پوستکی د احساس وړتيا له لاسه ورکوي.(۱)

ښايي ليدلي يا اورېدلي مو وي چې څه وخت يو سوځېدلی ناروغ ډاکټر ته راوړل شي؛ نو ډاکټر تر هرڅه دمخه لومړی د ناروغ پوستکی د يوې مخصوصې ستنې يا بل تېره څيز په واسطه تشخيص او ارزوي، که ناروغ د درد احساس وکړ، ډاکټر خوښي ښيي؛ ځکه تر دې مهاله دردي اخذې

۱. Muhammad Akhiruddin Ibrahim – The Miraculous Function of Human Skin, ISBN: 978-605-82433-8-5- (Malaysia).

فعالې يا ژوندۍ وي؛ ولې که برعکس درد يې محسوس نه کړ؛ نو ډاکټر وايي چې سوځېدنه يې ژوره او دردي اخذې يې له منځه تللي.

د احساس پروسه په لنډ ډول داسې بيانولای شو:

د پوستکي دردي اخذې تحرک احساسوي، دا احساس بيا د عصبي فايبرونو له لارې مرکزي عصبي سيستم ته انتقالېږي، چې بالاخره همالته يې د درک او پېژندنې چاره هم کېږي.

په قرآن کريم کې هم په دې اړه ګڼ شمېر ايتونه شته، چې د الهي عدالت له مخې منکرينو ته د مقرر عذاب تصور وړاندې کوي او خبرداری ورکوي.

دا ايت يې هم يوه بېلګه ده:

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ﴾(۱)

ژباړه: بې شکه هغوی چې انکار کوي زموږ له نښو ژر به يې اور ته ننباسو، هرکله چې يې پوستکي پاخه شي، وربدل به کړو نور پوستکي ترڅو عذاب ښه وڅکي.

دا ايت بيانوي چې الله تعالی به د کافرانو پوستکي هر هغه وخت بدلوي چې په جهنم کې وسوځول شي او په عوض به يې نوي پوستکي ورکړي، ترڅو عذاب بيا – بيا حس کړي.

---

۱. النسآء: ۵٦.

دا چې جهنم د عذاب او تعذیب ځای دی؛ نو عذاب یواځې هغو ته رسېږي، چې جهنم ته تلونکي وي.

نو د دې آیت تفسیر داسې کېدای شي، چې د پوستکي بدلولو اصلي هدف دا دی؛ ترڅو معذبین په مقرر ډول درد احساس کړي.

چون د بدن د جوړښت اناتومي او فزیولوژیکي څېړنو ښودلې ده چې کله پوستکی وسوځي، ورسره مل یې د احساس وړتیا هم له منځه ځي؛ ځکه درد اخیستونکې حجرې (Pain Receptors) ویجاړېږي.

دا له هغه حالت څخه توپیر لري چې یو کس لږ سوځېدلی وي؛ ځکه په دوهمه درجه (Second Degree) سوځېدنه کې لا هم اخذې موجودې وي، یواځې لږ زیان مومي.

**ژبنیز تحلیل:**

وهبة الزخیلي لیکي: «د کفرو کلمه یو ځانګړی مفهوم لري، په عبارت ﴿لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ﴾ کې د استعارې طرز کارول شوی، ذوق چې د څکلو مانا لري، عموما د خولې له لارې ترسره کېږي؛ خو دلته د بدن ټولو غړو ته اشاره شوې ده، د فعل مضارع کارول ښیي، چې دا سزا به تکرارېږي.(۱)

همدا راز ﴿نَضِجَتْ﴾ کلمه کارول شوې، چې د پوستکي ژورې

---

۱. تفسیر المنیر، مخ ۱۵/ ۲۳۶.

(دريمې درجې سوځېدنې) ته نغوته کوي.

ابن فارس د دې کلمې تفسير د يو شي سوځېدنه تر وروستي حد پورې کړې ده.(۱)

بناءً قرآن کريم نه يواځې د پوستکي له لارې د درد احساس ته اشاره کوي؛ بلکې د قرآن کريم دا بيان د سوځېدنې هغه درجه هم واضح کوي، چې په کې دردي اخذې له منځه ځي.

د تايلنډ د چيانګ ماى پوهنتون د اناتومۍ څانګې پروفيسور ښاغلي تجاسن (Tejatat Tejasen) يواځې د دې يوه آيت له امله چې (Pain Receptors) ته په کې اشاره شوې ايمان راوړ، نوموړي د سعودي عربستان په رياض کې د اتمې طبي غونډې پر مهال د شهادت کمله ولوسته.(۲)

---

۱. Tafsir of Surah Al-Nisa Ayat 56- Quran.com.

۲. Video Link (Convert) of Mr. Tejatat Tejasen to Islam Muslim Converts.com.

## د ګوتې نښان

### (يو بې سارې هويت)

د عربو مشرکينو به تل د پيغمبر عليه السلام څخه د غرور او انکار په ژبه پوښتل، چې ای محمده! هغه خدای چې ته موږ د هغه اطاعت ته وربولې، څنګه به د مړو هډوکو څخه انسان بېرته ژوند ته راوګرځوي او هغه به له څه نه پوهېږي، چې دا انسان څوک دی او څه يې کړي؟

الله تعالی يې په هکله وحی راولېږله او ويې فرمايل:[۱]

﴿اَيَحۡسَبُ الۡاِنۡسَانُ اَلَّنۡ نَّجۡمَعَ عِظَامَهٗ۝ بَلٰی قٰدِرِيۡنَ عَلٰۤی اَنۡ نُّسَوِّیَ بَنَانَهٗ۝﴾[۲]

ژباړه: ايا انسان دا ګومان کوي چې موږ به د هغه هډوکي راجمع (يوځای) نه کړو؛ ولې نه؟ موږ خو په دې هم قادر يو، چې د هغه د ګوتو سرونه هم سره برابر کړو.

د پورتني ايت په شننه کې دا پوښتنه زېږي، چې ولې الله تعالی د انسانانو د دومره سترې پوښتنې په ځواب کې د ګوتو په کوچنيو سرونو ټينګار کوي، حال دا چې د انسان بدن تر دې مهمې او ارزښتناکې عضوې لري؟

---

۱. وحيدي اسباب النزول (Quranx.com) دا ايت د عديه بن ربيعه په اړه نازل شوی، نوموړي محمد صلی الله عليه وسلم ته وويل، حتی که زه د قيامت ورځ په خپلو سترګو هم ووينم، ستا خبره به بيا هم راته د منلو وړ نه وي او نه به پر تا ايمان راوړم، ايا الله واقعا کولای شي دا هډوکي بېرته سره يو ځای کړي.

۲. القيامة: ۳-۴.

د ځواب لپاره اړينه ده چې د الله تعالی فعل پېژندنې (ساينس) ته مراجعه وکړو، ترڅو وپوهېږو چې ساينس په دې هکله څه وايي؟

ساينس وايي چې زموږ د ګوتو سرونه (Fingertips) خورا مهمې دندې او په زړه پورې ځانګړتياوې لري؛ مګر تر ټولو عجيبه يې بيا دا ده چې د ګوتو سرونه په خپل جوړښت کې يو بېساری هويت لري.

په ټوله نړۍ کې د ۲، ۸ مليارده([1]) خلکو ترمنځ هيڅوک ستاسې د ګوتو د سرونو جوړښت ته ورته جوړښت نه لري؛ البته نه يواځې د اوسني عصر خلک؛ بلکې څومره چې په دې نړۍ کې تېر شوي او څومره چې ستاسې له پيدايښت وروسته راتلونکي دي؛ نو ستاسې او د هغوی د ګوتو د سرونو نښان بلکل متفاوت دی.



شکل (۵۲): د ګوتې نښان

له ۱۸۸۰ز کال څخه وروسته د ګوتو نښې د پېژندګلوۍ لپاره يوه معتبره کړنلاره وګرځېده، چې ډېری وخت ترې په جرمي او جنايي قضيو کې

---

۱. World meter – current world papulation www.worldmeters.com.

کار اخېستل کېږي.

دا نوښت د لومړي ځل لپاره د ویلیام جیمز هرشل (William James Herschel)، د څېړنو او هڅو له کبله ثبت شو.

وروسته په کال ۱۸۹۲ کې سر فرانسیس ګولټ (Francis Golt) د نښو د طبقه بندۍ سیستم رامنځته کړ او زیاته یې کړه چې په نړۍ کې هیڅ دوه داسې انسانان نشته چې د ګوتو نښې یې په بشپړ ډول سره یو شان وي. واقعا که موږ حتی جوړه (غبرګوني) ماشومان هم په پام کې ونیسو؛ نو د هغوی ان د DNA ترکیب یو شان وي؛ مګر د ګوتو نښانونه یې مختلف وي.[1]

نامتو مصري عالم دوکتور مصطفی محمود په دې اړوند لیکلي:

«قرآن کریم یو فصیح کتاب دی؛ نو خبره د کلیت او جزیت علاقې ته ځي، د ګوتو بند یاد شوی؛ خو مراد ترې د ګوتو نښان دی.

نن چې هم یو انسان ګوته ولګوي، په درسته نړۍ کې پیدا کېدای شي، که لږه هڅه وشي او نښان اخېستونکي ماشینونه حساس شي؛ نو له مرګ زرګونه کلونه وروسته به هم یو انسان له همدې ادرسه پیدا کېدای شي، خدای تعالی هم له همدې مدرکه ټول مړي راټولولای شي، دویم دا چې د دې ایت نه د ساینس او ټیکنالوژۍ د پېژندنې پرمختللی سیستم را ایجادېږي.»[2]

---

۱. Twinfo- Finger Prints in Identical Twins – Anke- www.twinfo.com.

۲. ژباړه: استاد توحیدالله لحاظ.

په لنډه توګه داسې ویلای شو چې د هر انسان هویت (پېژندنه) یا Indentity د هغه د ګوتو په سرونو کې کوډ شوې ده، بلکل د بارکوډ سیستم ته ورته چې د محصولاتو د پېژندلو لپاره کارول کېږي.

دا د الله تعالی بې ساری علم او حکمت دی، چې څومره په حکیمانه توګه یې د کفارو دوه اړخیزه پوښتنه ځواب کړې.

په لومړي جز کې یې پوښتلي چې الله تعالی به څنګه د مسلمانانو هډوکي راټول کړي؟

الله تعالی ورته فرمايي چې هډوکي خو پرېږدئ؛ بلکې زه په دې هم قادر يم چې د انسان د ګوتو سرونه هم بېرته سره برابر کړم.

مطلب دا چې، که د خپلو ګوتو سرونو ته ځیر شو، کوچنۍ - کوچنۍ کرښې به په نظر راشي او دا باید هېر نه کړو، چې د ادم علیه السلام څخه تر دې دمه چې څومره انسانان تېر شوي او څومره نور راتلونکي دي، د دوی ټولو د ګوتو دغه کرښې په داسې توګه ترتیب شوي او ترتیب به شي، چې په ټولې نړۍ کې به له چا سره ورته والی ونه لري؛ نو مانا دا چې د قیامت په ورځ به الله تعالی موږ ټول په داسې حال کې را ژوندي کړي، چې ان د ګوتو دغه کرښې به هم په خپل مخکیني حالت کې وي.

دا واقعا د ژور فکر وړ ده چې ۱۴۵۰ کاله پخوا څوک په دې څه پوهېدل چې د ګوتو د سرونو کرښې بې سارې دي.

په دوهم جز کې یې بیا پوښتلي چې الله تعالی به له څه نه پېژندلی شي، چې پلانی انسان څوک دی او څه یې کړي؟

یاد ایت د دې پوښتنې لپاره هم یو صریح ځواب دی.

موږ وړاندې د ښاغلي مصطفی محمود نظر ولوست.

خو پرته له دې هم په اوسني دور کې د هویت تشخیص د بایومتریک له لارې یوه خورا عادي کړنلاره ګرځېدلې، چې په دې برخه کې ډېره تکیه بیا د ګوتو په سرونو کېږي، هغه که د عامه اسنادو اخېستل وي، تضمین کول وي یا نور مسایل.

دلته اړ یو چې بیا د خپل فکر دروازه وټکوو، راویې بولو او د دې پوښتنې یو معقول ځواب ترې وغواړو، چې ۱۴نیمې پېړۍ دمخه، څوک په دې پوهېدل چې د ګوتو سرونه دومره پر اسراره جوړښتونه دي چې حتی خپله پېژندنه (Identity) یې هم دلته کوډ کېدای شي.

## د شيدو جوړښت

د قرآن کريم له نزول شاو خوا ٦۰۰ کاله وروسته مسلمان ساينس پوه ابن نفيس(۱) د وينې دوراني سيستم کشف کړ، زر کاله وروسته د قرآن کريم له نزول او ۴۰۰ کاله وروسته له ابن نفيس څخه ويليام هاروي (Wiliam Harvey) دا پوهه لوېديځې نړۍ ته راوړه، چې له هماغه راهيسې يې شهرت وموند.(۲)

نو ځکه  زموږ په درسي کتابونو کې ليکل شوي، چې د وينې دوراني سيستم لومړی د ښاغلي هاروي له خوا شرحه شوی.

په هر صورت؛ دا يادونه مې په دې وکړه؛ څو څرګنده شي چې تر ابن نفيس وړاندې د انسانيت په علمي حافظې کې د وينې د دوراني سيستم هيڅ مفهوم نه دی ثبت شوی.

معاصر فزيولوژيکي ساينس څرګندوي چې شيدې د وينې له مغزي موادو څخه لاسته راځي، دا مواد د هاضمې (کولمو) له لارې جذبېږي او بيا د ځانګړو کيمياوي تعاملاتو په پايله کې ترې شيدې لاسته راځي.

لنډ طرز العمل يې داسې بيانولای شو:

وروسته له هغې چې خواړه په خولې کې ميده شي، د مرۍ له لارې معدې ته ځي، هلته د هضم له بهير وروسته په کوچنيو کولمو سپارل کېږي، په

۱. ابن نفيس، نوم يې علاء الدين ابو الحسن وو، په زرين دور کې يو وتلی مسلمان طبيب او فزيالوجيست بلل کېږي، په کال ۱۲۱۳ د سوريې په پلازمېنه دمشق کې زېږېدلی.

۲. AL-Ruhi, Zaynab – "Ibn Al-Nafis" The Discovery of Pulmonary Ciralation- Journal of Islamic Medicine-2021.

کوچنيو کولمو کې د (Villi) په نوم کوچني جوړښتونه دنده لري؛ ترڅو غذايي مواد جذب او د (Hepatic Portal Vein) له لارې يې د وينې دوراني سيستم ته وسپاري.

وينه دا مواد د ځيګر تر حضوره رسوي، ځيګر يې د تصفيې او تنظيم چارې اخلي، ځينې يې ذخيره کوي او ځينو ته چې اړتيا وي بېرته يې د وينې عمومي جريان ته ورکوي.

وينه د خپل جريان مطابق دا مواد د بدن ټولو برخو ته رسوي، ترڅو داخلي غړي تغذيه کړي، په شمول د مماني غدو (Mammary Glands)(۱)

وينه نوموړو غدو ته هغه مواد راوړي، چې د شيدو د توليد لپاره اړين وي، دا مواد عبارت دي له:

۱. پروټينونه.

۲. شحمونه (Fats).

۳. کلسيم.

۴. ويټامينونه (A, D, E, K).

۵. قند (Lactose).

۶. اوبه.

۷. منرالونه (نور منرالونه).

---

۱. Prof. Dr. M Akram Chaudhary- The Holy Quran on Producion of milk- April-21-2017 – (Linkedin).

اصلا ممیاني یا تی لرونکې غدې، په خپله د یو چاڼ یا فلټر په توګه کار کوي، ترڅو له وینې مواد واخلي او شیدې تولید کړي.
په منځنۍ توګه یوه غوا د یو ګالن شیدو تولید لپاره اړتیا لري، ترڅو ۴۰۰ ګالنه وینه یې تي لرونکو غدو ته دوران وکړي.[۱]
خپل نچوړ په دې راټولولی شو، چې ووایو تی لرونکې غدې غذایي مواد له وینې او وینه یې له هاضمي سیستم (کولمو) څخه ترلاسه کوي.
دا پروسه که څه هم په خپله د حیرت وړ ده؛ خو تر دې لا حیرانوونکې بیا دا ده چې قرآن کریم همدغه پروسه ۱۴۵۰ کاله دمخه په خورا ساده او روښانه توګه بیان کړې ده.

﴿وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِينَ﴾[۲]

ژباړه: او بېشکه په څارویو کې ستاسې لپاره ستر عبرت دی، موږ په تاسې څښو هغه څه چې د دوی په خېټو (ګېډو) کې دي، د کولمو د اجزاوو (غوشایو) او وینې ترمنځ، شیدې خالصې او خوندورې د څښونکو لپاره.
ښاغلی ماریس بوکای په دې هکله لیکلي: «په فزیولوژۍ کې یو ایت ماته خورا مهم ښکاري، زر کاله مخکې له دې چې د وینې دوراني سیستم کشف شي او شاوخوا ۱۴پېړۍ وړاندې له دې چې پوه شو داخلي

۱. Holstein Foundatoin- “Milking and Lactation Book”, https://holsteinfoundation.com.
۲. النحل: ٦٦.

ارگانونه د هضم د پروسې له لارې تغذیه کیږي، قرآن کې یو ایت د شیدو د تولید پروسه په داسې شان بیان کړې، چې د علمي حقایقو سره اړخ لگوي.»(۱)

دلته یوه بله علمي نغوته هم شته، ښایي لا مو حیران کړي.

که څه هم د شیدو ماهیت د څارویو له جنس خوړو او نوعیت سره مستقیم تړاو لري؛ خو څیړنې ښیي چې د غوا د شیدو په ترکیب کې کابو ۸۷، ۸ سلنه اوبه ونډه لري.(۲)

اوس که چېرې موږ د النحل سورة له ۶۵ ایت څخه ۶۶ ایت ته ځیر شو.

﴿وَاللّٰهُ اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحۡيَا بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّسۡمَعُوۡنَ۝ وَاِنَّ لَكُمۡ فِى الۡاَنۡعَامِ لَعِبۡرَةًؕ نُسۡقِيۡكُمۡ مِّمَّا فِىۡ بُطُوۡنِهٖ مِنۡۢ بَيۡنِ فَرۡثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيۡنَ۝﴾(۳)

وینو چې لومړی د اوبو او بیا د شیدو یادونه شوې، دواړه کلمې (ماء) او (لبنا) د ۸۸ حرفونو په واسطه سره جلا شوي، یا د دې دواړو کلمو ترمنځ ۸۸ حروف شتون لري، چې دا حالت په شیدو کې د اوبو له نسبت سره د یوې دقیقې همغږۍ او توافق ښودنه کوي.

---

۱. Dr. Mourice Bucaille- Quran and Modern Science, Page: 18.

۲. USDA- Dep of Agriculture- 2025 April.

۳. النحل: ۶۵- ۶۶.

# نهم څپرکی

# قرآن او جنين پوهنه

لنډه تاريخي مخينه

۲. ارسطو (Aristotle)

۳. کلودويوس ګالن (Claudius Gallen)

۴. تلمود (Talmud)

پروفيسور کيت ايل مور په ساينسي نړۍ کې يوه وتلې او...

قرآن کريم سره د تطابق څېړنې

*نهم څپرکی*

# قرآن او جنین پوهنه

**لنډه تاریخي مخینه:**

د جنین پوهنې (امبریولوژۍ) لومړنۍ ثبت شوې څېړنې د کاس هیپوکراټس (Hippocrates of Cos) په کتابونو کې موندل شوي.

هیپوکراتس چې شاوخوا (۴۲۰- ۳۷۷ق.م) کلونو کې يې ژوند کړی، یو نامتو یوناني طبیب بلل کېږي، ډېری يې د طب پلار بولي.

د انساني جنین پوهنې د پوهېدو لپاره نوموړي سارښتنه کړې:

«شل یا زیاتې هګۍ راواخلئ او پرېږدئ چې دوې یا زیاتې چرګې يې تبده کړي، بیا له دوهمې ورځې نیولې د هګیو تر چوېدو پورې هره ورځ یوه هګۍ لرې او ماته کړئ او ويې ګورئ.

دقيقا تاسې به هغه څه وومئ، چې زه يې وايم؛ ځکه د مرغۍ طبيعت انساني طبيعت ته ورته دی.»[۱]

**۲. ارسطو** (**Aristotle**): (۳۸۴ – ۳۲۲ق.م) چې يو يوناني فيلسوف او ساينس پوه وو، د جنين پوهنې په باب يې يو اثر ليکلی، په دې اثر کې يې د چرګ او نورو حيواناتو جنينونو د ودې مراحل هم بيان کړي.

ارسطو په دې نظر وو چې جنين له يوې مشخصې او بې شکلې مادې څخه وده کوي، هغې ته يې (نيمګړی خو تغذيه لرونکی تخم) ويلی، نوموړي ګومان کاوه چې جنين د حيض له وينې او د نر له نطفې څخه رامنځته کېږي.[۲]

**۳. کلودويوس ګالن** (**Claudius Gallen**): چې شاوخوا د (۱۳۰-۲۰۱) کلونو ترمنځ يې ژوند کړی، يو يوناني ډاکټر او ساينس پوه و، نوموړي په روم کې د جنين جوړښت په باب يو کتاب وليکه، په دې اثر کې هغه د جنين د ودې او تغذيې تفصيل ورکړ او هغه جوړښتونه يې بيان کړل، چې مورږ نن ورځ ورته الانتويس (Allantois) امنيون (Amnion) او (Placenta) وايو.[۳]

---

۱. Wikipidea - Embryology.

۲. Aristotle- on the Generation of Animals- by: Gera R. Lawrence- 2010-10-02 Arizona State University.

۳. Needham, Joseph- A Hisotry of Embryology Combridge University Press, (1959).

**۴. تلمود (Talmud)**: په تلمود([1]) کې هم د جنین د جوړښت یادونه شوې ده، یهودي ډاکټر ساميول ايل(Samuel-el) چې په دوهمه میلادي پېړۍ کې يې ژوند کاوه، د جنین د جوړښت شپږ پړاوونه بیان کړي دي، د تلمود عالمانو عقیده لرله، چې هډوکي، بندونه، نوکان، د سر مغز او د سترګو سپین د پلار له خوا چې (سپینه نطفه شیندي) خو پوستکی، وینه، غوښه او وېښتان د مور له خوا چې (سره نطفه شیندي) راځي.([2])

په ۱۷مه پېړۍ کې یانې هغه وخت چې مایکروسکوپ اختراع شو، ورسره د ساینس پوهانو نظریې هم بدلې شوې، د سوامردام (Jan Swammerdam) او نورو ساینس پوهانو په شمول د (Preformation) یا مخکې جوړېدنې تیورۍ بنسټ کېښودل شو، د دې تیورۍ له مخې یوه کوچنی خو بشپړ انسان د پلار په نطفې کې شتون درلود، چې د ښځینه نطفې سره د یو ځای کېدنې په صورت کې يې وده کوله.

دا چې له حقیقت یې واټن درلود، ډېر ژر د بطلان ښکار شوه، واقعیت دا وو چې ښځینه هګۍ د نارینه له سپرم څخه لویه ده.

بالاخره په کال ۱۷۷۵م کې ایټالوي عالم لازارو سپالانزاني (Lazaro

---

۱. تلمود د یهودي دین یو له مهمو مذهبي کتابونو دی، چې د «منشا» (شفاهي قوانین) او «ګمارا» (تفسیر او توضحیات) مجموعه ده، د یهودي دین قانون، عقایدو، اخلاقو او تاریخي روایتونو یوه اساسي سرچینه ګڼل کېږي.

۲. Talmudology- Sotah 456 Talmudic Embryology, December-10-2015, https://www.talmudology.com.

(Spallanzani په دې بریمن شو، چې واقعي خبره وکړي او په دې برخه کې اصل بیان کړي، ده وویل چې د ماشوم پیدایښت لپاره هم د مور او هم د پلار د نطفو یو ځای کېدنه اړینه ده.

خو همدا خبره محمد صلی الله علیه وسلم د یو یهودي د پوښتنې په ځواب کې هم کړې وه او فرمایلي یې وو: «***عن عبدالله بن مسعود: مر يهودي برسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يحدث اصاحبه فقالت قريش يا يهودي ان هذا يزعم انه نبي فقال لاسالنه عن شيءٍ لا يعلمه الا نبي قال فجاء حتى جلس ثم قال يا محمد مم يخلق الانسان قال يا يهودي من كل يخلق من نطفة الرجل ومن النطفة المراة.***» [1]

ژباړه: له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له اصحابو سره خبرې کولې چې یو یهودي زموږ پر لورې تېرېده، قریشو یهودي ته وویل: ای یهودي دا سړی (محمد صلی الله علیه وسلم) ځان د الله نبي ګڼي، یهودي وویل: زه به ترې داسې څه وپوښتم چې له نبي پرته یې په ځواب څوک نه پوهېږي، راغی او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې وپوښتل چې انسان له څه شي پیدا کېږي؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ای یهودي؛ انسان د نر او ښځې له نطفو پیدا کېږي.

نو هغه واقعیت چې ایټالوي عالم د اسبابو پر مټ بیان کړ، محمد صلی

---

۱. مسند احمد، ۷/ ۴۴۳۸.

الله علیه وسلم یې بیان ډېر پخوا (اوومه پېړۍ) کړی.

دا چې په ۲۰مه پېړۍ کې د عصري جنین پوهنې (Modern EMB) علم بنسټ ایښودل کېږي، له کبله یې نظریات محوه او ځای یې حقایق نیسي.

په دې بحث کې به د همدې عصري جنین پوهنې د معاصرو څېړنو په رڼا کې د قرآن کریم ځینې آیتونه مطالعه کړو.

**پروفیسور کیت ایل مور په ساینسي نړۍ کې یوه وتلې او منلې څهره:**

پروفیسور ډاکټر کیت ایل مور (Keith L. Moore) یو نړیوال نامتو متخصص و، چې د انساني اناتومۍ او جنین پوهنې په ښوونه کې یې خورا لوړ مقام درلود، هغه د خپل ژوند د نه ستړې کېدونکو هلو ځلو په مټ وکولای شول؛ څو د طب په ډګر کې ستر بدلونونه او د پام وړ پرمختګ راولي.




شکل (۵۵): پروفیسور کیت ایل مور

د نوموړي څېړنو چې د زېږون پر مهال د پیدا کېدونکو نیمګړتیاوو (نواقصو) د علتونو په اړه وي، ډاکټرانو ته دا زمینه مساعده کړه چې د ګڼو جنیتیکي اختلالاتو د پېژندنې او تشخیص نوي او اغېزمن میکانیزمونه رامنځته کړي.

ډاکټر مور د کاناډا د ټورانټو پوهنتون د طب پوهنځي د جراحۍ څانګې او اناتومۍ په برخه کې د افتخاري پروفیسور په توګه دنده ترسره کوله.

نوموړي ګڼو کتابونو او علمي اثارو ته ارزښتناکې لیکنې سپارلي، چې په کې د Developing Human (نهم چاپ) Before we born (اتم چاپ) او Clinically Oriented Anatomy شامل دي.

په ۲۰۰۷م کال کې پروفیسور کیت مور لومړنی کس شو چې د انساني اناتومۍ د تدریس په برخه کې د امریکایي اناتومستانو (پوهانو) یا (AAA) له خوا تر ټولو لوړه جایزه (Henry Gray/ Elsevier Distinguished Educator Awar) ترلاسه کړه.




شکل (۵۷): د ښاغلي کیت مور اثر له اسلامي زیاتونو سره

د دې جایزې لپاره نوماند کس وویل: «کیت مور یو له هغو پوهانو دی، چې د اناتومۍ په علم کې یې نړیوال شهرت او افسانوي مقام موندلی، هغه نه یواځې په خپل هېواد؛ بلکې په نړیواله سطحه هم د اناتومۍ د ښوونې په ډګر کې ژور اغېز پرېښی.»[۱]

---

۱. Elsevier Authors- Keith L.Moore https://elsevier authors.com – 2013-12-25.

همدارنگه د کمپنۍ مشر د خپلې وینا پرمهال وویل: «د ډاکټر مور کتابونه د ښوونکو او زده کوونکو لپاره د یو نوي نفس حیثیت لري، په دې کتابونو کې جوړښتونه او د جنین د ودې پړاوونه په یوه طبي او کلینیکي بڼه تشریح شوي. د اناتومۍ د تعلیم په برخه کې د هغه ونډه ډېره ژوره او دوامداره ده او دا به د طبي نړۍ لپاره یو تل پاتې میراث وي.»[۱]

په کال ۲۰۱۲م کې ډاکټر مور ته د ملکې الیزابیت له خوا هم مډال ورکړل شو، همدا راز، د اوهایو پوهنتون له خوا ورته افتخاري دوکتورا ورکړل شوه، څو د اناتومۍ په علم کې د ده د ټول عمر خدمات او طب د پرمختګ لپاره هڅې وستایل شي.



شکل (۵٦): ښاغلي مور ته د هغه د هڅو او لاسته راوړنو په مناسبت افتخاري دوکتورا ورکړل شوه

## قرآن کریم سره د تطابق څېړنې:

په ۱۹۸۰م کال کې پروفیسور مور سعودي عربستان ته دعوت شو، تر څو

۱. لومړۍ سرچینه.

د انسان تشریح او جنین پوهنې په باب لکچرونه ورکړي.

خو د پاچا عبدالعزیز پوهنتون د جنین پوهنې کمېټې ترې غوښتنه وکړه، چې د قرآن کریم ځینې آیتونه او د احادیثو هغه برخې چې د انسان د جوړښت او په ټوله کې د ایمبریولوژیکي ژوند څخه بحث کوي وڅېړي.

یواځې د دې لپاره نه چې هغه د اناتومۍ او جنین پوهنې تکړه عالم وو؛ بلکې دلته یوه قرآني اصل او لارښوونه هم په پام کې نیول شوې، چې الله تعالی موږ ته کړې، داسې چې فرمایي:

﴿فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾[۱]

ژباړه: پس پوښتنه وکړئ د علم له خاوندانو، که چېرې تاسې نه پوهېږئ.

د دې مطالعاتو پر بنسټ د جنین پوهنې کمېټې له پروفیسور مور او نورو علمي همکارانو سره یو شمېر علمي مقالې خپرې کړې.

د پرتله ییزې څېړنې پر مهال هر قرآني ایت او د احادیثو هر متن په تفصیل سره د تفسیر کتابونو، د احادیثو د مؤثقو منابعو او پنځو کلاسیکو عربي لغات نامو له مخې څېړل شوی دی.

سربېره پر دې، له یو شمېر نړیوالو مشهورو جنین پوهانو او د زېږون متخصصینو سره مرکې او بحثونه هم ترسره شول، ترڅو د دې څېړنو دیني او علمي دواړه اړخونه په پوره دقت سره وڅېړل شي.

---

۱. النحل: ۴۳.

ښاغلي مور په خپله هم د جنین پوهنې له نورو متخصصینو سره مشورې وکړې، هغه په دې هکله وایي: «ما وړاندیز وکړ چې ډاکټر T.V.N Persuade او ډاکټر E.Marshal Johnson ته دې هم بلنه ورکړل شي، د کمېټې له لورې له دوی هم ورته پوښتنې وشوې؛ خو ما قصدا ونه غوښتل چې له دوی سره خپله تبصره شریکه کړم؛ ځکه دوی باید د خپلې پوهې او خوښې سره سم ځوابونه ورکړي وای؛ مګر دوی هم داسې ځوابونه ورکړل، چې ترمنځ مو هیڅ توپیر نه لیدل کېده.»(۱)

ډاکټر کیت مور د څېړنو او هڅو پایله په لنډ ډول دده له وینا څخه داسې را اخیستی شو، چې دی وایي: «زه له تېرو درېیو کلونو راهیسې د سعودي عربستان د پاچا عبدالعزیز په پوهنتون کې د جنین پوهنې له کمېټې سره کار کوم؛ ترڅو د قرآني ایتونو او هغو احادیثو مطالعه او شرحه وکړو چې د زېږون دمخه د ماشوم ژوند او حالات بیانوي.



شکل (۵۸): ډاکټر ټي. وي. این پرسوډ

۱. Muslim Student Association- "Embryology in the Quran with Drs. Persuad, Moore and Jhonson (1988) (Video link).

په پیل کې زه د دغو ایتونو علمي دقت ډېر حیران کړم؛ خو غواړم ووایم چې په دې کې هیڅ شک نه وینم، چې دا معلومات دې محمد صلی الله علیه وسلم ته له خدایه راغلي وي؛ ځکه دا هرڅه په اوومې پېړۍ کې ثبت شوي، هغه وخت چې د جنین پېژندنې علم لا نه وو رامنځته شوی؛ خو سره له دې قرآن کریم جنین پوهنه په داسې توګه تشریح کړې، چې ټول اړخونه یې په بشپړه توګه سم او له معاصر ساینس سره سمون لري.»[۱]

تکړه او نامتو ډاکټر ښاغلي کیت مور په ۲۰۱۹م کال کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې، که څه هم د هغه وروستي مذهب په اړه کره معلومات نه شته؛ مګر د ده علمي هڅې نن هم د دین او ساینس ترمنځ د تفکر او تحقیق یو زرین باب ګڼل کیږي.

۱. Video Link.

# قرآني څرګندونې او ساينسي څېړنې

## (پرتله)

۱. د علقه ساينسي تفسير

الف: د وينې ټوټه

ب: علقه د ځوړند يا نښتي څيز په مانا

ج: علقه د ليچ په مانا

خو ولې له ليچ يا ژورې سره تشبيه؟

۲. د جنين د ودې او جوړښت پرله پسې پړاوونه

الف: د مضغې پړاو

ب: د هډوکو جوړېدل

ج: پر هډوکو د عضلاتو پوښ

۳. د نطفې د وتلو لومړی ځای

۴. د مور د رحم تياري

۵. د سماعت (اورېدو) او بصيرت ليد حسونه

۱. د اورېدو حس

۲. د ليدو حس

# قرآني څرګندونې او ساينسي څېړنې!
# (پرتله)

**۱. د علقه ساينسي تفسير:**

الله تعالی فرمايي:

﴿اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝﴾[1]

ژباړه: ولوله د خپل رب په نوم چې پيدايښت يې کړی او پيدا کړی يې دی انسان د وينې له ټوټې څخه.

د ډېری عربي قاموسونو له مخې د (علقه) کلمه لاندې درې ماناوې لري:

۱. د وينې ټوټه.

۲. ځوړند يا يو څه پورې نښلېدونکی.

---

۱. العلق: ۱ - ۲.

**۳. ژوره (یو ډول وینه زبېښونکی چینجی) Leech.**

**الف: د وینې ټوټه:** (نغدي کېدل، ځای پرځای کېدنه/ Implantation) ځای پر ځای کېدنه د حمل یو بنسټیز او مهم پړاو دی، چې له القاح څخه شاوخوا ٦ یا ۷ ورځې وروسته پېښېږي، دا هغه مهال وي چې جنین لا هم د بلاستو سیسټ (Blasto Cyst)[۱] په بڼه وي، د مور د رحم دېوال ته ځان نږدې کوي او هلته ځای پر ځای کېږي.

شاوخوا د القاح له ورځې څخه تر ۱۰ یا ۱۲ ورځو پورې بلاستو سیسټ په بشپړ ډول د رحم د اندومیتریم په نسجونو کې نغښتی شي او همله د Implantation یا ځای پر ځای کېدنې بهیر پای ته رسېږي.[۲]

که څه هم جنین په دې وخت کې وینه لري؛ خو تر دې دمه وینه هیڅ دوران نه کوي؛ څکه معمولاً دا د ۲۱ او ۲۲ ورځو په شاوخوا کې وي، چې د جنین زړه د هغه له رګونو، نښلوونکي بند (Connecting Stalk) او نورو برخو سره نښلي، له همدې امله جنین د همدې لومړنیو پړاوونو پرمهال، یانې مخکې له دې چې وینه یې دوران پیل کړي، د وینې د یوې ټوټې په څېر ښکاري.[۳]

---


۱. بلاستو سیسټ د حجراتو یو کوچنی بیضوي شکل جوړښت دی، چې د رحم له دېوال سره نښلي او له همدې ځایه د جنین وده پیلېږي.

۲. NIH- National Center for Biotechnology- A Review of Mechanisms of Implantation- Sumi Kim- Jong Soo Kim.

۳. BDGA- Development of the Embryo.

**ب: علقه د ځوړند یا نښتي څیز په مانا:**

دا خورا ساده او روښانه مساله ده چې جنین د مور په رحم کې ورته بڼه لري؛ څکه څېړنو ښودلې چې جنین د (Connecting Stalk) له لارې (Placenta) سره نښلي او د کوریونیک تشې (Chorionic Cavity) په منځ کې ځوړند پاتې وي.(۱)




شکل (۶۰): علقه د نښلیدونکي یا ځوړند څیز په توګه

په دې توګه دا حالت له هغې مانا سره بشپړه همغږي ښیي، چې د علقه لپاره یاده شوې.

**ج: علقه د لیچ په مانا:**

علماوو، ژبپوهانو او قاموسونو د «علقه» یو مانا د وینې زبېښونکي چینجي (Leech) په مانا سره کړې.

د یوولسم ټولګي د بیولوژي په مضمون کې دې چینجي ته د پښتو نوم (ژوره) ورکړل شوی.

---

۱. Britanica Encyclopedia- Amnion Prenatal Development in Pre-Embryonic and Embryonic Development – Lesile B Arey – Damir Sapunar- www.britanica.com.

د څوارلسمې پېړۍ نامتو عربي قاموس لسان العرب لیکي:

«علقه هغه ژوي ته ویل کېږي چې په اوبو کې ژوند کوي او وینه زبېښي.»[1]

د القاموس محیط له مخې هم ورته پېژند ورکړل شوی.[2]

ابن کثیر رحمه الله لیکي: «فصارت علقه حمراء على شكل العلقه مستطيل»[3]

ژباړه: نو هغه یوه سره شوې ټوټه وګرځېده، د ژورې په بڼه.

په قرآني دایرة المعارف (Encyclopedia) کې هم راغلي:

«علقه مانا: «ژوره» (Leech) د «وینې ټوټه»»[4]

## خو ولې له لیچ یا ژورې سره تشبیه؟

جنین د امیندوارۍ په لومړنیو ورځو کې د رحم داخلي دېوال اندومیتریم سره نښتی وي؛ لکه څنګه چې لیچ یا ژوره د انسان پوستکي سره نښتې وي، همدا راز، جنین د امینوتیک مایع (Aminotic Fluid) په منځ کې قرار لري، له بلې خوا لیچ هم په اوبو کې ژوند کوي.

نو که موږ د «علقه» لغوي مانا د ژورې په توګه هم واخلو، وینو چې د

---


۱. لسان العرب، ابن منظور، ۱۰/ مخ: ۲۶۰- ۲۶۱، بیروت.

۲. القاموس المحیط، ۳/ مخ: ۲۷۵- (۱۹۹۴).

۳. ابن کثیر، ۳/ مخ: ۲۴۳- بیروت.

٤. The Quran Encyclopedia, Alaq- Sahin, Page: 27 (2006).

امیندوارۍ په درېیمه اوونۍ کې جنین خپل ګرد شکل بایلي او ورو-ورو اوږده بڼه اخلي، تر دې چې د لیچ بڼه خپله کړي.




شکل (٦١): علقه د ژوري (لیچ) په توګه

په دې پړاو کې د جنین د وینې رګونه فعالیت کوي او د مور له وینې تغذیه کېږي؛ بلکل هغسې چې لیچ د نورو وینه زبېښي.

ویلای شو چې جنین د مور په وینه تکیه او د لیچ په څېر ژوند کوي.

د BBC د تلوېزیوني نړۍ «د انسان بدن؛ له زېږون څخه تر مرګه پورې - حیرانوونکی سفر» په یوه برخه کې پروفیسور رابرټ وینسټن (Robert Winston) هم د جنین تشرېح د همدې مثال په څېر کړې ده، پروفیسور وینسټن ښیي چې جنین څنګه د خپلې مور له وینې تغذیه کېږي او هم دا عمل د یوې ژورې (علقې) سره پرتله کوي، چې د نورو وینه زبېښي.


دی وایي: «دې لیچ ته هرڅه چې د ژوند لپاره اړین وي، د هغه موجود له وینې یې ترلاسه کوي، چې ځان پرې نښلولی شي.

جنین هم د خپلې ودې لپاره د مور له وینې خام مواد اخلي.

له پیله هم لیچ او هم جنین دواړه د خپلې بقا خیر غواړي (په لټه کې

وي).»(۱)

د قرآن کريم دا کلمه (علقه) د جنين د ودې دويم پړاو لپاره يوه هر اړخيزه اصطلاح ده، چې هم ده جنين ظاهري بڼه بيانوي او هم داخلي پېښې په کې نغښتې دي.




شکل (٦٢): د ليچ او جنين داخلي جوړښت

په همدې يوې کلمې کې د جنين عمومي بڼه چې د يو څوړند يا ژورې په څېر وي، تشريح شوې ده، همدا راز د وينې په جوړېدو او د بندو رګونو د رامنځته کېدو داخلي بهيرونه هم په کې ښودل شوي او هم د جنين اتصال له Placenta سره په کې ياد کړل شوی دی.

---

۱. – Prof Winston in the human body: The incredible Journey from birth to death BBC World Wide.

## ۲. د جنین د ودې او جوړښت پرله پسې پړاوونه:

الله تعالی فرمايي:

﴿فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ﴾(۱)

ژباړه: بیا مو د وینې ټوټه (علقه) په مضغه بدله کړه، ورپسې مو مضغه پر هډوکي بدله کړه، هډوکي ته مو غوښه وروااغوسته او بیا مو هغه په یو بل تخلیق (جلا جوړښت) کې پیدا کړ؛ نو الله ډېر برکت والا او تر ټولو ښه صورت پیدا کوونکی دی.

### الف: د مضغې پړاو:

جنین د ۲۴ څخه تر ۲۵ ورځو پورې د علقې پړاو پای ته رسوي، د ۲۶ یا ۲۷ ورځو پورې دا پړاو په چټکۍ سره د مضغې پړاو ته اوړي، د علقې پړاو په وروستیو دوو ورځو کې حتی جنین د مضغې ځینې ځانګړنې هم خپلوي.


د مضغه لغوي ماناوو څخه یوه دا ده: «ژوول شوی څیز.»(۲)

یانې که تاسې چېرې ژاوله راواخلئ او ویې ژوئ، بیا یې د مضغې له دې حالت (تصویر) سره پرتله کړئ؛ نو څرګنده به شي چې د ژوول شوي څیز څخه مانا څه.

---

۱. المؤمنون: ۱۴.

۲. ابن کثیر/ لسان العرب/ Han's wher Arab- Eng Dictionary.




شکل (٦٣): جنين د مضغې پر مهال

اصلا د جنين په شاتنۍ برخه کې سومايټونه(۱) داسې ښکاري؛ لکه د ژوول شوي مادې د غاښونو نښې.(۲)

دا نښې يا سومايټونه په متداوم ډول بدلېږي؛ لکه څنګه چې د يوې ژاولې په ژوولو د غاښونو نښې هر ځل بدلون مومي.

په يو بل آيت کې الله تعالى فرمايي: ﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ﴾(۳)

ژباړه: ای انسانانو! که چېرې تاسې د دوهم ځلي ژوند څخه په شک کې ياست؛ نو بېشکه موږ تاسې له خاورې پيدا کړي ياست، بيا له نطفې څخه


---

۱. سومايټونه د جنين په لومړنيو مرحلو کې هغه کوچني پياوړي بلاکونه دي، چې د جنين د ملا ترڅنګ څرګندېږي او د بدن ډېر مهم جوړښتونه ترې منځته راځي؛ لکه د ملا هډوکی (Vertebrate) عضلات، د پوستکي ځينې برخې او نور.

۲. The Developing Human- Moore and Persuad 5th ed, Page: 82.

۳. الحج: ۵.

بيا د وينې له ټوټې څخه او ورپسې د مضغې څخه چې يو څه پوره جوړه شوې وي او يو څه نيمګړې وې.



شکل (۶۴): پر جنين د سومايټونو جوړښت د ژول شوي څيز له نښو سره ورته والی ښيي

ډاکټر مارشل جانسن د دې آيت په تبصره کې وايي: «که چېرې موږ د جنين دا مرحله د بشپړ جوړښت په توګه تشريح کړو؛ نو دا به ناسمه وي؛ ځکه ځينې اعضاوې يې تر دې دمه نه وي جوړې شوې.

خو که د نيمګړي جوړښت په توګه يې تشريح کړو، بيا هم ناسمه برېښي، په دې چې ځينې اعضاوې يې جوړې شوې وي؛ نو د دې مرحلې يا پړاو کومه تشريح چې قرآن کريم کړې، تر دې بله غوره تشريح نه شته.»[1]

1. Video Link.



شکل (۵۹): ډاکټر اي. مارشل جانسن

اوس پوښتنه دا ده چې په اوومه ميلادي پېړۍ کې يانې هغه وخت چې خلکو يې د مايکروسکوپ له نوم سره نه اشنايي درلوده او نه يې د داسې وسيلې تصور کولای شو، بيا څنګه د دا ډول ژورو علمي رازونو درک او بيان د داسې شخص په برخه شو، چې نه يواځې په خپله؛ بلکې د ټولنې ډېری وګړي يې هم په ليک او لوست نه پوهېدل.

**ب: د هډوکو جوړېدل:**

الله تعالى فرمايلي: ﴿**فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا**﴾[۱]

په دې پړاو کې د مضغه يا د (سومايټونو) له جوړښت نه هډوکي راڅرګند او وروسته په عضلاتو پوښل کېږي.

د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم په يوه مبارک حديث کې هم د

---

۱. المؤمنون: ۱۴.

دې پړاو د وخت يادونه شوې:

**«اذا مر بالنطفة اثنتان واربعون ليلة بعث الله اليها ملكا فصورها و خلق سمعها وبصرها ولمحها وعظامها.»**(۱)

ژباړه: کله چې د نطفې له وخت نه ۴۲ شپې (شپږ اوونۍ) تېرې شي؛ نو الله تعالی يوه پرښته (ملايکه) ورلېږي؛ ترڅو جنين ته بڼه ورکړي او د هغه غوږونه، سترګې، پوست، عضلات او هډوکي جوړ کړي.

پوهان هم دا تاييدوي چې تر ۴۲مې ورځې پورې د انسان جنين د ډېرو ژوو له جنينو سره توپير نه لري؛ خو له دې وروسته د انسان جنين ځانګړې بڼه اخلي.(۲)

ډاکټر کيت مور ليکي: «تر ۴۲مې ورځې مخکې د انسان جنين د نورو حيواناتو له جينونو څخه توپير نه لري؛ خو له دې مودې وروسته په کې توپير څرګندېږي.»(۳)

په شپږمه اوونۍ کې د جنين نرم يا غضروفي (Cartilaginous Skeleton) جوړښت پيلېږي، دا جنين ته يو نرم او اساسي جوړښت وربښي.

د څېړنو له مخې د هډوکو جوړېدنه په ټول بدن کې يو شان نه پيلېږي؛

---

۱. صحيح مسلم، کتاب القدر، ۲۶۴۵.

۲. NIH, Human Embryology and the Holy Quran Sabiha Saadat (2009).

۳. The Devolping Human Clinically oriented – Moore Pessuad and Torchia – ISBN- 978-0323611541.

بلکې دا یوه ترتیبي او مرحله واره پروسه ده، چې بالاخره په اوومه اونۍ کې د ډانچې یا اسکلیټ پراخ پرمختګ تر سترګو کېدای شي.

**ج: پر هډوکو د عضلاتو پوښ:**

ډېر ژر وروسته له هغې چې د هډوکو کارټیلج (غضروفي) بڼه جوړه شي، مایوجنیټیک حجرات چې اوس مایوپلاسټونه (د عضلاتو لومړني حجرات) ګرځېدلي دي، د لاسونو او پښو (Limbs) په مخامخ (Ventral) او شا (Dorsal) برخو کې سره راټولېږي او یو عضلاتي ساختمان جوړوي.(۱)

که څه هم دا لومړني حجرات (مایوپلاسټونه) د وده کوونکو هډوکو ترڅنګ شتون لري؛ خو هغه ځانګړی توپیر چې د عضلاتو او هډوکو د تړلو سبب کیږي، د هډوکو د سختېدنې (Ossification) له پیل وروسته صورت نیسي.(۲)

---

۱. Langman's Medical Embryology- T.W Sadler- Ch (11), Muscular System- Page: 142- 150, Pub Wolters Kluwer (2018), ISBN- 978-1-4963-8390-7.

۲. Larsen's Human Embryology- Gary C. Schoenwolf Steven, B. Bleyl, Philip R and others- ch Development of the Limbs- Page: 491- 5th ed- Pub, Elsevier (2011), ISBN-978-443-068-11-9.

## ۳. د نطفې د وتلو لومړی ځای:

الله تعالی فرمایي:

﴿فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ۝خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ۝ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ۝﴾(۱)

ژباړه: نو ودې ګوري انسان چې دی له څه شي پیدا شوی، دی پیدا شوی له تهوپ وهونکو اوبو څخه چې راوځي د شا او د سینو له هډوکو څخه.

ظاهرا دا ایتونه ښایي مغلق او مبهم ښکاره شي، همدا وجه ده چې ځینې نامسلمان وګړي دلته اعتراض لري، چې ګویا دا یوه ساینسي تېروتنه ده. (ایا واقعا نطفه له دې ځایه راوځي؟)

د دې پوښتنې ځواب د عصري علمي موندنو له لارې حیرانوونکی، روښانه او زموږ له انده لوړ دی. داسې چې د انسان د جنین د جوړېدو په لومړنیو پړاوونو کې د نارینه (Testes) او ښځینه (Ovaries) په اصل کې د شا د هډوکو (صلب) او د سینې د هډوکو د ۱۱م او ۱۲م پښتیو (Ribs) ترمنځ راڅرګندیږي. د ماشوم د زیږون له وخت څخه مخکې دا برخې نزول کوي، نارینه خپل او ښځینه خپل موقعیت ته رارسي.(۲)

---

۱. الطارق: ۵- ۷.

۲. USIM (University)- The Emergence of the semen between backbone and the ribs- Muhammad Naim Rosli and 5 others- 2023-12-23 (Oarep.Vsim.deu).

**۴. د مور د رحم تيارې:**

الله تعالی فرمايي:

﴿يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖ﴾(۱)

ژباړه: هغه الله تعالی تاسې د خپلو مېندو په خېټو کې پيدا کړي یاست، وروسته د بل ډول پيدايښت نه په دريو تيارو کې.


په دې ايت کې د ﴿ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖ﴾ يا د دريو تيارو خبره ذکر شوې، دا درې تيارې یانې؟

ساينسي هڅې توانېدلي چې روښانه يې کړي، په لاندې ډول دي:

۱. Anterior Abdominal Wall.

۲. Datura Wall.

۳. Amnion Membrane.




شکل (٦٥): په رحم کې د تيارو درې پوړونه

۱. الزمر: ٦.

پوهان وايي چې جنين په دريو تيارو کې ژوند کوي، لومړۍ تياره د خېټې د دېوال تياره، دوهمه د رحم د دېوال تياره او درېيمه د Placenta يا ملګرى هغه چې په داخل کې يې ماشوم پروت وي.(۱)

**۵. د سماعت (اورېدو) او بصيرت ليد حسونه:**

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾(۲)

ژباړه: او بېشکه موږ انسان د ګډې شوې نطفې څخه پيدا کړى او ګرځولى دى موږ هغه اورېدونکى او ليدونکى.

﴿أَمْشَاجٍ﴾ د عربي کلمې «**مشج**» جمع ده، چې مانا يې ده: مخلوط، يوځاى شوي، ګډ شوي.(۳)

د معاصر علم له مخې دا يو روښانه حقيقت دى، چې انسان د مور او پلار د جنيټکي موادو د ګډېدو له لارې پيدا کېږي.

نارينه او ښځينه تکثري حجرې سره يو ځاى کېږي او له دې اتحاد څخه لومړنۍ ژوندۍ حجره (Zygote) جوړېږي، چې وروسته جنين ته وده ورکوي.

دا ساينسي حقيقت عينا د قرآن له دې بيان سره موافق دى، چې وايي:

---

۱. Jhon Hopkins Medicine- Anatomy Fetus in Vtero- www.hopkins medicine.org.

- Fetal Membranes: Structure and function placenta- J. Menon- C. Fortunato- 2015

۲. الانسان: ۲.

۳. لسان العرب، (ابن منظور) - «المشيج: الممزوج، وامشاج، اخلاط».

تاج العروس (الزبيدي) - «نطفة امشاج اى مختلطه من ماء الرجل والمراة.»

﴿نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ﴾ یا په بل عبارت قرآن کریم زایګوټ ته ۱۴نیمې پیړۍ دمخه اشاره کړې او په نطفه امشاج یې نومولې.

خو په دې ایت کې یوې بلې زړه راښکونکې مسالې ته نغوته شوې او هغه دا چې ماشوم د مور په رحم کې لومړی د اورېدو یا سماعت او بیا د لیدو یا بصیرت حس ترلاسه کوي.

د وروستیو طبي څېړنو او معلوماتو له مخې د مور په رحم کې د جنین د یادو حسونو د ودې لنډه شرحه په لاندې ډول ده:

**۱. د اورېدو حس:**

۱۸مه اوونۍ: د جنین غوږونه جوړېږي او د غوږ داخلي برخې وده کوي.

۲۲مه ۲۴مه اوونۍ: جنین د مور په رحم کې د غږونو پر وړاندې غبرګون ښیي، که څه هم دا د ټیټې فریکونسۍ لرونکي غږونه وي.

۲۵مه ۲٦مه اوونۍ: جنین د مور اواز، د زړه درزا او شاوخوا نږدې غږونه اورېدلای شي.(۱)

**۲. د لیدو حس:**

۲۷مه اوونۍ: جنین خپلې سترګې خلاصوي.

۳۰مه اوونۍ: دا وړتیا ترلاسه کوي؛ ترڅو سترګې خلاصې وساتي او روښنایي درک کړي.

۳۳مه اوونۍ: د سترګې توره برخه (Pupil) کولای شي د رڼا شدت ته عکس العمل وښیي.(۲)

---

۱. Health line – when can a fetus hear? Jessicas Timmons – January-5-2028, .https://healthline.com

۲. Medical News Today – What and when can a futs hear? Amanda Barrell – .February-15-2019

د دغه ایمبریولوژیکي کشف پر بنسټ یو وخت یوه جالبه تجربه هم ترسره شوه.

یو نوی زیږېدلی ماشوم چې مور یې ټایپسټه Typist وه، له نهو داسې ماشومانو سره یو ځای کړ، چې میندې یې ټایپسټې نه وې، دغو لسو ماشومانو ته په یو وخت د Typewritter غږ چالان کړل شو، په دې سره ټول ماشومان وویرېدل او ژړا یې پیل کړل، پرته له هغه یو چې مور یې ټایپسټه وه؛ ځکه د ټایپسټې ماشوم د Typewritter له اواز سره د مور په رحم کې اشنا وو.(۱)

د پیټر هیپر (Peter Hepper) په نوم یو څېړونکی وایي چې جنین کولای شي ځانګړي غږونه واوري او یاد یې کړي، همدا راز هغه ماشومان چې د مور په رحم کې کومه ځانګړې موسیقي یا غږ واوري، معمولا له زیږېدو وروسته هم ورته عکس العمل ښکاره کوي.(۲)

د پورتنیو توضیحاتو له مخې جوتېږي چې الله تعالی په قرآن کریم کې د انسان د جنین د تخلیق او تکامل یو ژور او تفصیلي بیان کړی دی، قرآن د ودې هر پړاو په خورا دقیقه توګه بیان کړی، داسې چې هره کلمه د یو ځانګړي پړاو ځانګړتیا او د هغه د بڼې او فزیولوژیکي حالت څرګندوي او بل دا چې دا پړاوونه په هماغه ترتیب سره بیان شوي، څنګه چې ساینس د الکتروني مایکروسکوپ په سترګو تر سترګو کړي.

---

۱. Dr. Zakir Naik- Quran and Embbryology Part-4 (Youtube).

۲. Taylor and Francis – An Examination of Fetal Learning before and after birth- Petter G. Hepper- Page: 95- 107, 13-Nov-2012, https://tandfonline.com.

# لسم څپرکی
# قرآن او د حشراتو پوهنه

میاشی کوچنی موجود؛ خو بې مثاله مخلوق

د شاتو مچۍ

د مېږیانو نړۍ

*لسم څپرکی*

# قرآن او د حشراتو پوهنه

**میاشی کوچنی موجود؛ خو بې مثاله مخلوق:**

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَنْ يَضْرِبَ مَثَلًا مَا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ ۝﴾(۱)

ژباړه: بېشکه الله تعالی په دې کې حيا نه کوي چې د کوم میاشي یا ترې د پورته شي مثال بیان کړي؛ نو هغه څوک چې ایمان لري، پوهېږي چې

---

۱. البقرة: ۲٦.

دا د الله تعالی له لورې یو حقیقت دی او هغه څوک چې کفر کوي؛ نو وايي چې الله تعالی په دې مثال سره څه غوښتي دي؟ الله تعالی په دې سره ډېر بې لارې کوي او ډېرو ته سمه لار ښيي او نه بې لاري کوي په دې سره مګر فاسقان.

په قرآن کریم کې د میاشي سربېره د نورو کوچنیو مخلوقاتو مثالونه هم راغلي:

کفارو به پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ویل چې ستا رب د دومره عظمت او بزرګۍ سره – سره ولې د دومره کوچنیو او ناڅیزو مخلوقاتو مثالونه بیانوي؟[۱]

الله تعالی یې په ځواب کې وفرمایل چې بېشکه الله تعالی هیڅ شرم نه کوي، چې د میاشي او یا هم له ده څخه د پورته کوم څیز مثال بیان کړي.

په اصل کې مشرکینو دا انګېرله چې دا مثالونه د الله تعالی د علم او عظمت په کمښت دلالت کوي؛ مګر خبره داسې نه ده، اصلاً برعکس ده، یانې که موږ د قرآن کریم په دې او ورته نورو ایتونو کې فکر او ترڅنګ یې د میاشو او یاد کړل شویو مخلوقاتو ژوند مطالعه کړو، پوه به شو چې د رحمن ذات عظمت څومره لوړ او علم یې څومره پراخه دی.

هغه مخلوق چې پخوا ناڅیزه او معمولي ګڼل کېده، په حقیقت کې یو له پېچلو او بې سارو مخلوقاتو دی؛ څکه ځیني داسې کمالات لري، چې د انسان په شمول نور ستر مخلوقات هم ترې نه دي برخمن.

د میاشو په هکله چې معاصر ساینس کوم څه موندلي په لنډ ډول یې را اخلو.

---

۱. Quran.com – Asbab Al Nazul.

۱. کله مو په دې اړه فکر کړی، چې میاشی ولې په خورا چټکۍ سره عکس العمل ښیي؟
د دې راز علت په دې کې دی، چې میاشی دوې مرکبې سترګې لري، هره سترګه یې له سلو کوچنیو عدسیو جوړه ده، چې د سترګې شاوخوا د انحنا په بڼه ترتیب شوي.



شکل (٦٦): د میاشي سترګې


هره عدسیه د یوې جلا زاویې څخه تصویر اخلي او دماغ یې په چټکۍ سره پروسس کوي، همدا وجه ده چې میاشی هر وخت پرته له دې چې ځان تاو کړي، نږدې ټول پېښېدونکي حالات ویني.
فزیک پوهانو د دې حیرانوونکي سیستم په تړاو د پام وړ لېوالتیا څرګنده کړې او په دې هڅه کې دي چې دا تخنیک تقلید کړي، ترڅو خپلسري موټرونه، بې پیلوټه الوتکې او ژغورونکې کمرې هم دا ډول ځانګړنه خپله او د امن او خوندیتوب فضا لا پسې غښتلې کړي.[1]
۲. میاشي د کاربن ډای اکسایډ سنسرونه (حس کوونکي) لري او په خورا دقت سره یې کاروي؛ ترڅو په لرې واټن کې هم زموږ تنفس په سره

۱. Georgeiv, G – Visual System of Mosquitoes: Structure and Function, The Journal of Insect Physiology, Page: 45-50 (2017).

اسانۍ پیدا کړي.(۱)

۳. الله تعالی میاشو ته دا قدرت وربښلی، چې دوی زموږ موقعیت زموږ د تودوخې او حرارت له مخې معلوموي، یانې څه وخت چې میاشي زموږ خونې ته لار ومومي، زموږ د بدن تودوخه درک کوي او په دې پوهېږي چې دلته یو څوک شته؛ ځکه خو موږ په توره تیاره کې هم له دوی نه ورکېږو، د ساینس پوهانو په وینا، دې ته د میاشو د رادار سیستم ویل کېږي.

۴. میاشي د وینې څښلو لپاره ٦ بېلابېلې لڅکې یا ستنې کاروي، هره یوه یې جلا – جلا دنده لري، د میاشو دغه طرز او طریقه خورا پرمختللې ده. د شپږو ستنو له جملې یې یوه Hypopharynx نومېږي، دا ستنه د انستیزۍ دنده پر غاړه لري، یانې میاشی د دې ستنې په وسیله د انسان دردي اخذې د لنډ مهال لپاره بې حسه کوي، ترڅو انسان د ده په فعالیت پوه نه شي، همدا وجه ده چې کله موږ د درد احساس وکړو، وینو چې میاشي خپلې پښې سپکې کړي او په تېښته بریالی شوی وي.




شکل (٦٧): د میاشي بېلابېلې لڅکې

۱. Mosquitoes Use Smell to See their Hosts Caltech – 2015-July-16.

دوې نورې لځکې پوستکی څیرې کوي او هم مهال یې خلاص یا پرانیستی نیسي؛ ترڅو دوې پلټونکي لځکې د پوستکي لاندې رګ ومومي، کله چې یې رګ پیدا کړ؛ نو شپږمه لځکه یو ډول ځانګړې لاړې (Saliva) د دې لپاره خوشې کوي؛ ترڅو وینه له لخته کېدو وساتي او په اسانۍ سره تېره کړل شي؛ څکه د میاشي مرۍ باریکه او د انسان وینه غلیظه ده.(۱)

په ذکر شوي ایت کې یوې بلې په زړه پورې او له حکمت ډکې خبرې ته هم اشاره شوې ده. الله تعالی فرمایلي: ژباړه «او هغه څه چې د ده څخه پورته دي» د عربي دا عبارت ﴿فَمَا فَوْقَهَا﴾ دوې ماناوې لرلی شي:

۱. په فزیکي توګه پورته والی.

۲. په اندازې کې پورته والی.

که د اندازې په لحاظ پورته والي ته راشو، اړتیا نه لرو څو طبعیت ته ډېر ژور وګورو؛ څکه پوهېږو چې میاشی د کایناتو د عظمت په وړاندې هیڅ دی؛ خو که په فزیکي لوړوالي غور وکړو؛ نو ساینس د خپلو څېړنو پر مټ یو څه جالب راښودلی شي، څېړنو په ډاګه کړې چې د میاشي د بدن په پورتنۍ برخه کې یو ډول کوچنی مخلوق (پرازیټ) ژوند کوي، په انګلیسي کې ورته (Water Mites) وایي او علمي نوم یې Hydrachnidia دی.

---

۱. Muller, H.M, and Seitz, H.M. – Functional Morphology of the Mouth Parts of Hematophagous insects, In Advances in insect physiology, Vol: 25, Page: 201-285 (1995).

د میاشي پوهنې یا (Culcidiology) د ژورو څېړنو له امله پوهانو دا هم په ډاګه کړې چې کوم میاشي موږ او نور حیوانات چیچي له ښځینه جنس دي، دې خبرې ته قرآن کریم هم نغوته کړې، داسې چې د میاشي لپاره یې د «بعوضة» کلمه کارولې، چې اطلاق یې پر مؤنث جنس کیږي. اوس په دې فکر وکړئ، چې له میاشو څخه د یوه سیستم په نقل او کاپي کولو کې موږ کلونو وخت، ژورو څېړنو او مسلکي کاري ټیم ته اړتیا لرو، حال دا چې دا کوچنۍ مخلوق په خپل ذات کې دا ټولې ځانګړتیاوې لري.(۱)

ایا اوس هم باید معمولي وګڼل شي؟

## د شاتو مچۍ

که کله مو د شاتو مچیو صندقونه (پېټۍ) له نږدې لیدلي وي، حتمن به د دوی د حجرو (سوریو) شپږ ضلعي بڼې ته هم متوجه شوي یاست، خو ایا په دې مو فکر کړئ، چې باوجود د ګڼو هندسي اشکالو مچۍ ولې خپلې حجرې په شپږ ضلعي (Hexagon) بڼه جوړوي؟

د ریاضیاتو ماهرین د دې پوښتنې د حل په لټه کې یوې حیرانوونکې پایلې ته ورسېدل، دوی وویل چې شپږ ضلعي بڼه د یوې ټاکلې سیمې څخه د اعظمي ګټې اخیستنې لپاره تر ټولو مناسب هندسي شکل دی،

---

۱. NIH – A Critical Review of All Known Published Records for water mites T.W Simmons – 2016 July, Pumed.ncbi.nlm.nih.gov.

بل هیڅ شکل په دې کچه سم او منظم سره نه نښلي، چې له یوې خوا زیاته کارېدونکې سیمه برابره کړي او له بلې خوا د موم په کم مصرف د مچیو حجرې جوړې کړي.

که ځیر شو اصلا دوی بله چاره نه لري، یانې که تاسې هم هڅه وکړئ، چې د یوه سپین کاغذ پرمخ پنځه ضلعي Pentagon شکلونه او یا دایرې سره ونښلوئ، وبه وینئ چې یو منظم ترتیب نه رامنځته کوي او ترمنځ یې تشې پاتې کیږي.

خو که د داسې اشکالو په لټه کې شئ، چې په بشپړ ډول سره ونښلي او هیڅ تشه پرېنږدي؛ نو درې انتخابونه لرو: مثلث، مربع او شپږ ضلعي.

پوښتنه دا ده چې مچۍ ولې د ددې درېیو منظمو اشکالو له منځه شپږ ضلعي بڼه غوره کړې؟

د مچیو دا انتخاب رښتیا هم په لوړ کمال او ژور حکمت ولاړ دی؛ ځکه د مثلث په بڼه د حجرې جوړښت د موم زیات مصرف ته اړتیا لري، مربع ګانې یو څه ښې دي؛ خو د شپږ ضلعي بڼه نه یواځې لږ مقدار موم ته اړتیا لري؛ بلکې د شاتو د ذخیرې لپاره تر ټولو غوره ظرفیت هم لري.

په همدې بنسټ، نن ورځ په انجینرۍ او ودانیزو چارو کې هم د شپږ ضلعي بڼې په پراخه کچه کارول کیږي؛ ځکه د لږو موادو په مصرف د پراخې ساحې د پوښښ ظرفیت لري.[۱]

---

۱. En.wikipidea.org.

د مچيو پر دې فوق العاده مهارت تفکر کول موږ دې پايلې ته رسوي، چې د دې مخلوق تر شا يو لوی ځواک شتون لري، هغه ځواک چې دې مخلوق ته د خپلو کړنو رهنمايي کوي.

تکامل پلوي بيا د دې مهارت اصل فطرت پورې اړوند ګڼي؛ خو که فرض کړو چې يوه فطري غريضه د دوی په چارو کې ښکېله ده او د دوی د کارونو د همغږۍ او سمون لپاره دا قانون په ټولو مچيو يو شان پلې کېږي، سره له دې چې دوی يو له بل څخه خبر هم نه لري؛ نو دلته بيا هم د يو ستر حکمت حاکميت ته اشاره کېږي، يا په ساده اصطلاح د دوی خالق دوی ته دا الهام ښيي، چې څه شی بايد ترسره کړي.

لکه څه ډول چې الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي:

﴿وَاَوۡحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحۡلِ اَنِ اتَّخِذِىۡ مِنَ الۡجِبَالِ بُيُوۡتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُوۡنَ۝ ثُمَّ كُلِىۡ مِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسۡلُكِىۡ سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ؕ يَخۡرُجُ مِنۡۢ بُطُوۡنِهَا شَرَابٌ مُّخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهٗ فِيۡهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ۝﴾[۱]

ژباړه: او ستا رب د شاتو مچيو ته په زړه کې واچوله چې په غرونو کې کورونه جوړ کړه او په ونو کې او په هغو ځايونو کې چې خلک يې لوړ جوړوي.

---

۱. النحل: ٦٨ - ٦٩.

سربېره پر دې، پخوا خلکو باور درلود چې کارګرې مچۍ یانې هغه چې شیره راټولوي او شات جوړوي، د نارینه له جنس څخه دي او د خپلو چارو په اړه پاچا ته راپور ورکوي.

مګر د اوسنیو څېړنو په رڼا کې پوهان وايي، چې کارګرې مچۍ نارینه نه؛ بلکې ښځینه دي او د پاچا نه؛ بلکې د ملکې تر امر لاندې کار کوي.(۱)

دا حقیقت چې علمي نړۍ ته په دې وروستیو کې راڅرګند شو، قرآن کریم ورته په هماغه لرغوني عصر کې اشاره کړې ده، داسې چې په مذکورو ایتونو کې د مچۍ په هکله د «کلي، فاسلکي، بطونها، او اتخذي» صیغې کارول شوي دي، چې مؤنث جنس پورې اړه لري، حال دا چې د دغو کلماتو مذکرې صیغې عبارت دي له «کل، فاسلک، بطونهم، اتخذ».

باید ووایم چې په دې کې د هغو خلکو لپاره یوه روښانه ده، چې د تفکر او تعقل څخه کار اخلي؛ ځکه د محمد صلی الله علیه وسلم په زمانه کې داسې هیڅ اسباب نه ول، چې د مچیو د جنسیت او چارو ترمنځ تفکیک وکړي؛ ځکه خو قرآن کریم فرمایي: ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ

---

۱. Can Female Rule the hive? The Controvery over honey bees gender roles in British beekeeping texts of the 16th – 18th centuries – Fredrick R.prete Journal of the history of biology (JSTOR) www.JSTOR.org.

يَتَفَكَّرُونَ﴾(۱)

يوه بله مساله چې په دغو ايتونو کې يې يادونه شوې، هغه د شاتو شفا ښوونکی اثر دی.

طبي څېړونکي وايي چې شات د خپل ځانګړي ترکيب له مخې د انتي بکتريال، انتي فنګل، انتي اکسيدانت او التهاب ضد خاصيتونه لري، چې د انسان د بدن روغتيا او سلامتيا لپاره خورا اړين بلل کېږي.

د ډاکترانو پر وينا شات د هضمي سيستم او دماغي فعاليت په ښه کېدو او د وينې په تصفيه کې رغنده رول لري، له دومره خوږلښت سره – سره شات نه د شکر ناروغي پيدا کوي او نه ورته زيان رسوي، دا ځکه چې په شاتو کې شامله شکره د ګلوکوز او فرکتوز ترکيب دی، چې بدن يې د پروسس شويو بورو په پرتله په ډېره اسانی سره جذبوي.

همدا راز؛ د ويټامينونو او منرالونو له پلوه هم يوه بډايه غذايي سرچينه ده، چې د معافيت په لوړولو کې د پام وړ مرسته کوي.

روغتيا پالانو يې ګڼ شمېر نورې ګټې هم په ګوته کړي؛ خو دلته به همدومره اکتفا وکړي.

په دې وروستيو کې د جنيټيکي څېړنو له لارې پوهانو دا هم موندلې چې د شاتو مچی ۱٦ جوړې کروموزومونه لري(۲) که راشو قرآن کريم ته،

۱. النحل: ٦٩.

۲. Priciples of Honeybees Genetics, Gleen Apiaries- Cornell University- August 2002.

هغه ايتونه چې د شاتو مچيو يادونه په کې راغلي، د سورت النحل ايتونه دي، يانې د مچۍ سورت چې په معجزانه ډول په خپل ترتيب سره ۱٦ نمبر لري.

## د مېږيانو نړۍ

ښايي د قرآن کريم د تلاوت پرمهال به د يوه مېږي خبرو ته متوجه شوي ياست. الله تعالی فرمايي:

﴿وَحُشِرَ لِسُلَيۡمٰنَ جُنُوۡدُهٗ مِنَ الۡجِنِّ وَالۡاِنۡسِ وَالطَّيۡرِ فَهُمۡ يُوۡزَعُوۡنَ۝ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَتَوۡا عَلٰى وَادِ النَّمۡلِۙ قَالَتۡ نَمۡلَةٌ يّٰۤاَيُّهَا النَّمۡلُ ادۡخُلُوۡا مَسٰكِنَكُمۡۚ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمٰنُ وَجُنُوۡدُهٗۙ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ۝﴾(۱)

ژباړه: د سليمان عليه السلام لپاره د پيريانو، انسانانو او مرغانو لښکرې راغونډې کړای شوې او هغوی ترتيب شوې وو، بالاخره د مېږيانو يوې درې ته ورسېدل، يوه مېږي وويل: ای مېږيانو، خپلو استوګنځيو (غارونو) ته ننوځئ، هسې نه چې سليمان او د هغه لښکر مو چيت کړي، په داسې حال کې چې دوی به خبر هم نه وي.

۱. النمل: ۱۷ - ۱۸.



شکل (٦٨): مېږی

کله چې دا مبارک ایت د مشرکینو تر غوږونو ورسېد؛ نو په ملنډو یې بنا وکړه او ویل به یې چې دا د زړو کتابونو په څېر افسانوي کیسې بیانوي؛ ځکه دوی دا انګېرله چې مېږیان کله خبرې کولای شي؛ خو نن ورځ د ساینس له پرمختګ سره پوهانو دا مالومه کړې، چې په حیواناتو او حشراتو کې یواځینی مخلوق مېږی دی، چې د ژوند طرز، ډول، روش او انداز یې له انسانانو سره ډېر ورته والی لري.

څېړونکي نه یواځې دا وایي چې مېږیان خبرې کولای شي؛ بلکې داسې ځانګړتیاوې یې هم پېژندل شوي، چې د مېږیانو نړۍ یې له نورو حیواناتو څخه متفاوته او له انسانانو سره مشابه ښودلې.

که په ساده ټکو یې ووایم، موږ انسانان له مېږیانو سره د ژوند په چارو کې ډېر په زړه پورې مشترکات لرو، له جملې یې ځینې په لاندې ډول دي:

۱. مېږیان د انسانانو په څېر خپل مړي ښخوي.

۲. دوی د کار وېش لپاره پرمختللی سیستم لري.[۱]

۳. دوی د خبرو او لیدنې (ملاقات) لپاره وختونه ټاکي.

۴. په خپل منځ کې د اړیکو پرمختللی مېتود او طرز لري.

۵. د توکو او سوداګانو د تبادلې لپاره منظم بازار لري.[۲]

٦. دا چې په ژمي کې ورته د غلو او دانو پیدا کول ستونزمن وي؛ نو مخکې له ژمي یې غم خوري او ځان ته په کافي اندازه غلې او دانې سپما کوي؛ البته که چېرې د کومې دانې د زرغونېدو احتمال وي، دوی یې په درې ځایه ماتوي.[۳]

پوهانو په دې وروستیو کې مالومه کړې چې مېږیان د دنیا دانه په څلور ځایه ماتوي، یانې په څلورو برخو یې وېشي؛ ځکه د دنیا دانه یو داسې تخم دی، که چېرې په درې برخو هم ووېشل شي، بیا هم د زرغونېدو احتمال لري.

۷. په دوی کې لوی او د غښتلي بدن لرونکي مېږي، په پوځي یا جنګي ډلګیو کې شاملېږي، مېږیان قبیلوي ژوند لري؛ نو وخت ناوخت یې ترمنځ جګړې پېښېږي.[٤]

---

۱. Oster, G.F. and Wilson, E.O Caste and Ecology in the Social Insects, 1978 www.nature.com.

۲. Holldloer and Wilson – Journey to the ants 1994, Current biology.com.

۳. Crist , T.O Macmahan, J.A "Foraging Patterns of pogonomyrmex ants in desserts grasslands", Ecological Entomology- 1991.

٤. Franks, N.R – "Army Ants: a collective intelligence, American Scientist (989- JSTOR).



شکل (٦٩): د مېږيانو خبرې اترې

۸. کله چې د دوی غلې او دانې د باران له امله لمدې شي؛ نو په يو مناسب ځای کې يې لمر ته اچوي، ترڅو وچې شي او بېرته يې ذخيروي ځايونو ته يوسي.

ايډورډ اوزبون ويلسن (Edward Osbon Wilson) چې ډېر خلک يې د I.O Wilson په نوم هم پېژني، يو امريکايي بيولوجيسټ طبعيت پال او ليکوال دی.

د هغه ځانګړې بيولوژيکي څانګه ميرميکولوژي (Mermecology) يا د مېږيانو مطالعه ده، په څه کې چې هغه د نړۍ مخکښ عالم بلل کېږي.

د ۲۰۰۹م کال د جون په ۱۴مه ښاغلي ويلسن د نړۍ ساينس فستيوال په يوې مرکې کې د مېږيانو د اړيکو په اړه خبرې وکړې او دا يې تاييد کړه چې مېږيان د خبرو کولو يو ډېر پېچلی او پرمختللی سيستم لري.

واقعا، کله چې قرآن کريم د مېږيانو په هکله ذکر کوي؛ نو دا خبرې تقريبا په افسانوي کيسو کې مناسبې برېښي او داسې څه نه دي، چې په الهي کتاب کې دې تر سترګو شي؛ خو په ياد ولرئ دا ډول ايتونه هغه باورونه پياوړي کوي، چې له مخې يې د قرآن کريم څخه د تغير او

تحریف صفات نفی کیږي.

ډېر امکان شته چې په تېرو نسلونو کې خلکو دا نه شوای درک کولای، چې مېږیان دې هم په داسې پرمختللي ډول خبرې وکولای شي او نه هم دا چې انسان به یو وخت د دوی په اړیکو پوه شي.

حتی تر نن ورځې پورې خلک د دې ایت څخه د قرآن کریم د بې باورۍ لپاره کار اخلي؛ خو د دې ټولو مخالفتونو او مسخرو سره – سره نن ورځ د علمي پرمختګونو او د مېږیانو د اړیکو د پوهېدو له امله دغه خلک کولای شي خپله وروستۍ خندا وکړي.

# يوولسم څپرکی

# قرآن او اتومي فزيک

اتوم (ذرة) يو نا اشنا جوړښت

له ذرې د کوچني شي وجود

پايله

***يوولسم څپرکی***

# قرآن او اتومي فزيک

**اتوم (ذرة) يو نا اشنا جوړښت:**

اتوم چې په عربي کې ورته ذرة ويل کېږي، د مادې جوړښتيز او ساختماني واحد دی، يانې اوبه هواوې، غرونه، ژوي، نباتات، انسانان او د نړۍ ټول هغه څيزونه چې کتله ولري او د فضا برخه اشغال کړي، له ډېرو کوچنيو ذراتو جوړ شوي، چې اتومونه بلل کېږي.

اتومونه ډېر کوچني دي، دومره کوچني چې حتی د پرمختلليو مايکروسکوپونو په واسطه يې هم مشاهده ستونزمنه ده.

د پوهانو په وينا د انسان يو تار وېښته هم د اتوم په پرتله په

میلیونونــو ځلــې لــوی دی، قطــر یـــې کــابو (0.1-0,5Nm) ښــودل شوی.

د دې مفهـوم د روښـانتیا او ښــه درک لپـاره کـه د انګـور یـوه دانـه د ځمکـې سیارې هـومره فـرض کـړو؛ نـو یـو اتـوم یـې پـه پرتلـه دومـره دی؛ لکه په همدې سیاره کې د انګور یوه دانه.

واقعـا ډېـر ووړ جوړښــت لــري؛ خـو پــه همــدې ووړ جوړښــت کــې یو عجیبه او پېچلی سیستم کار کوي.

د هــر اتــوم پــه مرکــز کــې هســته موجــوده ده، چــې نیوترونونــه او پروتونونه لري.


شــاو خــوا تــه یــې پــه ټــاکلو فاصــلو او مــدارونو کــې الکترونونــه د حرکت حال لري.

د هستې قطر بیـا د اتـوم پـه پرتلـه ۱۰۰۰۰ ځلـې کـوچنی دی، دا ځـل کـه اتـوم د کرکـټ لوبغـالی فـرض کـړو؛ نـو هسـته یـې پـه پرتلـه د یـوه تـوپ هـومره ده، پـاتې برخـې تـه یـې خـالي فضـا (Empty Space) ویل کېږي.

خـو جالبـه بیــا دا ده چــې د اتــوم نــږدې ۹ ، ۹۹ ســلنه کتلــه هســته تشـکیلوي، تقریبـا ټـول کثافـت یــې هــم پـه هسـته کــې مـتراکم دی، پــر همــدې بنســټ هســته یــو غښــتلی ځــواک لــري، چــې هســتوي ځـواک (Nucleur Power) ورتــه ویــل کېــږي، همــدا ځـواک یــو لــه هغــو عــاملونو دی چــې الکترونونــه تــرې متــاثره دي او نــه شي

کولای له خپلو مدارونو بهر ووځي.

د ذراتــو فزيــک پوهــان (Particle Physicist) پــه خپلــو تــرسره شــويو څېړنــو کــې دې تــه رسېدلي دي، چــې د اتــوم فرعــي برخــې يــانې نيوترونونــه او پروتونونــه هــم د کــوارک Quark پــه نامــه لــه خورا کوچنيو فرعي ذراتو جوړ شوي دي.(۱)




شکل (۷۱): اتوم، اجزاء او قطرونه يې

د کــوارک انــدازه نــو بيــا ډېــره حيرانــوونکې ده، پــه دې چــې د يــوه مـلي مـتر زر ټريليـونمې برخـې تـه کـوارک ويـل کېـږي، يـا پـه سـاده عبــارت کــه يــو مــلي مــتر پــه زر ټريليونــو (کوادريليــون) برخــو ووېشو؛ نو يوې برخې ته يې کوارک ويل کېږي.(۲)

دا اندازه د رياضي په ژبه داسې ليکلی شو:

د اعشار په طريقه: 0,000000000000000.1mm

---

۱. J.I Friedman, H.W Kendall and R.E Taylar Nobel Prize Winners, .https://www.nobelprize.org/prizes/physics/1990/summary

۲. Particle data group (PDG), https://pdg.lbl.gov.

د طاقت په طريقه: $10^{-15}$mm

د محاسباتو له مخې اتوم په في ثانيه کې 2200km سرعت سره حرکت کوي، که څه هم دا چټکتيا د نور د سرعت له يوې سلنې څخه هم کمه ده، ولې بيا هم کافي زياته ده، چې کولای شي يواځې په ۱۸ ثانيو کې د ځمکې د محيط گرد چاپېره يو دوران بشپړ کړي.(۱)

واقعا دومره سرعت په اتومي مقياس کې د فکر او تخيل له نطاقه لرې خبره ده؛ خو باوجود د دې هم په کې هيڅ گډوډي او بې نظمي نه رامنځته کيږي.

د يوې شيبې لپاره د کاينات په هکله فکر وکړئ؛ ځکه ټول کاينات د اتومونو له يوه پېچلي نظام څخه جوړ شوی، که خدای مه کړه په کاينات کې د يو جسم د اتومونو په اندازه د هستې په کتلې د الکترونونو په سرعت او يا هم د هستې او الکترونونو ترمنځ په فاصله کې کوم کوچنی بدلون رامنځته شي؛ نو هماغه جسم به د خپلې جوړښتيزې بې ثباتۍ او گډوډۍ له امله وچوي.

هغه که هرڅه وي؛ لوی وي يا کوچنی، حتی که همدا کتاب هم وي، چې تاسې يې دا مهال لولئ.

---

۱. Halliday and Resnick- Fundamentals of Physics – 1960s.

نو بنا پر دې؛ دا زړه راښکونکی نظام يو مدبر او حکيم طراح ته اړتيا لري؛ ترڅو د نظم او ثبات ساتلو لپاره په کې بېلا بېل قوانين وضع کړي، هغه قوانين چې هيڅکله د تصادف له لارې نه شي رامنځته کېدای.

وجه دا ده چې الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ﴾(۱)

ژباړه: بېشکه موږ هرڅه په يو ټاکلي انداز (اندازه - تقدير يا ټاکل شوي نظام) سره پيدا کړي دي.

۱. القمر: ۴۹.

# له ذرې د کوچني شي وجود

په لرغونو وختونو کې د اتومیزم Atomism په نوم نظریه چې د یوناني پوهانو په علمي بصیرت ولاړه وه، په ټوله علمي نړۍ یې پراخ نفوذ درلود. د دې تیورۍ له مخې گومان کېده چې اتوم یا ذره د مادې وروستۍ او کوچنۍ برخه ده او نور د تجزیې وړ نه ده.([1])

په خپله اټوم Atom یوه مرکبه کلمه ده چې A په مانا د نه او Tom په مانا د وېشلو دی، یانې نه وېشل کېدونکې.

همدا مهال عربو هم ورته باور درلود، دوی هم ذره د مادې وروستۍ او کوچنۍ برخه گڼله، د منطق په اصطلاحاتو کې یې ورته (جزء لا یتجزی) ویلې.


لنډه دا چې دې مفکورې تر ۱۹مې پېړۍ پورې د بشریت په اندونو کې رسوخ کړی وو؛ خو د اتومونو په تړاو پرمختللیو څېړنو دا باور رد کړ، هغه داسې چې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې پوهان په دې بریالي شول چې اتوم په دوه برخو ووېشي.

په کال ۱۸۹۷م کې د تامسن په نوم برتانوي عالم الکترون کشف کړ، وروسته په کال ۱۹۱۱م کې د راتر فورډ په وسیله هسته هم کشف شوه،

---

۱. The Quran and Modern Science, Coopatible incompatible – Zakir Naik, Page:25.

دغو اکتشافاتو د اتومي جوړښت په تړاو یو نوی باب پرانیست، هغه باب چې د اتومیزم نظریې په رد ولاړ وو.




شکل (۷۰): اتوم او اجزاوې یې

د هستې له کشف ۹ کاله وروسته پوهان بر-یالي شول چې په دوه برخو یې هم ووېشي، یوې ته یې نیوترون وویل او بلې ته پروتون.

دا مهال داسې انګېرل کېده چې بشر د مادې د جوړښت راز ته نږدې شوی دی؛ خو د زیاتو څېړنو او اکتشافاتو له مخې جوته شوه چې د ذرې تجزیه او وېش لا هم دوام لري، په دې لړ کې د پروتون او نیوترون جوړوونکې ذرې (کوارکونه) هم کشف شول، وروسته په تدریج سره د نیون میون، سګما او کاون په نوم مختلفې ذرې هم کشف شوې.[1]

همدا وجه ده چې لا هم څوک کره پرېکړه نه شي کولای؛ ترڅو د مادې او یا هم په خپله د اتوم وروستۍ برخه په ډاګه کړي.

۱. د هستوي فزیک اساسات، دوکتور رحمت الله تنها، مخ ۹۴.

لېکن يو څه ډېر واضح دي او هغه دا چې د حقيقت د پوهانو په هلو ځلو تقريبا دوه پېړۍ دمخه رابرسېره شو؛ مګر قرآن کريم ورته۱۴نيمې پېړۍ دمخه نغوته کړې.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِنْ ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ۝﴾[1]

ژباړه: او کافران وايي چې موږ ته به د قيامت ورځ رانه شي، ورته ووايه؛ ولې نه، په رب مې دې قسم وي چې په غيبو عالم دی، خامخا به درته راشي له هغه نه په اسمان او ځمکه کې د يوې ذرې هومره څه نه پټېږي؛ نه هم تر دې کوچني او نه لوی.

په دې مبارک ايت کې الله تعالی فرمايي چې د هغه له علم او پوهې څخه نه د ذرې په اندازه پټ څه شته؛ نه له دې کوچني او نه لوی.

د ذرې اړوند د «اصغر» کلمه صراحتا په دې دلالت کوي، چې دلته الله تعالی له ذرې څخه کوچنيو اجزاوو ته اشاره کړې، يا په بل عبارت الله تعالی دې ته نغوته کړې، چې ذره د مادې کوچنۍ او وروستۍ برخه نه ده؛ بلکې تر دې هم کوچنۍ اجزاوې شته.

۱. سبا: ۳.

اوس تاسې ویلای شئ، چې دا هرڅه د الهي مصدر پرته بل څه کېدای شي؟

رښتیا دا دي، چې دا هر څه د قرآن کریم الهي ماهیت په ډاګه کوي؛ ځکه د ۱۹مې پېړۍ تر وروستیو پورې د ټول بشر اتفاقي فکر دا وو چې ذره یا اتوم نه وېشل کېدونکی دی.

# پایلـه

په دې څېړنیز اثر کې موږ د قرآن کریم او عصري علم ترمنځ هغه اړیکه راو سپړله، چې نه یوازې د علم د حوزې تجسس پاروي، بلکې د وحې له عالَم سره د عقل هغه پُل هم تړي، چې د بشریت د پوښتنو ځوابونه پکې نغښتي دي.

د دې علمي سفر په اوږدو کې، موږ دا پایله ترلاسه کړه چې ساینس او قرآن، دواړه د حقیقت د موندنې لپاره اوږه په اوږه روان دي.

په دې کتاب کې مو د قرآن او ساینس ترمنځ هغه ارتباط هم څېړلی چې ډېری وخت یو د بل مخالف ګڼل شوی، خو موږ له علمي، منطقي، او تأملي دریځه وښودله چې حتی د ټکر او اختلاف کلمې په دې اړه له سره صدق نه کوي یانې Invalid دي.

بنا پر دې دا کتاب د ساینسي ـ کشفیاتو او قرآني اشاراتو ترمنځ هغه فکري او علمي مفهوم هم رابرسېره کوي، چې د تقابل پر ځای د توافق،

همغږۍ او تکامل په فضا کې استوګنه لري.

د بحثونو په لړۍ کې مو د کائناتو د پیل (Big Bang) ، د لوګي څخه د هستۍ پیدا کېدلو تر «د کائناتو د پراخوالي» پورې، د یوې داسې نظریې د تائید ننښې پیدا کړې چې قرآن یې ۱۴ نیمې پیړۍ وړاندې په لنډو خو ما نا ډکو الفاظو بیان کړی و. د جاذبې څپې، د فضـــا د حرکت، او د ستورپوهنې تر ټولو نوي بحثونه، لکه د تور سوري، پلسار ستوري، او د ســـتورو مړینـه، هر یوه لـه قرآني نکتو سره یوه حیرانوونکې همغږي ښودله.

د ځمکې د جیولوژیکي جوړښـــت، د غرونو ثبات بخښـــونکې ونډه، د اوســـپنې نزول، او حتی د ځمکې درزونو –هغه چې قرآن یې په «ذاتِ الصدع» یادوي –و ضاحت، موږ ته دا ښیي چې قرآني بیان د سطحي تعبیر تر کچې ډېر ژور او علمي اړخ لري.

د ســمندرپوهنې له پلوه، د دوو ســمندرونو ترمنځ د نه ګډېدو ســبب، د اوبو لاندې تیاره څپې، او د وچې او اوبو د تنا سب دقیقه ا شاره، دا ټول د داســې الهي علم ښــکاره نښــې دي، چې له هیڅ بشرـي کچې سره نه شي پرتله کېدای.

موږ دا هم وځېړل چې د انسان جنسیت څوک ټاکي، د مغز دندې څه دي، او د جنین وده څومره له قرآني بیان سره همغږې ده؟

همدا ډول، د فزیک په څېرکي کې، د اتوم تر ټولو ژور جزیات، او د ذروي جوړ ښت تفـصیلات د یوه دا سې الهي ادراک نـښې دي، چې د وحې له لارې انسان ته وړاندې شوي دي.

خو خپله موخه تل باید په یاد ولرو یانې نه دا د قران ازموینه وه، او نه هم متابعت، بلکې موخه دا وه: چې انســـان باید د عقل له لارې د وحې

معنا درک کړي، او د وحې له لارې د عقل منزل، ځکه نه دلته عقل محدود دی، او نه وحې اندېښمنه ده .

**قرآن او ساینس: ټکر که تفاهم؟**

د دې کتاب تر ټولو مهمه علمي او فلسفي پایله دا ده چې: قرآن او ساینس له سره په ټکر کې نه دي.

ټکر هغه وخت پېښېږي چې دوه سرچینې یو بل رد کړي. خو دلته ساینس، د خپلو تجربو او څېړنو له لارې، ورځ تر بلې هغه حقیقتونه راښیي چې قرآن یې بیان ډېر پخوا کړی. قرآن د وحې په توګه، د مطلق حقیقت سرچینه ده؛ ساینس د عقل او تجربې پر بنسټ، د همدې حقیقت د کشف هڅه ده، توپیر یوازې د لارې دی، نه د منزل.

حقیقت دادی چې د ټکر تصور هم د محدود فکر، یا ناسم تفسیر له امله پیدا شوی. ساینس د څېړنې او تجربې له لارې د حقیقت خوا ته درومي، او قرآن الهي لارښوونې د حکمت په ژبه وړاندې کوي. که چا د ټکر خبره کوله، نو یا یې ساینسي بصیرت سطحي دی، یا یې تفسیر له اصل سره سم نه دی.

هو، د توپیر خبره ډاډمنه او سمه ده، توپیر حتمن شته، وړاندې مو هم یادونه وکړه. ساینس وده کوي، قرآن وده نه کوي؛ ځکه کامل دی.

ساینس څېړي، قرآن ښیي. ساینس حیران دی، قرآن مطمئن دی.

ساینس عقل ته خطاب کوي، قرآن دواړو (عقل او روح) ته. ساینس تجربې کوي، قرآن حقیقت بیانوي یو د لټون څراغ دی، بل د لارښود اسماني رڼا.

واقعیت دادی چې موږ یوې داسې نړۍ ته نږدې کېږو چېرې چې نه

عقل ا سیر دی، او نه نوې اندېښنه گناه گڼل کیږي. بلکې نوې پو ښتنې، نوی تدبر، او نوی تحقیق د ا یمان ژورتیا ته نوې لارې پرانیزي. د هغو ساینس پوهانو اعترافات چې د قرآن د علمي ا شاراتو په باب یې کړي، متاثره شوي او یا یې ایمان راوړی، د دې حقیقت ستر سندونه دي.

**په پای کې دا ویلی شو:**

که ساینس د بشریت لپاره سترگه وي، نو قران د هغه تلپاتې مشعل رڼا ده چې لار ورښیي.

# بريښنايي ويډيويي سرچينې

1 Pain receptor

Tejasen. ;

https://youtu.be/X4ySKCvsWU8?si=rI5ueEE1NFV2WmYb

---

2 Finger prints

Mustafa Mahmood

https://youtu.be/_RFNDUcP-jQ?si=4HT8Yucxd-_Lrbhl

---

3 Dynamic space

Michelle Thaller

https://youtu.be/iUEJF058b2s?si=9IryMtcsIQvOb3eo

- NASA

- https://youtu.be/6Tg7weNEGTE?si=fsTgbfqkffO7
9Wob

-Alex Fillipenko

https://youtu.be/vU2DmqVz3ic?si=vnw23l_bFNCbAsFq.

---

5 spherical shape of the earth

Dr. Shabir Ally

https://youtu.be/hkzR_ZtQ2nA?si=6nx9RgmycoXFhP0f

- Neil deggarase Tyson

https://youtu.be/hkzR_ZtQ2nA?si=6nx9RgmycoXFhP0f

- Brian Cox
- https://youtu.be/E43-
CfukEgs?si=xttN_NFLJ1zr6vnG

---

Oceanography

Captain Jacques Cousteau :

https://youtu.be/H_4vVfGq1Hs?si=RL8AZM0yBH3SaJpS

-Tariq Alswaidan

https://youtu.be/YLFSlC7wOlc?si=VPU1Ha4I1wCStDVk

---

Geology – Mountains

Palmer

https://youtu.be/kkPvXO5q8EM?si=XPBV0jjbmpKDD3Z

C

---

Smoke and universe

Yushidi kusan

https://youtu.be/tHC5dPIcdJQ?si=blvdkEacl-swTben

- Dr. Alfred kroner

https://youtu.be/ih97Re6WVhA?si=v4RemYOfEG2dI92O

---

General

Maurice Bucaille

https://youtu.be/XaSfE1DW2-

w?si=KOA2_T9vaJKDxcMu

---

Lowest point on earth

Dr zaghlol Al naggar

https://youtu.be/VkeOzsqHk8c?si=Xq8SOfQWWDVCGe

rH

---

Iron decent

Dr. Zaghlol Al naggar

https://youtu.be/V5UE4jJ-gUY?si=1QOHM_6J8VBV10Jf

---

Ants

Edward Osborne Wilson

https://youtu.be/2JzyV-

rsT0Q?si=UsPWskOs0DMAWvRe

---

Frontal lobe

Prof. Keith L Moore

https://youtu.be/qd14NRZVcZI?si=gISUOXpXJ2Ffv75K

---

Embryology

Prof. Keith L moore

https://youtu.be/J_Dllu42eEA?si=oxSr2DyU-_lhNOtd

---

# اخځلیکونه

**عربي اړوند**

**تفسیرونه:**


- طبري، ابو جعفر محمد بن جریر. جامع البیان عن تآویل آی القران. (۹۲۳م)، دار المعرفة.
- ابن کثیر، اسماعیل بن عمر. تفسیر القران العظیم. (۱۴۱۴ هـ ق)، دار الفکر.
- رازي، فخرالدین محمد بن عمر. تفسیر الکبیر (مفاتیح الغیب). (۱۲۱۰م). دار احیاء التراث العربي.
- محمود بن عبدالله. روح المعاني. (۲۰۰۲م). دارالفکر.
- الزخیلي، وهبة. التفسیر المنیر. (۱۹۹۱م). دار الفکر.
- القرطبي، محمد بن احمد. الجامع الاحکام القران. (۱۲۷۳م) دارالکتب العلمیة.

**کتابونه، رسالې او نور:**


- امام ابو اسحاق. التعريف باسرار التكليف. (۱۹۹۷)، دار ابن عفان
- الغزالي، ابو حامد. احياء علوم الدين، (۱۹۹۳)، دار الاشاعت، کراچي. بولاق.
- دهلوي، ولي الله. الفوز الكبير فى اصول التفسير (۲۰۱۴ م). طه، لندن.
- ابن تيميه. مجموع الفتاوي. (۲۰۰۰م). مجموع الملک فهد، رياض.
- قرطبي، امام ابو عبدالله. تفسير الجامع الاحكام القران، (۱۹۰۰)، بولاق.
- الغزالي، ابو حامد. جواهر القران. (۲۰۱۴)، دار المنهاج، بيروت.
- النجار، زغلول السماء في القران. (۲۰۰۵)، دار المعرفة، قاهره.
- ابو محمد، عبد الكريم بن صالح. الفرقان فى بيان إعجاز القرآن. (۱۴۲۳ هـ / ۲۰۰۲ م). مکتبة عبن الجامعه.
- الزنداني، عبدالمجيد. بيننات الرسول و معجزاته، دارالايمان، قاهره
- ابن منظور. لسان العرب. (۱۸۸۳-۱۸۹۰)، المطبعة الكبرى الأميرية، قاهره.
- الحاج احمد، يوسف. الاعجاز العلمي فى الارض. (۲۰۰۳م)، مکتبة ابن حجر.
- الزبيدي. تاج العروس من جواهر القاموس.(۱۹۸۹)، دار العلم للملايين، بيروت.
- النجار، زغلول. بحوث في اعجاز القران.(۲۰۰۰م)، دار الحديث، قاهره.
- الحاج احمد، يوسف. الاعجاز العلمي قي البحار.(۲۰۰۳)، مکتبة ابن حجر.

## انګلیسي اړوند

**Books, Articles and others:**


- Bible. Psalm 93:1; Psalm 104:5; Chronicles–Joshua 10:13.

Bible. Genesis 1:3–5; Genesis 1:14–19 Genesis 1:11–13.

- Wetherill, G.W. Possible consequences of absence of "Jupiter" in planetary system. (1994). Astrophysics and Space Science.
- Hawking, Stephen. A Brief History of Time. (1988), Bantam Books, London.
- Davies, Paul. The Goldilocks Engima: Why is the Universe Just Right for Life?. (2006), Allen Lane, London.
- Penrose, Roger. The Road to Reality: A Complete Guide to the Laws of the Universe. (2004), Jonathan Cape, London.
- Weinberg, Steven. The first Three Minutes of The Universe. (1977), Basic Books, New York.
- Al. Mehri A.B. Scientific Truths and the Quran (2nd Edition). (2006), Birmingham.

- Naik, Dr. Zakir. Quran and Science Compatible or Incompatible. (2007), Peace Vision, India.
- Houghton, John Theodore. Global Warming: The Complete Briefing. 5th ed. (2015), Cambridge University Press, Cambridge (UK).
- Ross, Hugh. The Earth is Special. (2008), Baker Books, Grand Rapids, Michigan.
- Eddy, John A. The Sun, the Earth, and Near-Earth Space: A Guide to the Sun-Earth System. (2009), United States Government Printing Office, Washington, D.C.
- Ahrens, C. Donald. Meteorology Today: An Introduction to Weather, Climate, and the Environment. (13th ed., 2022), Cengage Learning, Boston, MA.
- Kump, Lee R., Kasting, James F., & Crane, Robert G. The Earth System. (3rd ed., 2009), Pearson Education, Boston, MA.
- Rowbotham, Samuel. Zetetic Astronomy: Earth Not a Globe. (1881), Self-published, London.
- Carpenter, William. One Hundred Proofs That the

Earth Is Not a Globe. (1885), Self-published, Baltimore.

- Zhao, W. & Morgan, W.J. (1985). "Uplift of the Tibetan Plateau: Seismic Evidence of Under thrusting of Indian Crust." Journal of Geophysical Research, 90(B4), 3776–3790.
- Press, F. & Siever, R. Earth. (4th edition, 2001), W.H. Freeman and Company, New York.
- Kratz, Klaus L., & Helmut, Hans. Nuclear Astrophysics.( 1996). Berlin, Germany: Springer-Verlag.
- Geller, Margaret J., & Huchra, John P. (1992). "The Origin of the Elements." Annual Revision, Astronomy and Astrophysics.
- Denton, Michael. Nature's Destiny.(1998), The Free Press, New York. ISBN: 978-0734237628
- Bucaille, Maurice. The Quran, the Bible and Science. Revised English edition, 1992. Seghers Publishers, New York
- Davis, Richard A. Principles of Oceanography. (1972), Addison-Wesley.

- Grass, G. Oceanography. (2005, 3rd edition), Springer.
- Afrogh, M. Reza. Fundamentals of Genetics Science in the Holy Quran. Faculty of Law and Theology, Syrahwa. Islamic Azad University, Najafabad.
- Obaid, Abdul Rahman. Hussain and others. Determination of the Fetus Gender in the Light of the Quran. Research Gate, (ASP).University of Sains Islam. Malaysia

Pross, Addy. The origin of The Life what we know, what we can Know & what we will never Know. Open Bioloygy. 1 January 2013

Miller, E.K and Cohen, JD. An integrative theory of prefrontal cortex. (2001). Annual Review of Neuroscience.

Banich, M.T. Executive Function – The search for an integrated account. Department of Psychiatry, University of Colorado Denver.

Macmillan, M. An old Kind of Fame Stories of Phineas Gage. (2000), The MIT Press. ISBN: 978-0-262-63259-1

The Layers of Your Skin. (2018), American Academy of Dermatology [AAOD].

Ibrahim, Muhammad Akhiruddin. The Miraculous Function of Human Skin. (2020). DUBAI (UAE) ISBN: 978-605-82433-8-5

Al-Ruhi, Zaynab, "Ibn Al-Nafis" The discovery of Pulmonary Circulation. (2021), Journal of Islamic Medicine.

Cera R. Lawrence. Aristotle on the Generation of Animals. (2010), Arizona State University.

Needham, Joseph. A Brief History of Embryology. (1959), Cambridge University Press.

Moore, Keith L., and T.V.N. Persaud. The Developing Human: Clinically Oriented Embryology. (1993 )5th ed. W.B. Saunders, Toronto.

Sadler, T.W. Langman's Medical Embryology. (2018), Wolters Kluwer. ISBN: 978-1-4963-8390-7

Gary C. Schoenwolf. Steven, B. Bleyl. Phillip R. and others. Larsen's Human Embryology. (2011), Elsevier. ISBN: 979-443-06811-9

Muller, H.M, and Seitz, H.M. Functional Morphology of the Mouthparts of hematophagous insects (1995) In

Advances in Insects Physiology.

Apiaries, Gleen. Principles of Honeybees Genetics. (2002), Cornell University.

Crist, T.O. Macmahan, J.A. Forgaging Patterns of Pogonomyrmex ants in dessert grassbands.(1991), Ecological Entomology.

Halliday and Resnick. Fundamentals of Physics. (1960), John Wiley & Sons, Inc. ISBN 978-0-470-46908-8.

**Internet Web Pages:**


- https://www.britanica.com
- https://www.islamweb.net
- Characteristics of Empty Space - Physicist Observe Weird Quantum Fluctuations of Empty Space – Adrian (2015) - https://www.science.org
- LIGO, Caltech. https://www.ligo.caltech.edu
- NASA Jet propulsion Laboratory.(2016), https://www.jpl.nasa.com
- What is a Space Walk. https://www.nasa.gov
- https://quran.miracles.com
- Zahra Ashfaq, Knocking Star From The Quran Discovered by NASA, (2023), https://www.theislamicfoundation.com
- Astrophysics Data System, (2006), BIB Code: 2006AAS20720907H
- American Heritage Dictionary, https://ahdictionary.com
- Encarta Dictionary.com

- Bab.la, https://en.bab.la
- COSMOS. The SAO Encyclopedia of Astronomy, (Stellar Evolution). Swinburne University, https://astronomy.swin.edu.au/cosmos/S/Star
- Astronomy Magazine. (2024), https://www.astronomy.com
- https://physics.stackexchange.com
- https://eventhorizontelescope.org
- AMS, American Meteor Society, http://asmmeteors.org/meteor.shower
- BBC News. Why do some people still think the Earth is flat? (2019), BBC.com, Retrieved from https://www.bbc.com/future/article/20190125-why-do-people-still-think-the-earth-is-flat
- Hossenfelder, Sabine. "Flat Earth 'Science' — Wrong, But Not Stupid." (2020), backreaction.blogspot.com/2020/08/flat-earth-science-wrong-but-not-stupid.html.
- W.S. Flat Earth. "Debunking Flat Earth

Misconceptions." FlatEarth.ws. (2025). Retrieved from https://www.flatearth.ws

- Ally, Shabir. "Is the Earth Flat or Globe According to the Quran?" Let the Quran Speak. (n.d.). Retrieved from https://www.letthequranspeak.com — also available on YouTube via the official Let the Quran Speak channel.
- Kaplan, Ilana. "Skepticism of Space Exploration." People's.com. (n.d.).
- Retrieved from https://www.peoples.com/skepticism-of-space-exploration
- Oregon State University. "Lessons on the Earth's Layers." Volcano World, (n.d).
- https://volcano.oregonstate.edu/earths-layers-lesson1
- Geological Society. "Mountain Roots: A Response by Dr. Ted Nield." Geological Society. (n.d.). Retrieved from https://www.geo.soc.org.uk
- Silfra: Silfra Fissure Between Continents. The Geology of Silfra." Dive.is. (n.d.). Retrieved from https://www.dive.is

- Benka, Stephen G. “Breathing Earth: Venting Cracks.” (2009), Physics Today. Retrieved from https://doi.org
- Koutsoyiannis, Demetris, and Mamassis, Nikos. From Mythology to Science: The Development of Scientific Hydrological Concepts in Greek Antiquity and Its Relevance to Modern Hydrology. Hydrology and Earth System Sciences, vol. 25, 2021, pp. 2419–2444. Copernicus Publications. https://doi.org/10.5194/hess-25-2419-2021
- Science Section, Library of Congress. “How Much Does a Cloud Weigh?” Everyday Mysteries: Fun Science Facts from the Library of Congress, 27 Oct. 2023, https://www.loc.gov/everyday-mysteries/meteorology-climatology/item/how-much-does-a-cloud-weigh/
- "Miracle of the Quran: Two Seas Between Them Is a Barrier." Nairaland.com, 23 Oct.2020. https://www.nairaland.com/6199047/miracle-qurantwo-seas-barrier?utm
- Al-Kaheel, Abduldaem. "The Darkness under Sea." Kaheel7.com,

https://kaheel7.com/eng/index.php/miracles-for-kids/254-the-darkness-under-sea?utm

- "The Tides." Encyclopedia of the Environment, May 1, 2025.

https://www.encyclopedie-environnement.org/en/water/the-tides-2/

- Wahid Asbab-Al-Nuzul.

https://www.altafsir.com/Books/Asbab%20Al-Nuzul%20by%20Al-Wahidi.pdf

- World Meter. Current World Population.

https://worldmeters.com

- Session, Claire. "What is the Average Percentage of Water in the Human Body?" Medical News Today, 27 May 2020, https://www.medicalnewstoday.com/articles/what-is-the-average-percentage-of-water-in-the-human-body

- Signal, Marvin D., and Larry G. Arlia. "Water Balance of Social Insect Formica exectoides. JSTOR, 1995.

https://www.jstor.org/stable/

- Steele, Bill. Before Chemicals may have combined in

Clay. 7 November 2013. Cornell University. https://news.cornell.edu

- NIH. National Institute of Health Science. https://www.nih.gov
- Scientific American. The art of lying. (2018). Retrieved from https://www.scientificamerican.com
- Talbot, Margaret. DUPED. (2005), The Newyorker. https://www.psychology.com
- Rain, Adrian. Prefrontal White Matter in Pathological Liars. (2005), The British Journal. Retrieved from https://pubmed.ncbi.nlm.nih.gov/16199789/
- Sutliff, Usha. Liar's Brain Wired Differently. (2005), USC Today. Retrieved from https://today.usc.edu/liars-brains-wired-differently/
- First Evidence Brain Abnormalities of found in Pathological Liars. (2005). Science Daily (USC). Retrieved from https://www.sciencedaily.com/releases/2005/10/051002115557.htm

- Harlow, J.M. Recovery from the Passage fo an Iron bar through the Head. Massachusetts Medical Society. Retrieved from https://resource.nlm.nih.gov/66210360R
- Chaudhary, Akram. The Holy Quran on Production of Milk.(2017) Retrieved from https://www.linkedin.com/pulse/106-holy-quran-production-milk-a-note-medical-series-chaudhary
- Holstein Foundation. Milking and Lactation Book. Retrieved from https://www.holsteinfoundation.org
- Talmudology. Sotah 45b Talmudic Embryology. (2015) Retrieved from https://www.talmudology.com/jeremybrownmdgmailcom/2015/12/7/talmudic-embryology
- The Quran Encyclopedia. Alaq Sahin. (2006) https://ia601601.us.archive.org/4/items/thequrananencyclopediaed.byoliverleaman_201909/The%20Quran%20-%20An%20encyclopedia%2C%20ed.%20by%20Oliver%20Leaman.pdf
- Rosli, Muhammad Naim and 5 others. The Emergence

of the Semen Between Backbone and Ribs (2023). USIM University. https://www.oarep.usim.edu

- Anatomy of Fetus in utero. John Hopkins Medicine. Retrieved from https://www.hopkinsmedicine.org/health/wellness-and-prevention/anatomy-fetus-in-utero#:~:text=Amniotic%20sac.,of%20the%20placenta%20(amnion).
- Timmons, Jessicas. When can a fetus hear?.(2018), Healthline. https://www.healthline.com
- Barrel, Amanda. What and When can a fetus hear?. (2019), Medical News Today https://www.medicalnewstoday.com/articles/324464
- Prete, Fredrick R. Can Female Rule the Hive? The controversy over Honeybees Gender Roles in British Beekeeping Texts of the 16th-18th centuries. Journal of the Histort of the Biology [JSTOR]. https://www.jstor.org/stable/4331160
- Oster, G.F and Wilson, E.O. Caste and Ecology in the

social insects. (1978), Springer.

https://link.springer.com/article/10.1007/BF00046355

- Franks, N.R. Army Ants: A Collective Intelligence. (1989), American Scientist. Harvard University. Retrieved from http://ui.adsabs.harvard.edu/abs/1989AmSci..77..138F/abstract
- J.I Friedman, H.W Kendall and R.E Taylor. Noble Prize Winners
- https://www.nobleprize.org/prizes/physics/1990/summary
- Particle Data Group – PDG. https://pdg.lbl.gov

**پښتو او فارسي اړوند:**


- رحماني، شريف. د اسلام اقتصادي نظام. (۱۳۹۴)، جميعت اصلاح
- بشار، محمد مفتي. قران او ساينسي څېړنې. (۱۳۹۷)، مستقبل، کابل.
- يحيی، هارون. د قرانکريم علمي اعجاز. (۱۳۹۲هـ.ل). مستقبل، کابل.
- فيض، خليل الله. قران و ساينس جديد از خلقت تا عدم کاينات. خاور
- رحماني، شريف. قران عظيم الشان او معاصر علوم. (۱۴۰۱هـ.ل)، سلام، جلال اباد.
- کمال روحاني. اعجاز علمي قران در عصر فضا ا تکنالوژي. (١٣٨٦). سامرند
- هاشمي، سيد هاشم. د اسلام د پيل مېرمنې. (۲۰۱۹)، دوستانو په مرسته.

**ضروري خبرتیا :** ملګرې که ته نوې کتابونه لرې او تر اوسه نوې سکن شوې ، نو سکن یې کړئ او موږ ته یې واستوئ ، ځکه دغه دومره سخت کارنده . یا هم لیکوال یاست په خپرولو کې موږ مرسته درسره کوو،ان شاء الله چې تاسو اجازه راکړئ موږ به یې نشرکړو که په هره ژبه او هره برخه کې وې ، تر څو موږ یې له نورو مسلمانانو سره شریک کړو او په ثواب کې سره شریک شو، موږ ته یې په دې لاندې نمبر په ټلیګرام

کې را واستوئ : +93789212634 📱

**یادونه :** داچې زموږ د کتابتون په نامه کاپې کتابتونونه جوړ شوې نو هېله ده زموږ چینل ددغه لاندني [ Join ] بټني له لارې جوین کړئ، لومړی له انټرنیټ سره وصل شئ ، بیا باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ که مود ټلیګرام اکونټ وې ډیر ښه که نوې نو جوړیې کړئ او ورسته په دغه بټنه کیکارئ او ورسته به تاسو زموږ چینل ته بوځې هغه Join کړئ او نور تاسو زموږ د کتابتون له کورنۍ سره یوځای یاست .!

JOIN

paktekawalAfghan